## معلوماتي پاڼې

# څرنګه له قربانیانو سره د مرستې په برخه کې خپلې دندې تر سره کړو؟

**د ماینونو د مخنیوي تړون یا د غونچه ییزو مهماتو د کنوانسیون پر بنسټ**



د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو د ژوند
د کیفیت د لوړولو لپاره بنسټیز اقدامونه

HANDICAP INTERNATIONAL

# له قربانیانو سره د مرستې په اړه معلوماتي پاڼې

HANDICAP INTERNATIONAL

## پیژندنه

د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو له قربانیانو سره مرسته د ماینو د مخنیوي تړون او د غونچه ییزو مهماتو د کنوانسیون د غړیو دولتونو یوه دنده ده. د کارتاجینا او وینتیان کاري پلانونه پرداسې خاصوژمنومشتمل دې چې په اړه  یې غړیو هیوادونو موافقه کړې ترڅو له قربانیانو سره د مرستې په تړاو، په ځانګړې توګه د قربانیانو د ژوند د کیفیت د لوړیدو په موخه، خپلې دندې په اغیزمنه توګه ترسره کړي. د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو په اړه د ملګرو ملتونو کنوانسیون د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیـــدونکو توکو د قربانیانو په ګډون د ټولو معلولیت لرونکو وګړو اړتیاؤ او حقوقو ته د رسیدنې لپاره یو هراړخیز چوکاټ رامنځ ته کړی دی. د معلولیت او پراختیا په اړوند سیمه ییزکـــاري چوکاټونه لکه *«په آسیا او اقیانوسیه سیمه کې د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د تحقق موندلو په اړه د اینچیون استراتیژي»* او *«د افریقا د معلولیت لرونکو وګړو لسیزه»* هم د دغه موضوع د اړوندو سندونو په کتار کې راځي.

### د دغو معلوماتي پاڼو موخې

له قربانیانو سره د مرستې په هکله دغه معلوماتي پاڼې د هندیکپ نړیوالې مؤسسې له خوا په دې باب د کره معلوماتو د وړاندې کولو لپاره د یوې وسیلې په توګه چمتو شوي دي **چې له قربانیانو سره مرسته څه شي ته وایي او څرنګه کولی شو هغه د بنسټیزو اقداماتو په قالب کې چې د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د قربانیانو او معلولیـــت لرونکووګړو د ژوند د کیفیت د لوړولو قابلیت ولري، پلي کړو.** ددغو معلوماتي پاڼو مخاطبین له ماینونو او جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو څخه زیـــانمن شـــوي دولتونـــه، مرستندویه هیوادونه، د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو ټولنې، مدني ټولنه او نړیوالې اداري دي.

### کړندود

دغه معلوماتي پاڼې د ټولنې د ټولنې په مرسته د بیارغونې په اړه د نړیوال روغتیایي سازمان د لاربنودونو، یوه سکتور یا هیواد ته د هندیکپ د نړیوالې مؤسسې د ځانګړو شویو خپرونـــو او د پرسونل ضد ماینونو د مخنیوي کنوانسیون د تطبیق د ملاتړې ادارې، د نړیوال سره صلیب کمیټې او نورو ارګانونو له خوا د خپرو شویو لیکنو په ګډون له قربانیانو سره د مرستې په اړه د موجودو انتشاراتو د کتنې پر بنسټ چمتو شوي دي. همدارنګه د هندیکپ د نړیوالې مؤسسې د فني سلاکارانو تخنیکي نظرونه هم ددغې مؤسسې د سیمه ییزو ډلو په مرسته تر لاسه شول. سربیره پر دې، د قربانیانوله ټولنو سره او له نورو هغو همکارو مؤسسو سره چې له ماینونو او دجګړې نه پاتې چاودیدونکومهماتو څخه په زیانمنو شویو هیوادونـــو کـــې فعالیت لري هم بحثونه وشول او نظرونه یې واخیستل شول. خو له دې سره سره د دغو معلوماتي پاڼو د منځپانګې مسؤولیت په بشپړه توګه د هندیکپ د نړیوالې مؤسسې پر غاړه دی او په حقیقت کې د دغې مؤسسې پالیسي او کړنې منعکسوي.

### معلوماتي پاڼو ته ټولکتنه

دغه ټولګه له ۱۲ معلوماتي پاڼو څخه جوړه ده چې شپږ پاڼې یې په یوه ځانګړي سکتور یا د عامه پالیسي په یوې برخې باندې چې له قربانیانو سره مرسته یې یوه مهمه برخه جـــوړوي، تمرکز لري؛ په داسې حال کې چې شپږ نورې پاڼې یې ګډو موضوع ګانو ته ځانګړې شوې دي. د بیلابیلو چوکاټونو تر منځ د متقابلو مثبتو اغیزو د زیاتیدلو لپاره هره معلوماتي پاڼه په روښانه توګه له پراختیایي سکتورونو او مسایلو سره تړل شوې ده. البته د دغې کړنلارې موخه له کاري تضاعف څخه مخنیوی، له قربانیانو سره د مرستې او د نورو پراختیایي هڅو تر منځ د تشو ډکول، د ورته نووښتونو تر منځ د اړیکو غبنتلتیا او په مؤثره توګه د سرچینو کارول دي. تردې مهمه خبر دا ده چې د ټولشموله پراختیا په اړه د سترو هڅو په چوکـــاټ کې له قربانیانو سره د مرستې مدغمول د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د قربانیانو او نورو معلولیت لرونکو وګړو د ژوند د کیفیت د لاپسې ډاډمنې لوړتیا لامل ګرځي، او دا هغه څه دي چې له قربانیانو سره د مرستې د فعالیتونو اصلي موخه جوړوي.

## # هغه دولس موضوع ګانې  چې په دغو معلوماتي پاڼو کې پرې بحث شوی په لاندې ډول دي:

| سکتوري برخې/ عامه پالیسي ګانې | ګډې موضوع ګانې |
|---|---|
| ۱. روغتیا پالنه | ۷. جندر |
| ۲. بیارغونه | ۸. پیاوړتیا |
| ۳. رواني او رواني – ټولنیز ملاتړ | ۹. لاسرسی اود خدماتوترلاسه کول |
| ۴. زده کړه | ۱۰. د معلوماتو راټولول |
| ۵. ټولنیز ګډون | ۱۱. ملي کاري پلانونه، همغږي |
| ۶. اقتصادي ګډون | ۱۲. نړیواله همکاري او مرستې |

## دغه معلوماتي پاڼې څرنګه وکاروو؟

دغه معلوماتي پاڼې داسې برابرې شوې دي چې د يوې ټولګې په بڼه او يا هم په جلا توګه کارول کيدای شي. هره معلوماتي پاڼه په لاندې برخو ويشل شوې ده: له قربانيانو سره د مرستې د سکتور يا د ګډو موضوع ګانو تعريف، حقوقي چوکاټونه او نړيواله پاليسي، اصلي اړوندې مرجع ګانې، په لړ عايد لرونکو هيوادونو کې عامې ننګونې، يوه بريالۍ پروژه، سپارښتنې، شاخصونه، د يوې پروژې يا پروګرام شرحه، او اخځونه.

د هرې معلوماتي پاڼې په شپږمه برخه کې د ماينونو د مخنيوي تړون او د غونچه ييزو مهماتو د کنوانسيون د غړيو هيوادونو لپاره ځينې سپارښتنې وړاندې شوې دي. **له ماينونو او له جګړې څخه د پاتې چاوديدونکو توکو څخه زيانمنو شويو هيوادونو** لپاره مثالونه وړاندې شوي دي ترڅو په ډاګه شي چې په ملي کچه له قربانيانو سره د مرستو د ودې ورکولو لپاره کوم کارونه ترسره کيدای شي؛ په داسې حال کې چې **مرستندويه هيوادونه هم په دې اړه معلومات ترلاسه کولی شي چې زيانمن شوي هيوادونه له قربانيانو سره د مرستې په ډګر** کې څه کارونه تر سره کوي او څه کارونه تر سره کولی شي او په ورته وخت کې له داسې مفکورو سره مخ کيږي چې د نړيوالو همکاريو له لارې د څه ډول پاليسي ګانو، پلانونو، پروګرامونو او پروژو ملاتړ کولی شي. سربيره پر هغې، دولسمه شميره معلوماتي پاڼه په ځانګړې توګه د نړيوالو همکاريو له لارې له قربانيانو سره د مرستې د فعاليتونو د ملاتړ پر څرنګوالي باندې متمرکزه ده.

په ډيرو دغو معلوماتي پاڼو کې شپږمه برخه چې سپارښتې رانغاړي او اوومه برخه چې له شاخصونو څخه عبارت ده په درې نورو فرعي برخو باندې ويشله شوي ده:

١. د ژوند کيفيت
٢. خدمتونو ته لاسرسی
٣. قوانين او پاليسي ګانې

معلومات څکه په دې توګه تنظيم شوي دي چې وښودل شي چې بيلابيل اقدامونه له دغو دريو برخو څخه پر يوې باندې يې مستقيمه اغيزه لري. په هر حال، د هنديکپ نړيواله مؤسسه په دې باور ده چې خدمتونو، قوانينو او پاليسيو ته د لاس رسي په برخو کې پرمختګونه مهم دي خو بالاخره بايد د قربانيانو او معلوليت لرونکو وګړو د ژوند په کيفيت باندې يوه مثبته، د اندازه کيدو وړ او تل پاتې اغيزه ولري.

## مهم مفهومونه

- **خدمتونو ته لاس رسی:**

هرکله چې خدمتونو ته د لاس رسي اصطلاح په دغو پاڼو کې کارول کيږي، د «لاس رسي» **ټکی لاندې شپږ معيارونه په ګوته کوي: شتون، لاس رسی، د منلو وړ، ارزانه نرخ، مسؤلانه ځواب وينه او غوره تخنيکي کيفيت** (نهمه شميره پاڼې: «لاس رسي» ته مراجعه وکړئ)

- **تبعيض نه کول**

د دغې اصطلاح معنا په دغو معلوماتي پاڼو کې په کره توګه داسې ده چې د قربانيانو پر ضد يا د هغوی تر منځ او يا د نورو معلوليت لرونکو وګړو ترمنځ د هر ډول تبعيض کارول منع دي. پکار ده چې له قربانيانو سره د مرستو هڅې نورو معلوليت لرونکو وګړو ته هم ګټه ورسوي، کټ مټ په هغه شان چې د معلوليت لرونکو وګړو او د هغوی کورنيو د حقونو د ترلاسه کولو هڅې بايد د قربانيانو او د هغوی د کورنيو حقونه هم راونغاړي.

- **ټولشموله پراختيا:**

له دې څخه ډاډ ترلاسه کول چې ټولې ګوښه شوې، زيانمنونکې او منزوي ډلې (لکه ډيری قربانيان او معلوليت لرونکي وګړي) له ټولو پراختيايي بهيرونو څخه برخمن شي، ور سره همکاري وکړي او معقوله او ګټوره ونډه پکې ولري.

- **قربانيان**

دا ټول هغه کسان دي چې د ماينونو او له جګړې څخه د پاتې چاوديدونکو توکو د شتون له امله يې ژوند له لاسه ورکړی او يا له ټپي توب، اقتصادي تاوان، له ټولنې څخه ګوښه کيدلو او يا خپلو حقوقو ته په جدي توګه د نه لاس رسي سره مخ شوي وي. دا اصطلاح په هغو کسانو باندې دلالت کوي چې په مستقيمه توګه د ماينونو/ له جګړې څخه د پاتې چاوديدونکو توکو له امله زيانمن شوي وي او هم دغه راز په زيانمنو شويو کورنيو او ټولنو باندې دلالت کوي. دوی په دغو معلوماتي پاڼو کې د "قربانيانو" په نوم ياد شوي دي.

- **معلوليت لرونکي وګړي**

د معلوليت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسيون د تعريف له مخې، معلوليت لرونکي وګړي هغه کسان دي چې اوږدمهالي فزيکي، دماغي، عقلي يا حسي ستونزې لري داسې چې دغه ستونزې له بيلابيلو خنډونو سره د مخ کيدو پر مهال کيدای شي په ټولنه کې له نورو سره په انډوليزه توګه د شخص د بشپړ او اغيزمن ګډون په وړاندې خنډ وګرځي.

- **دوه ګوني کړنلاره**

دغه اصطلاح هغې کړنلارې ته ويل کيږي چې ټولشموله پراختيا د دوه کړندودونو په کارولو سره ترويجوي کوم چې يو د بل بشپړوونکي دي او په يوه اندازه اهميت لري.

› د ځانګړو اقدامونو د پلي کولو له لارې چې د ماينونو/ له جګړې څخه د پاتې چاوديدونکو توکو د قربانيانو او معلوليت لرونکو وګړو د انفرادي او ټوليزې اړتيا د لوړيدلو لامل ګرځي. *(د پياوړتيا تر سرليک لاندې اتمې شميرې معلوماتي پاڼې ته مراجعه وکړئ)*

› د ټولو فزيکي، سلوکي او اړيکتيايي خنډونود له منځه وړلودلارې ، کوم چې د معلوليت لرونکو وګړو د ودې او پرمختګ مخه نيسي. *(د لاس رسي تر سرليک لاندې نهمې شميرې معلوماتي پاڼې ته مراجعه وکړئ.)*

**هيله من يو چې دغه معلوماتي پاڼې د لوستونکو لپاره ګټورې وي او هغوی دې ته راوبولي چې د هغو لارو چارو په هکله ډيره زده کړه وکړي چې کولای شي له قربانيانو سره د مرستې او ټولشموله پراختيا په برخه کې مرسته وکړي. د هنديکپ نړيواله مؤسسه به ستاسو د نظرونو او تبصرو ستړکې په لاره وي. د دغو موضوع ګانو په تړاو تفصيلي لارښوونې، تخنيکي اسناد، او غوره لارې چارې په ټولو دغو پاڼو کې راغلي دي.**

**ليکونکې:** واندا مونوز، له قربانيانو سره د مرستې او ټولشموله معيشت سلاکاره؛ د ايلکي هاتينتات، کاميلی ګاسلين، ماريون لايبرتوسی او هيروی برنارد په همکاری، د هنديکپ نړيواله مؤسسه.

د ۲۰۱۳ کال اګست مياشت کی چاپ شوی

# ۱

# له قربانیانو سره د مرستې سکتوري برخه: روغتیاپالنه

## پراختیايي سکتور: روغتیا

## روغتیاپالنه څه ده؟

**روغتیا پالنه** د **روغتیايي خدمتونو** یوه برخه ده. روغتیاپالنه د ناروغیو او اختلالونو د مخنیوي، **تشخیص، ارزونې او درملنې** په معنا ده.(۱) له قربانیانو سره د مرستې په برخه کې روغتیايي خدمتونو په بیړنۍ او پرلپسې روغتیاپالنې باندې تمرکز کړی دی. **د بیړنۍ روغتیاپالنې** موخه د روغتیايي لومړنیو مرستو، د وینې د ورکولو او نورو بیړنیو اقداماتو په شان د حادو صدمو پالنه ده چې د پیښې له رامنځ ته کیدو وروسته د شخص د مړینې یا دایمي معلولیت مخنیوی کوي. د پرلپسې روغتیاپالنې موخه د درد د کنترول په څیر د **اقداماتو له لارې د شخص د پوره شفاموندنې د بهیر ګړندي کول دي.**

**روغتیاپالنه** لومړنی ګام دی ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې یو شخص د یوې پیښې وروسته ژوندی پاتې شي او د امکان تر بریده د پیښې له امله د تل پاتې معلولیتونو خطر او کچه راټیټه شي. خو له دې سره سره روغتیاپالنه چې د یوې صدمې په غبرګون کې وړاندې کیږي د عمومي روغتیايي خدمتونو یواځې یوه کوچنۍ برخه جوړوي. قربانیان دې ته اړتیا لري او هم حق لري چې له مناسبې روغتیاپالنې څخه آن د لومړنۍ صدمې څخه د رغیدلو وروسته هم برخمن شي.

**د روغتیايي خدمتونو برخې په لاندې ډول دي:** (۲)

**د روغتیا وده:** د ټپونو له امله

- د رامنځ ته شوي تاوان د کمولو لپاره د ټولنیزو، اقتصادي او محیطي شرایطو د بدلولو په موخه د وګړو د مهارتونو پیاوړي کول.
- **مخنیوی:** لومړني (د ناروغۍ مخنیوی)، دویم (په لومړنیو پړاوونو کې تشخیص او درملنه) او دریم (بیارغونه) مخنیوی کوونکي اقدامونه.
- **روغتیاپالنه** (د بیړنیو او پرلپسې روغتیاپالنې په ګډون): د ناروغیو او اختلالونو تشخیص، ارزونه، جراحي او درملنه.

### د حقیقتونو لنډیز

- ★ هر کال په زرګونو تنه د ماینونو/ له جګړې پاتې چاودیدونکو توکو له امله، **تر یوه بریده مسلکي روغتیايي مرستو ته د لاسرسي د نه لرلو له امله**، له منځه ځي او یا هم معلول کیږي.
- ★ معلولیت لرونکي وګړي، د قربانیانو په ګډون، د نورو وګړو په پرتله **ډیرو لږو د روغتیاپالنې خدمتونو ته لاسرسی لري او د روغتیايي خدمتونو په برخه کې ډیر کړاوونه ګالي.**
- ★ معلولیت لرونکې ښځې او نجونې، د قربانیانو په ګډون، د نورو ښځو په پرتله **په لوړه کچه د جنسي ناوړه ګټه اخیستنې له ګواښ سره مخ دي** او د زیږدیزې روغتیا اړوندو معلوماتو ته لږ لاس رسی لري. **هغوی په پراخه کچه د ایدز ناروغۍ، ناغوښتلې امیندوارۍ او د زیږون پر مهال د مړینې له ګواښ سره مخ دي.**

## حقوقي او د پالیسۍ چوکاټونه

- **د غونچه ییزو مهماتو کنوانسیون:** پنځمه ماده
- **د وینتیان کاري پلان:** ۲۵ او ۲۸ شمیره اقدامونه
- **د کارتاجینا کاري پلان:** څلورمه برخه، ۱۲ فقره، ۳۱ شمیره اقدام
- **د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو کنوانسیون:** ۲۵ او ۲۶ مادې
- **زر کلنې پراختیايي موخې:** ۴، ۵ او ۶ شمیره موخې

## اصلي ښکیل لوري څوک دي؟

- د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو **ټولنې**
- **د خدمتونو وړاندې کوونکي:** روغتونونه، د روغتیايي بیړنیو ترانسپورتي خدمتونو په ګډون، د ټولنې روغتیايي مرکزونه
- **وزارتونه:** د روغتیا وزارت
- **نړیوالې اداري:** نړیوال روغتیايي سازمان

## په لږ عاید لرونکو هیوادونو کې عامې ننګونې کومې دي؟

- د روغتیاپالنې لپاره د بشري او مادي سرچینو محدودوالی یا نشتوالی (د لومړنیو مرستو او د وینې د ورکړې د مؤظفینو په ګډون) په **کلیوالي سیمو** کې چیرته چې ډیری قربانیان ژوند کوي.
- روغتیايي مرکزونو ته لیږدول اکثره ډیر وخت او پیسې غواړي: د واټن او د روغتیاپالنې د لګښت په شان خنډونه د خلکو لپاره **روغتیايي خدمتونو ته په منظمه توګه لاس رسی ستونزمنوي** په تیره بیا د ماشومانو لپاره کوم چې د ودې په بیلابیلو پړاوونو کې ورته اړتیا لري.
- لږ شمیر جراحانو **د بدن د غړیو د غوڅولو او د سترګو ژغورلو تخنیکونه زده کړي**، کوموته چې ډیری وختونه د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د چاودنې ټپیان اړتیا لري.
- ډیری وختونه د **درملنې لګښتونه** دومره لوړ وي چې بیوزله وګړي، لکه ډیری قربانیان، هغه ورکولی نشي.
- په جګړه ځپلو سیمو کې ناامني په سیمه کې **روغتیايي خدمتونه ستونزمن او یا هم آن ناشوني کوي.** معمولاً د ګرځنده ټیمونو او د دوره یي روغتیايي خدمتونو شمیر کم دی او یا هم اصلاً شتون نه لري.
- **د ښځینه روغتیايي کارکوونکو نشتوالی،** چې په ځینو ځانګړو ټولنو او فرهنګونو کې دغو خدمتونو ته د ښځینه قربانیانو لاسرسی ستونزمن کوي.
- د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو په برخه کې د روزل شویو کارکوونکو ناکافي شمیر او یا دا چې څرنګه ډاډ ترلاسه کولی شو چې **د بیلابیلو معلولیتونو لرونکي وګړي** د مخنیوي، ارتقا، روغتیايي مراقبت او نورو خدمتونو په هکله معلوما ترلاسه کولی شي؛ په همدې توګه د روغتیايي **خدمتونو په هکله معلومات په ندرت سره قربانیانو ته رسیږي.**

## روغتیا ته د لاسرسي په ډګر کې بریالۍ پروژې

**په افغانستان کې،** د روغتیا نړیوال سازمان د عامې روغتیا وزارت سره په حوزوي او ولایتي روغتونونو کې د جراحي او انستیزي د بیړنیو او بنسټیزو پروسیجرونو په اړوند د وړتیاؤ د لوړلو په برخه کې د بیړنیو او بنسټیزو خدمتونو د پروګرام په اړه د ګډ مدیریت له لارې همکاري وکړه.(۳)

**په کولمبیا کې،** د ټولنیزې خوندي ساتنې وزارت د سره صلیب د نړیوالې کمیټې په ملاتړ د بیړنیو روغتیايي مرستو په هکله یو تخنیکي لارښود جوړ کړ او له ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو څخه اغیزمن حوزوپورې اړوند د روغتونونو جراحان یې وروزل. د سره صلیب نړیوالې کمیټې او د کولمبیا سره صلیب په ۱۲ زیانمنو شویو زونونو کې د ټولنې پرمټ د لومړنیو مرستو روزنه ورکړه.(۴)

**په تایلنډ کې،** د بیړنیو روغتیايي خدمتونو سیستم له ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو څخه د اغیزمن شویو ۲۷ ولایتونو او کلیو په ګډون ټولو ولایتونو او کلیو ته وغزول شو. اوس په دغه هیواد کې د بیړني غبرګون د ډلو یوه شبکه جوړه شوې ده چې اړ کسان کولی شي په بیړنیو حالونو کې د بیړنیو حالتونو د ځانګړې ۲۴ ساعته شمیرې په دایرولو سره په ټول هیواد کې، د ځینو سرحدي او لیرې پرتو سیمو په استثنا، له دغو خدمتونو څخه برخمن شي.(۵)

## دولتونه کومې چارې ترسره کولی شي؟

**د ژوند د کیفیت د لوړولو په برخه کې:**

- د لومړنیو مرستو په اړه د **سیمې خلکو روزل** په هغو سیمو کې چې د ماینونو/ له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو له شتون څخه اغیزمنې دي.
- ډاډ تر لاسه کول چې د جراحي او نرسنګ د ټیمونو او هم د بیارغونې د کارپوهانو لــه خوا د قربانیانو او نورو ټپیانو **تعقیبي پالنه** کیږي.
- ډاډ تر لاسه کول چې معلولیت لرونکي وګړی د قربانیانو او د هغو د کورنیو په ګډون د جراحي عملیاتونو له ګټو او تاوانونو **څخه په ښه توګه خبر** او پر لګښتونو او د درملنې په موده یې پوه وي.
- د **روغتیايي ښوونو** او نورو معلوماتو د ورکولو له لارې د خلکو د مهارتونو لوړول ترڅو پر خپلې روغتیا باندې یې د کنټرول کچه لوړه شي.
- په ځانګړې توګه، ددې ډاډمنول چې معلولیت لرونکې نجونې او ښځې، د قربانیـــانو پــه ګډون، د معلولیت نه لرونکو نجونو او ښځو په شان **په انډولیزه توګه جنسي او زیږدیـــز روغتیایي خدمتونو** ته لاس رسی ولري.

**خدمتونو ته د لاس رسي د ودی ورکولو په برخه کې:**

- له دې څخه ډاډ ترلاسه کول چې روغتیايي مرکزونه په **بشپړه توګه په وسایلو او تجهیزاتو سمبال** وي او د **خوندي وینې او درملو کافي زیرمې** ولري.
- د **ترضیضونو(صدماتو) د جراحي عملیاتو او د درد د کنټرول** لپاره د کافي وړتیا د شتون ډاډمنول.
- د قربانیانو، معلولیت لرونکو وګړو او نورو اړو کسانو لپاره د **وړیا او یا هم د ارزانو او لاس رسي وړ** روغتیايي خدمتونو تضمینول.
- د روغتیايي کارکوونکو لپاره د **معلولیت د پوهاوي په اړه د روزنیزو پروګرامونو** جوړول.
- د **ښځینه روغتیايي کارکوونکو** له شتون څخه ډاډ تر لاسه کول.
- ټولو روغتیايي خدمتونو ته د معلولیت لرونکو وګړو په تیره بیا د ښځو او ماشومانو د لاس رسي د آسانه کولو په موخه د **راجع کولو د سیستمونو** رامنځ ته کول او ملاتړ.

**قوانینو او پالیسیو ته د ودې ورکولو په برخه کې:**

- پکار ده چې قوانین او پالیسي ګانې د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو له کنوانسیون سره اړخ ولګوي او د سیمې په کچه د پلي کیدو لپاره یې **اړوند پلانونه او بودجې طرحه** شي.
- ډاډ تر لاسه کول چی په اړوندو قوانینو او پالیسیو کې د روغتیا **د ارتقـــا، مخنیـــوی او روغتیا پالنې په څیر** موضوع ګانی شاملې دی.

## پرمختګونه څرنګه اندازه کولی شو؟

معلوماتي پاڼې ځینې داسې برخې په ګوته کوي چې دولتونه کولی شي پکښې بدلونونه راولي. خدمتونو ته د لاسرسي او د پالیسیو او قوانینو په برخه کې پرمختګونه باید داسې وي چې په پایله کې د ژوند پر کیفیت باندې مثبتې اغیزې ولري.

### د ژوند کیفیت:

* د هغو قربانیانو تناسب چې ژوندې پاتې کیږي. * له یوې پیښې څخه وروسته روغتیـــایي خدمتونو ته د لاسرسي د اړتیا وړ مودې کمیدل. * د معلولیت لرونکو وګـــړو شـــمیر، د قربانیانو په ګډون، چې روغتیايي خدمتونو ته د لاس رسي له کړندود سره آشـــنا دي. * د معلولیت لرونکو ښځو او نجونو شمیر، د قربانیانو په ګډون، چې روغتیايي خـــدمتونو تـــه لاسرسی لري، د هغو ښځو او نجونو په پرتله چې معلولیت نه لري. * د ښځو او نارینه ؤ تر منځ د مرګ ژوبلې د کچې د توپیر کمیدل.

### خدمتونو ته لاسرسی:

* د پیښو د لوړې کچې درلودونکو کلیوکی د هغو اوسیدونکو شمیر چې د لومړنیو مرستو زده کړه یې کړې ده. * په زیانمنو شویو سیمو کې د روزل شویو روغتیـــایي کـــارکوونکو شمیر. * د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو او اړتیاؤ په هکله د روغتیـــایي کـــارکوونکو د پوهې د کچې لوړیدل. * په زیانمنو شویو سیمو او د هغو په شاوخوا سیمو کې په جراحي او انستیزي څانګو کې د وړتیاؤ لوړیدل. * د هغو روغتیايي کړندودونو او پروګرامونو شـــمیر چې موخه یې معلولیت لرونکو سړیو، ښځو، نجونو او هلکانو سره مرسته وي.

### قوانین او پالیسي ګانې:

* د روغتیا اړوند قانون د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو له کنوانسیون ســـره اړخ ولګوي او د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د قربانیانو او نورو مصدومینو ځانګړې اړتیاوې پکښې په نظر کې نیول شـــوې وي. * د روغتیا د لوړولو، مخنیوي او روغتیاپالنې پالیسي ګانې د نورو وګړو په شـــان د معلولیت لرونکو وګړو د شمولیت لپاره ځانګړي تدابیر او بودجې ولري.

## نمونوي پروژه: د عراق په شمالي سیمو کې د روغتیايي مرستیالانو روزل(٦)



© Xavier Bourgois

د KORD مرکز، سلیمانیه، عراق، ۲۰۱۱

**پیژندل شوې ستونزې:** د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو ډیری قربانیان په کلیو کې ژوند کوي. دا په داسې حال کې ده چې ډیری ډاکتران او روغتیايي مرکزونه په ښارونو کې دي. په شمالي عراق کې قربانیانو ته له روغتون څخه د مخکې خدمتونو د وړاندې کولو وړتیا خورا لږ وه.

**موخه:** له روغتون څخه مخکې خدمتونو ته د لاس رسي لوړوالی د روغتیايي مرستیالانو د روزنې له لارې چې په خپل وار سره به د سیمې په کچه د لومړني غبرګون مؤظفین وروزي.

**کړنې:** **د لومړني غبرګون د مؤظفینو په توګه د ۶۰۰۰** عامو وګړو او د روغتیايي مرستیالانو په توګه د ۸۸ کســـانو روزل (۱۹۹۶ – ۲۰۰۴). ټول ناروغان د وخت د واټن د څارلو، تر سره شویو مرستو، له روغتون څخه د مخکې درملنې د اغیزو او د مرګ ژوبلې د کچې په نظر کې نیولو سره ثبت او راجستر شول.

**پایښت:** روغتیايي مرستیالان او د لومړنیو مرستو مؤظفین په اړوندو سیمو کې ژوند او کار کوي نو له همدې کبله دخدمتونو سرچینې د پروژې تر پای ته رسیدلو وروسته هم په سیمه کې پاتې کیږي. هغوي ټول د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د قربانیانو سره د مرســـتې لپاره د هراړخیزو شخصي تجربو خاوندان وو. د ۸ کلونو تر تیریدلو وروسته ۷۲ سلنه روغتیايي مرستیالان په پروګرام کې پاتې ول. دغه پروژه د سیمه ییزو روغتونونو او د سیمې د روغتیايي چارواکو په مرسته پلي شوه.

**مهم شاخصونه:** اته اتیا روغتیايي مرستیالان وروزل شول. دغو روغتیايي مرستیالانو په خپل وار سره ۶۰۰۰ عام وګړي د لـــومړني غبرګـــون د مؤظفینو په توګه په خپلو کلیو او شاوخوا کلیو کې وروزل ترڅو مصدومینو ته بنسټیز او د ژوند ژغورونکي خدمتونه وړاندې کړي. په دغې موده کې د ۲۳۴۹ ناروغانو درملنه وشوه چې له هغې ډلې څخه ۹۱۹ کسان یې له ماینونو او نورو نفوذي ټپونو او ۱۴۳۰ تنه یې له پخو صدمو اویـــا نورو روغتیايي بیړنیو حالتونو څخه زیانمن شوي وو. د قربانیانو د مړینې کچه له ۲۸.۷سلنې څخه ۹.۴ سلنې ته او د ټپي کیـــدو او د لومړنیـــو روغتیايي مرستو د رسیدلو تر منځ د وخت واټن له ۲.۴ ساعتونو څخه ۰.۶ ساعتونو ته راولویده. ډیری د مړینې پیښې د ټپي کیدو په سیمه کـــې وموندل شوې داسې چې قربانیان د مرستو د رسیدلو دمخه مړه شوي وو. له روغتون څخه د مخکې درملنې په اغیزو کې د پام وړ سمون راغی.

**موده:** دغه پایلې له ۱۹۹۹ کال څخه تر ۲۰۰۵ کال پورې اړه لري؛ پروژه تر اوسه هم دوام لري.

**پلي کوونکې مرجع:** د ترومسو د ماینونو د قربانیانو د سرچینو مرکز د عراق د ترضیضي روغتیاپالنې د بنسټ په همکاری.

**بسپنه ورکوونکې مرجع:** د ناروې د بهرنیو چارو وزارت

## اخځلیک:


[1] [2] WHO, UNICEF, ILO, IDDC. *CBR Health Guidelines*. 2010 | [3] [5] GICHD. *Assisting Landmine/ERW survivors in the context of disarmament, disability and development*. 2011 | [4] ICBL. *Landmine and Cluster Munition Monitor*. 2012 | [6] Wisborg, Murad, Edvardsen and Husum. *Prehospital Trauma System in a Low-Income Country*. The Journal of Trauma. May 2008; ICRC. *Care in the field for victims of weapons of war*. 2001 and *Caring for landmine victims*. 2005; Trauma Care Foundation. *Save Lives, Save Limbs*. 2000; Tromso Mine Victim Resource Center. *Annual Report*. 2011; WHO. *Prehospital Trauma Care Systems*. 2005


HANDICAP INTERNATIONAL

# له قربانیانو سره د مرستې سکتوري برخه: بیارغونه
## پراختیایي سکتور: بیارغونه

## بیارغونه څه ده؟

**بیارغونه** داسې بهیر ده چې قربانیان او نور معلولیت لرونکي وګړي ددې جوګه ګرځوي چې د فزیکي، حسي، دمــاغي او ټــولنیزو اوړتیاؤ مطلوبې کچې ته ورسیږي او هغه وساتي.

**بیارغونه** له قربانیانو او نورو معلولیت لرونکو وګړو سره د روغتیا او سلامتي لوړې کچې ته د رسیدو په برخه کې مرسته کوي ترڅو خپلواک ژوند او په ټولنه کې ګډون ولري.

**د بیارغونې برخې په لاندې ډول دي:**

- **د پروستیز او اورتوز(مصنوعي غړواوکمکي وسایلو) خدمتونه:** د مصنوعي غړو یا کمکي وسیلو تولید او برابرولو ته وایي چې شخص په دې توانوي چې بېرته په پښو ودګرځي او یا یې لاسونه په کار ولویږي. پروستیزونه (مصنوعي غړي) د بدن د یوه غړي پر ځای کارول کیږي او اورتوزونه (کمکي وسایل) د حس کولو او یا د خوځښت د دندو تر سره کول آســانه کوي. پروستیز او اورتوز د کمکي وسیلو له ډلې څخه دي، دا هغه ډله ده چې د ویلچرونـــو او واکرونـــو پـــه شـــان د خوځښت وسیلې هم پکښې شاملې دي.
- **فزیوتراپي:** د خوځښت او حس کولو د دندو د ودې او پراختیا او هم د درد د کنترول لپاره د لاسي تخنیکونو، تمرینونو او لومړنیو وسایلو کارولو ته ویل کیږي.
- **شغلي درملنه (اوکوپشنل تراپي):** دغه اصطلاح په انفرادي او ډله ییزه توګه د ورځني ژوند د هغو فعـــالیتونو ســـمون او کارولو ته اطلاقیږي چې په کور، ښوونځي، د کار ځای، د هستوګنې ځای، فرهنګي، سپورتي او تفریحي فعالیتونو کې د ګډون د کچې د لوړولو لپاره کارول کیږي. دغه درملنه د فزیکي، ادراکي، رواني – ټولنیزي او حسي اختلالونو د لـــه منځه تللو او کمیدلو لپاره کارول کیږي.
- **تکلمي درملنه (سپیچ تراپي):** د غږ، خبروکولو او ژبې اړوند ټولوهغوبینظمیویا ناروغیودرملنې ته ویل کیږي چې له دماغي یا د اوریدلوله اختلالونو سره اړه ونلري.

### د حقیقتونولنډیز

- د لږ عاید لرونکوپه ډیرو هیوادونو کې له ټولو هغو کسانو څخه چې کمکي وسیلو ته اړتیا لري یوازې **۵ تر ۱۵سلنه** یې ورته لاسرسی لري.[1]
- له هغو **۱۱۴** هیوادونو څخه چې په **۲۰۰۴** کـــال کـــې سروې شول، **۵۰ سلنه** یې د بیارغونې په اړه قوانین نـــه درلودل؛ په همدې توګه **۴۸**سلنه یې د کمکي وســـیلو پالیسي ګانې نه درلودې.[2]
- اټکل کیږي چې **۱۰۵ میلیونه وګړي**، چې د ځمکــې د نفوس **۱.۵**سلنه برخه جوړوي، **ویلچیر ته اړتیا لري.**[3]
- د خوځښت د وسیلو کارول د زده کړې او کار فرصتونه ډیروي او د روغتیا، ټولنیز ګډون او په ټولیزه توګــه د ژوند د کیفیت د لوړیدلو لامل ګرځي.[4]

### حقوقي او د پالیسیو چوکاټونه

- **د غونچه ییزو مهماتو د کنوانسیون** د پنځمې مادې لومړۍ او دویمه فقرهH،
- **د شپږمې مادې** لومړۍ او دوهمه فقره، د اوومې مادې لومړۍ فقرهK
- **د وینتیان کاري پلان:** ۲۵ او ۲۸ شمیره اقدامونه
- **د کارتاجینا کاري پلان:** څلورمه برخه، ۱۲ فقره، ۳۱ شمیره اقدام
- **د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو کنوانسیون:** ۲۰ او ۲۶ مادې

### اصلي ښکیل لوري څوک دي؟

د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو **ټولنه** | **د خدمتونو وړاندې کوونکي:** د نادولتي مؤسسو، نړیوالو نادولتي مؤسسو، د عامه خدمتونو د ادارو تر مدیریت لاندې د بیارغونې ټیمونه او نـــور اړونـــد ټیمونه | **وزارتونه:** روغتیا، ټولنیزو چارو، پوهنې اړوند وزارتونه | **د بیارغونې د کارپوهانو ملي مسلکي اداري** | **نړیوال مسلکي سازمانونه** لکه د پروستیز او اورتوز نړیواله ټولنه، د فزیوتراپۍ نړیوالـــ کنفدراسیون، او د شغلي درمل کوونکو نړیوال فدراسیون | **نړیوالې اداري:** د سره صلیب نړیواله اداره.

### په لږ عاید لرونکو هیوادونو کې عامې ننګونې کومې دي؟

- د روغتیاپالنې د سیستم او په تیره بیا **په کلیوالو او لیرې پرتـــو ســـیمو کـــې د بیارغونې د خدمتونو لپاره دمالي سرچینومحدودیت.**
- د بیارغونې د پراختیا، په تیره بیا د پروستیز او اورتوز د خدمتونو په برخه کې، د **ملي پلانونو نشتوالی** چې دواړه یې په هغه ډول چې بکار ده د روغتیایي خدمتونو په پروګرامونو کې ځای نه لري.
- د بیارغونې ځینې پروګرامونه کیدای شي یوازې **په فزیوتراپي او کمکي وســـیلو** اویا هم د وظیفوي محدودیتونو په ځانګړو ډولونو باندې (لیدل، خوځښـــت او نور) تمرکز ولري پرته له دې چې د بیارغونې له نورو خدمتونو ســـره اړیکـــه‌ولري.
- د بیارغونې په ډګر کې **د مسلکي کارکوونکو د شمیر لږوالی**، د ټولنې په کچه د سرچینو په اړه له لږ روزنې سره یا له روزنې پرته په تیره بیا له ماینونو او لـــه جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو څخه په اغیزمنو شویو سیمو کې.
- له رخصتیدلو وروسته د بیارغونې د خدمتونو د ترلاسه کوونکي **په سمه توګه نه تعقیبیدل.**
- **له طبي، ټولنیزو او رواني خدمتونو سره د لږ اړیکو لرل** یا د اړیکو نشتوالی.
- **بالقوه کاروونکي** په ټولو مواردو کې د بیارغونې د موجودو خدمتونو او هغو ته د لاس رسي د طریقې په اړه معلومات نه لري.
- **کاروونکي د بیارغونې د اصلي لګښتـــونو** او همدارنګـــه د ترانســـپورټ او د ماشومانو د ساتنې په شان د فرعي لګښتونو د ورکړې توان نه لري.
- **کاروونکي د خدمتونو د پلان جوړونې**، څارنې او ارزونې په بهیر کې ونډه نـــه‌لري.

## د بیارغونې په برخه کې بریالۍ پروژې

**په شمالي سودان کې،** د سره صلیب نړیوالې کمیټې د جندر، ماشوم او ټولنیزې هوساینې وزارت سره د جوبا د فزیکي بیارغونې د راجع کولو مرکز د اداري او مدیریت په برخــه کې، چې د هیواد په کچه د راجع کولو د مرکز په توګه دنده تر سره کوي، مرسته وکړه. د سره صلیب نړیوالې کمیټې د موجودو ننګونو د لیرې کولو لپاره لاندې فعالیتونه وکړل: ۱. د هغو کسانو چې دغه مرکز ته راجع کیږي **د ترانسپورټ او هستوګنې د لګښتونو** په ورکړه کې مرسته؛ ۲. د راجع کولو سیستم په رامنځ ته کولـــو کـــې همکـــاري؛ ۳. د **پوهاوي ورکولو له کمپاینونو څخه ملاتړ.** همدارنګه دغه مرکز ته یې پوځه توکي هم اهدا کړل ترڅو دواړ ترلاسه شي چې دغه مرکز د خدمتونو د وړاندې کولو لپـــاره لـــه اړینـــو امکاناتو څخه برخمن وي. په ۲۰۱۱ کال کې څه دپاسه ۱۴۴۰ کسانو د دغه مرکز لـــه راز راز خدمتونو څخه ګټه پورته کړه. همدارنګه د ســـره صـــلیب نړیـــوالې کمیټـــې د پیښنوسیموته مرستې ورسولې، څارنه یې وکړه او د پروستیز او اورتوز د کورسونو لپاره یې بورسونه هم برابر کړل اوله دغه وزارت سره یې د فزیکي بیارغونې د پلې کولو، همغږي کولو او د فعالیتونو د مدیریت اړوند وړتیا لوړولوپه برخه کې مرسته وکړه.[6]

**په موزمبیق** کې د هندیکپ نړیوالې مؤسسې د سره صلیب د نړیوالې کمیټې په مرســـته د اتیایمي زیږدیزې لسیزې په اوږدو کې د **بیارغونې ځینې مرکزونه** جوړ کړل. د هـــندیکپ نړیوالې مؤسسې **۱۵** کاله په پرلپسې توګه په بیلابیلو سیمو کې د فزیوتراپۍ او بیارغونې د مرکزونو، په تیره بیا د پروستیز او اورتوز مرکزونوپه جوړلوکې ملاتړکړی اوپایې تاســـ کړې او همدارنګه یې په مستقیمه توګه د خدمتونو د وړاندې کولو په ډګر کې فعالیـــت کړی دی. د هغو مراجعینو لپاره چې له لیرې پرتو سیمو څخه راتلل د ترانزیت مرکزونـــه جوړ شول او د ټولنې په مرسته د بیارغونې یو پروګرام رامنځ ته شو. د هندیکپ نړیـــوالې مؤسسې د بیارغونې د مسایلو په اړه د سازمان دننه د روزنیزو پروګرامونو په جوړولو کې مرسته وکړه. وروسته بیا د هندیکپ نړیوالې مؤسسې په هیواد کې د بیارغونې د سیستم پراختیا په موخه د پالیسیو د وضع کولو، د خدمتونو د وړاندې کوونکو د کاري وړتیاؤ د لوړولو او د بیارغونې د سکتور لپاره د سرچینو د ځانګړې کولو لپاره د وزارت په کچه د دادغوښتنې له لارې له ملي چاروکو سره خپله همکاري پیاوړې کړه.

# دولتونه کومې چارې ترسره کولی شي؟

**د ژوند د کیفیت د لوړولو په برخه کې:**

- د فزیکي، شغلي، کلامي درملنې او د پروستیز او اورتوز او د درد د کنترول په ګډون د بیـــارغونې **هغو خدمتونو ته د لاسرسي** آسانه کول چې ښايي یو قرباني یا نور معلولیت لرونکي وګړي ورته اړتیا ولري.
- د کاروونکو د **سن له نظره د کمکی وسیلو د ډیزاین، مقاومت او مناسب والي** په تړاو د نارینه ؤ، ښځو، نجونو او هلکاتو د ځانګړواړتیاوو په نظر کې نیول.
- د کمکی وسیلو په ګډون د بیارغونې خدمتونه باید د کاروونکو اړتیاوو تــه ځـــواب ووایـــي او د **چاپیریال له شرایطو سره اړخ ولګوي.**
- له دې څخه ډاډ ترلاسه کول چې ټول کاروونکي به تعقیبیږي او ورته به د بیارغونې خدمتونه کیږي، په تیره بیا ماشومان چې اړتیاوې یې ډیری د فزیکي ودې سره سم بدلون مومي.

**خدمتونو ته د لاس رسي د ودی ورکولو په برخه کې:**

- ډاډ ترلاسه کول چې **فزیوتراپي** له پیښې څخه وروسته ژر تر ژره میسره شي ترڅو له اختلاطاتو څخه مخنیوی وشي، قرباني شوی شخص بیارغونې ته چمتو شي او د کمکی وسیلو د کـــارولو جوګـــه وګرځي.
- د امکان په صورت کې، د داسې کمکی وسیلو برابرول چې **په هماغه سیمه کې او د هماغې سیمې د موادو** په کارولو سره جوړ شوي وي.
- **د بیارغونې په برخه کې د کافي مسلکي کسانو روزل** (فزیوتراپستان، د پروستیز او اورتـــوز فنـــي پرسونل، شغلي او تکلمي درملنه کوونکي) د نفوس د اړتیاو او د هغو د جغرافیایي موقعیـــت پـــر بنسټ.
- **د پروستیز او اورتوز د نړیوالو معیارونو (ISPO) په کارولو سره** د خدمتونو کیفیت او د هغـــو د وړاندې کوونکو له پوهې څخه ډاډ ترلاسه کول.
- **د کمکی وسیلو، د هغو د لاسرسي او کارولو** په اړه د قربانیانو او نورو معلولیت لرونکو وګړو او د هغو د کورنیو د پوهې د کچې لوړول.
- **د ټولنې په مرسته د بیارغونې د خدمتونو** رامنځ ته کول.

**قوانینو او پالیسیو ته د ودې ورکولو په برخه کې:**

- ډاډ ترلاسه کول چې بیارغونه **د قوانینو او پالیسیو یوه نه بیلیدونکې برخه** وي، د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو له کنوانسیون سره مطابقت ولري او معلولیت لرونکي وګړي د خپلواکۍ تر ټولـــو لوړې کچې ته، په قسمي توګه د د هغوی د اړتیاؤ او د قوت ټکو د څو اړخیزې ارزونې لـــه لارې، ورسیږي او هغه وساتي.
- ډاډ ترلاسه کول چې د کلیو او لیرې پرتو سیمو په ګډون په ټولو سیمو کې د پلي کولو لپاره یـــې کافي سرچینې ځانګړې شي.
- **د لوړ پوښښ لرونکې بیارغونې شبکې جوړول**، د راجع کولو د مرکز په ګډون، د ټولنې په کچه د پروستیز او اورتوز ورکشاپونه او ګرځنده ډلې.
- د بیارغونې د وارداتي توکو **د مالیاتو او ګمرکي محصول معاف کول.**
- په هغو مواردو کې چې نړیوالې ادارې د خدمتونو په وړاندې کولو کې ښـــکیلې وي، ډاډ ترلاســـه کول چې د هیواد چارواکي د پایښت د ډاډمنولو په موخه د **تخنیکي، بشري او مـــالي ســـرچینو** د پراخولو له لارې د مسؤولیتونو د پر غاړه اخیستلو لپاره یو روښانه پلان ولري.

## پرمختګونه څرنګه اندازه کولی شو؟

معلوماتي پاڼې ځینې داسې برخې په ګوته کوي چې دولتونه کولی شي پکښې بدلونونه راولي. خدمتونو ته د لاسرسي او د پالیسیو او قوانینو په برخه کې پرمختګونه بایـــد داسې وي چې په پایله کې د ژوند پر کیفیت باندې مثبتې اغیزې ولري.

**› د ژوند کیفیت:**

❋ د هغو کاروونکو شمیر چې له درملنې او کمکی وسایلو څخه برخمن کیـــږي. ❋ خدمتونو ته د اړتیا او هغو ته د لاس رسي تر منځ د وخت راکمیدل. ❋ د هغو کسانو شمیر چې د خپلې بیارغونې د پلان په جوړولو کې فعالـــه ونـــډه لـــري. ❋ د هغـــو کاروونکو شمیر چې د بیارغونې خدمتونو ته د لاسرسي وروسته د ټولنیز ګـــډون د کچې له لوړیدلو څخه رپوټ ورکوي. ❋ د هغو کسانو شمیر چې له خپلې کمکـــی وسیلې څخه د ترلاسه کولو له نیټې څخه تر یوه کاله وروسته هم استفاده کوي.

**› خدمتونو ته لاسرسی:**

❋ د بیارغونې د هغو خدمتونو زیاتوالی چې له ماینونو او له جګـــړې څخـــه د پـــاتې چاودیدونکو توکو څخه په زیانمنو شویو کلیو او لیرې پرتو سیمو کې وړاندې کیږي. ❋ دISPO د اعتبارپاڼې د ترلاسه کولو کچه. ❋ له کافي وسایلو سره د بیـــارغونې د خدمتونو سلنه. ❋ د وړیا یا ارزانه خدمتونو شمیر. ❋ د هغو کاروونکو شـــمیر چـــې روغتیايي، ټولنیزو یا نورو خدمتونو ته رجعت ورکول کیږي. ❋ د خدمتونو د هغـــو وړاندې کوونکو شمیر چې په منظمه توګه د کیفیت د معیارونو په اړه رپوټ ورکوي (اقتصادي توب، د کارکوونکو چلند او د وسایلو مناسب توب...) ❋ د ښـــځو پـــه ګډون د درمل کوونکو او فني کسانو شمیر چې په لومړنیو یا پرلپسې فني زده کـــړو کې ګډون کوي. ❋ د معلولیت لرونکو وګړو شمیر چې د بیارغونې د خدمتونو پـــه مرکزونو کې په دنده ګومارل کیږي.❋ د خدمتونو د کـــاروونکو لپـــاره د داســـې میکانیزمونو شتون چې خپلې غوښتنې مطرح کړای شي. دهغو خدمتونو د وړانـــدې کوونکو شمیرچې دخدماتوکاروونکي په پلان جوړونې، څـــارنې او ارزونـــې کـــې شریکوي.

**› قوانین او پالیسي ګانې:**

❋ بیارغونه د روغتیا مراقبت د قوانینو او پالیسیو مهمه برخه ده او بایـــدچې د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسیون له معیارونو ســـره سمون وخوري.
❋ د فزیکي بیارغونې لارښودونه شـــتون ولـــري. ❋ د پریکړو لپاره اړین معلومات په ورځنۍ توګه راټول شي.

## نمونوي پروژه: په البانیا کې درملنې او د بیارغونې خدمتونو ته لاسرسی



© Erika Pineros / Handicap International

په ټایلنډ کې د برمایانو پنډغالی، ۲۰۱۱

**پیژندل شوې ستونزې:** په دغه هیواد کې د بیارغونې خدمتونو په ښه توګه پراختیا نه وه موندلې؛ د بیارغونې د کارکوونکو لپاره هـــیڅ کومې روزنیزې ادارې شتون نه درلود.

**موخه:** دټولو لپاره د لوړ کیفیت لرونکو فزیوتراپي او بیارغونې خدمتونو ته په انډولیزه او پرلپسې توګه لاسرسي ته وده ورکول.

**فعالیتونه:** ۱. د بیارغونې د فني کارکوونکو روزنه او د وړتیاؤ لوړول. ۲. په یوې زیانمنې شوې سیمه (د کوکیس سیمه ییز روغتون) کې د بیارغونې د سیستم د رامنځ ته کیدو څخه ملاتړ. ۳. د بیارغونې د پالیسۍ په جوړولو کې مرسته.

**پایښت:** ۱. په ملي کچه د ښکیلو اړخونو له مالکیت څخه ډاډ ترلاسه کول: د روغتیا وزارت، د زده کړې ارګانونـــه، ســـیمه ییـــز خدمتونه. ۲. په سیمه کې د روزنیزو وړتیاؤ لوړول او د روزونکو روزل. ۳. د بیارغونې د ملي کاري پلان په جوړولو کې مرسته.

**مهم شاخصونه:** + د فزیوتراپي اوجسماني درملنې ملي کاري پلان او استراتیژي تصویب شوی دی. + ۷۰ تنه فزیوتراپستان له نـــوي پروګرام څخه د لیسانس په درجه فارغ شول. + اتلس ډاکترانو د جسماني درملنې او بیارغونې یو کلن کورس پای ته ورساوه. + شپږ ګډون کوونکو د پروستیز او اورتوز په روزنیز پروګرام کې ګډون وکړ. + ۳۹۹ کسان د پروستیز او اورتوز لـــه خـــدمتونو څخـــه برخمن شول. + یو سیمه ییز روغتون د بیارغونې یوه فعاله څانګه لري (فزیوتراپي، د پروستیز او اورتـــوز خدمتونـــه) + د معلولیـــت لرونکو وګړو ټولنې د هغوی د حقوقو په اړه د دادغوښتنې او د معلولیت د ملي کاري پلان په څارنه کې فعاله ونډه لري.

**ښکیل لوري:** د البانیا د ماین پاکۍ اداره، د روغتیا وزارت، د تیرانا د روغتیا پالانوپوهنځی، د بلجیم د فزیوتراپي دوه ښوونځي.

**موده:** د ۲۰۰۵ کال له وروستیو څخه تر ۲۰۱۰ کال پورې **| بسپنه ورکوونکې اداره:** نړیوال مالي صندوق **| پلي کوونکې مرجع:** د هندیکپ نړیواله مؤسسه


## اخځلیک:

(1) WHO, UNICEF, ILO, IDDC. *Community-based rehabilitation Health Guidelines.* 2010 | (2) WHO, USAID. *Joint position paper on the provision of mobility devices in less resourced settings.* 2011 | (3) (4) HI. *Policy brief: wheelchair mobility and positioning devices.* 2012; HI. *The sustainability analysis process: the case of physical rehabilitation.* 2012 | (5) ICBL-CMC. *Landmine and Cluster Munition Monitor.* 2012; ICRC. *Understanding the concept of physical rehabilitation.* 2009 | (6) ICRC. *Report of activities.* 2011; ISPO, LSN. *Prosthetics and Orthotics Program Guide: Implementing P&O in low-income settings.* 2006; Landmine Survivors Network. *Surviving Limb Loss.* 2000


HANDICAP INTERNATIONAL

# له قربانيانو سره د مرستې سکټوري برخه: رواني او رواني – ټولنيز ملاتړ
# پراختيايي سکتور: رواني روغتيا او رواني – ټولنيز ملاتړ

## رواني او رواني – ټولنيز ملاتړ څه دی؟

**رواني روغتيا او رواني – ټولنيز ملاتړ د رواني روغتيا د خدمتونو يوه برخه جوړوي**

رواني روغتيا د سلامتی او خوښی هغه حالت ته وايي چې وګړي خپلې وړتياوې درک کوي، د ژوند او کار له عادي فشارونو سره د مبارزې وړتيا لري او خپلې ټولنې ته ګټه رسوي.(۱) رواني روغتيا له شخصيتي ځانګړتياؤ لکه تطابق، خوشبيني، له ستونزو سره د مبارزې توان، په ژوند باندې کنترول درلودل او پرخپل ځان باور سره تړاو لري.(۲)

**د رواني روغتيا برخې په لاندې ډول دي:**

- **رواني ملاتړ:** د رواني او عقلي متخصصينو له خوا مشورې.
- **رواني – ټولنيز ملاتړ:** فرهنګي، سپورتي او تفريحي فعاليتونه چې موخه يې د شخص رواني روغتيا ته وده ورکول دي.
- **د همسيالانو له خوا ملاتړ:** د هغو کسانو له خوا ټولنيزاوعاطفي ملاتړچې له ورته ننګونو اوحالاتو سره مخ دي، د مخامخ ليدوکاتو يا د ټولنيز ملاتړ د ډلو له لارې.

د رواني روغتيا خدمتونه د هغو وګړو لپاره چې د ماين يا له جګړې څخه د پاتې چاوديدونکو توکو له چاودنې څخه ژوندي راوتلي دي، همدارنګه د قربانيانو د کورنيو لپاره او په يوه پراخ ليد کې ټولو زيانمنو شويو ټولنو ته ضروري دي. دقربانيانو سره د مرستې په اړه د **دغه ډول خدمتونو موخه دا ده** چې د هغو کسانو د رواني صدمو مخنيوی او ورته رسيده ګي وشي چې معلول کوونکي ټپونه يې اخيستي دي او د ماينونو او له جګړې څخه د پاتې چاوديدونکو توکود ټپونو له ګواښ سره مخ دي؛ او همدارنګه له پېښې وروسته د خفګان د اختلال په شان د دماغي اختلالونو مخنيوی او درملنه وشي. د رواني روغتيا د خدمتونو په ځانګه کې نه يوائې له خپله شخص سره په مستقيمه توګه بلکې له چاپيريال سره يې هم کار کيږي. د دغو خدمتونو له لارې داډ ترلاسه کيږي چې وګړي کولی شي چې له هغه چاپيريال سره چې پکښې ژوند کوي ځان عيار کړي.

### د حقيقتونولنډيز

- د قربانيانو له شبکو سره د اړوندو هيوادونو له خوا خورا کمې مرستې کيږي په داسې حال کې چې ډيری يې د رواني روغتيا د خدمتونو يوائځني وړاندې کوونکي دي چې په زيانمنو شويو سيمو کې يې د همسيالانو د ملاتړ په بڼه وړاندې کوي.(۳)
- سره له دې چې د قربانيانو رواني روغتيا د هغو په سلامتی کې ډير اهميت لري، ډيری پاليسيو او پروګرامونو دا موضوع له نظره غورځولې ده.
- د ټيټ عايد لرونکو هيوادونو کې يوائې ۱.۵۴ سلنه روغتيايي بودجه رواني روغتيا ته ځانګړې کيږي.(۴)

### حقوقي او د پاليسی چوکاټونه

- **د غونچه ييزو مهماتو کنوانسيون:** د پنځمې مادې لومړی او دويمه فقرهH،
- د شپږمې مادې اوومه فقره او د اوومې مادې لومړی فقرهK
- **د وينتيان کاري پلان:** ۲۵ او ۲۸ شميره اقدامونه
- **د کارتاجينا کاري پلان:** څلورمه برخه، ۱۲ فقره، ۳۱ شميره اقدام
- **د معلوليت لرونکو وګړو د حقوقو کنوانسيون:** ۱۹، ۲۵ او ۲٦ مادې

### اصلي ښکيل لوري څوک دي؟

- د قربانيانو او معلوليت لرونکو **وګړو ټولنې** | **د خدمتونو وړاندې کوونکي:** روغتيايي مرکزونه، د همسيالانو له خوا د ملاتړ ډلې... | **وزارتونه:** د روغتيا، ټولنيزو چارو اړوند وزارتونه | **نړيوالي اداري:** نړيوال روغتيايي سازمان، د رواني روغتيا او په بيړنيو حالتونو کې د رواني ملاتړ د ادارو ګډه کميټه.

## په لړ عايد لرونکو هيوادونو کې عامې ننګونې کومې دي؟

- رواني روغتيا د رواني – ټولنيز ملاتړ په ګډون، د نورو روغتيايي ستونزو په منځ کې عموماً يو لومړيتوب نه ګڼل کيږي.
- په زيانمنو شويو هيوادونو کې په رواني او عقلي ځانګو کې د مسلکي کارکوونکو شمير محدود دی، ځکه چې په دغو هيوادونو کې يادې سرچينې ډيری په لويو ښارونو کې متمرکزې دي.
- د هيواد په کچه په پراخو مخنيوی کوونکو کړنو کې د رواني روغتيا د شاملولو لپاره لږ هڅې کيږي.
- له قربانيانو سره د مرستو په ډګر کې د نړيوالو همکاريو هڅې د رواني روغتيا له پروګرامونو څخه پر ملاتړ باندې کافي ټينګار نه کوي.
- د عقلي اختلالونو درلودونکي وګړي او کورنی يې عموماً په کافي اندازه سمبال شوي ندي ترڅو د مناسبو روغتيايي خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره په اغيزمنه توګه دادغوښتنه وکړي.
- په بنسټيزو روغتيايي خدمتونو کې د رواني روغتيا د خدمتونو شاملول ستونزمنه خبره ده ځکه چې د بنسټيزو روغتيايي خدمتونو وړاندې کوونکې مراجع له پخوا څخه له اندازې ډير کاري حجم سره مخ دي.
- د رواني روغتيا متخصصين او د همسيالانو له خوا د ملاتړ ډلې ډيری له نارينه ؤ څخه جوړې دي، چې له دې امله دغو خدمتونو ته د ښځو لاسرسی له ستونزو سره مخ کيږي. په عمومي کچه د ماشومانو لپاره د رواني روغتيا خدمتونه شتون نه لري.

## د رواني روغتيا او رواني – ټولنيز ملاتړ په برخه کې بريالی پروژې

**په تاجکستان کې،** د کار او د وګړو د ټولنيزې خوندي ساتنې وزارت د رواني ملاتړ او د هسيالانو له خوا د ملاتړ د کچې د لوړيدلو په موخه د سيمه ييزو همکاريو مشري وکړه. د رواني – ټولنيزې بيارغونې دوه سيمه ييز کنفرانسونه په دوشنبه ښار کې د تاجکستان د ماين پاکی مرکز اودملګروملتونو د افغانستان د معلولينو د ملاتړ د پروګرام په همکاری جوړ شو. همدارنګه د تاجکستان د قربانيانو د ټولنې غړيو د هسيالانو له خوا د ملاتړ په باب په يوه ورکشاپ کې چې د يوې اونی لپاره په کابل کې د ماينونو د قربانيانو د افغاني ټولنې له خوا جوړ شوی وو، ګډون وکړ. د تاجکستان د ماين پاکی مرکز او د ملګرو ملتونو د سازمان پراختيايي پروګرام دهغو دوه نادولتي نووتاسيس شوو مؤسسوسره مرسته وکړه چې په دوشنبه او خجند کې د ماينونو د قربانيانو له خوا يې کارونه پرمخ بيول کيږي او د هسيالانو له خوا د ملاتړ په برخه کې کار کوي.(۵)

**په يوګاندا کې،** د جندر، کار او ټولنيزې پراختيا وزارت «د ماينونو او له جګړې څخه د پاتې چاوديدونکو توکو د قربانيانو لپاره رواني – ټولنيز ملاتړ: د سيمې د پراختيايي کارکوونکو لپاره لارښود» تر سرليک لاندې يو لارښود تأليف کړ. دغه لارښود د سيمې د پراختيايي کارکوونکو او په زيانمنو ټولنو کې د بيارغونې د مسؤولينو د روزلو لپاره کارول کيږي.(٦)

## دولتونه کومې چارې ترسره کولی شي؟

**د ژوند د کيفيت د لوړولو په برخه کې:**

- د انفرادي رواني درملنې په اړه معلومات وړاندې کول، په بيلابيلو برخو کې د ګرځنده ډلو جوړول، د درملنې د خبرواترو ډلې، د همسيالانو له خوا ملاتـړ او د فرهنګـي، سپورتي او تفريحي درملنې فعاليتونه چې په زيانمنو شويو سيمو کې د قربانيانو په رواني روغتيا باندې **مثبته اغيزه** لري.
- **د شخصي درملنې د يوه پلان** جوړول د قربانيانو او معلوليت لرونکو وګړو په مرسته چې د هر شخص د ځانګړو اړتياوو او تمو ځواب ويونکی وي.

**خدمتونو ته د لاس رسي د ودی ورکولو په برخه کې:**

- نويو او موجودو **سيمه ييزو ټولنو ته** د تخنيکي، مالي او اداري مرستې برابرول چې د رواني روغتيا خدمتونه وړاندې کوي، په تيره بيا د همسيالانو له خواملاتړ. دغه ډول ملاتړ ډيری وختونه د نړدې خدمتونو تر ټولو اغيزمن ډول ده چې په کليوالي او لېرې پرتو سيمو کې قربانيان او معلوليت لرونکي وګړي ورته لاسرسی لري.
- د ځايي او ټولنيزو کارکوونکو، رواني — ټولنيزو سلاکارانو او نورو وګړو روزل، ملاتړ او څارنه د هغوی د کړنو د سمون په موخه، **کوم چې رواني خدمتونه وړاندې کوي.**
- **د راجع کولو د سيستمونو جوړول** يا پياوړي کول ترڅو د رواني روغتيا د ستونزو لرونکي وګړي اړوندو خدمتونو ته راجع کړای شي.
- **د بحثونو او همکاريو د رامنځ ته کولو لپاره هڅول** چې رواني او عقلي متخصصين، ټولنيز کارکوونکي، معلوليت لرونکي وګړي، قربانيان او د هغوی کورنۍ پکښې ګډون وکړي ترڅو د هغو ننګونو په اړه چې قربانيان ورسره مخ دي ځانګړې تجربې سره شريکې کړي.
- **د رواني روغتيا د کارکوونکو د يوې ملي ټولنې** له جوړېدو څخه ملاتړ.

**قوانينو او پاليسيو ته د ودې ورکولو په برخه کې:**

- د معلوليت لرونکو وګړو د حقوقو له کنوانسيون سره سم، چارواکي د داسې **پاليسيو په وضع کولو مکلف دي چې د عقلي او رواني** ستونزو لرونکو وګړو رواني بشپړتيا ته درناوی د عامه خدمتونو په ټولو سکتورونو کې يقيني کړي.
- د عامې روغتيا **هره پاليسي بايد د رواني روغتيا** په هکله يوه ځانګړې برخه ولري چې مخنيوی، پالنه او تعقيب او پيګيري راونغاړي او له رواني ناروغيو سره د تړلي بد نوم د له منځه وړلو لپاره ځانګړي اقدامونه پکښې ذکر شوي وي.
- پکار ده چې پاليسي ګانې **د ناروغانو او د هغوی د کورنيو ونډه** په روغتيايي نظام کې د ښکيلو اړخونو په توګه، د روغتيايي کارکوونکو د ونډې ترڅنګ، غښتلي کړي.

## پرمختګونه څرنګه اندازه کولی شو؟

معلوماتي پانې ځينې داسی برخې په ګوته کوي چې دولتونه کولی شي پکښې بدلونونه راولي. خدمتونو ته د لاسرسي او د پاليسيو او قوانينو په برخه کې پرمختګونه بايد داسې وي چې په پايله کې د ژوند پر کيفيت باندې مثبتې اغيزې ولري.

**د ژوند کيفيت:**

❋ د رواني روغتيا د خدمتونو مرکزونو ته د هغو قربانيانو او معلوليت لرونکو وګړو پخپله ورتګ چې له رواني فشارونو يا عقلي اختلالونو سره مخ دي. ❋ د عقلي اختلالونو او رواني فشارونو د شيوع کميدل. ❋ په هغو فرهنګی، سپورتي او تفريحي فعاليتونو کې د قربانيانو او د معلوليت لرونکو وګړو د ګډون د کچې ډيريدل چې ورته مهم دي.

**خدمتونو ته لاس رسی:**

❋ مخنيوی کوونکو خدمتونو، معاينو او د رواني روغتيا خدمتونو ته د هغو کسانو د لاسرسي لوړول چې له رواني فشارونو اويا له عقلي اختلالونو څخه اغيزمن دي. ❋ د هغو روغتيايي او ټولنيزو نهادونو او ځايي ټولنو په شمير کې زياتوالی چې د قربانيانو او معلوليت لرونکو وګړو د درملنې دوام يقيني کوي کوم چې په عقلي يا رواني اختلالونو اخته وي. ❋ په هر ۱۰۰۰۰۰ کورنيو باندې د رواني روغتيا د متخصصينو د شمير ډيريدل. ❋ د رواني روغتيا د هغو کارکوونکو د شمير زياتوالی چې کلي او ليرې پرتې سيمې تر پوښښ لاندې راولي. ❋ په راز راز سيمو کې د هسيالانو د ډلو په شمير کې زياتوالی. ❋ په سيمه کې د رواني روغتيا د کارکوونکو د شمير زياتوالی. ❋ د هغو قربانيانو او معلوليت لرونکو وګړو د شمير زياتوالی چې د همسيالانو له خوا د ملاتړ په اړه روزل شوي دي.

**قوانين او پاليسي ګانې:**

د ټولو هغو قوانينو او پاليسيو ملغی کول چې د دماغي معلوليت لرونکو وګړو پر وړاندې تبعيض کوي. ❋ د هيواد د رواني روغتيا د مديريتي سيستم د څارنې او ارزونې د وسيلو په شمير کې زياتوالی. ❋ د رواني روغتيا د ملي پاليسي موجوديت، د رواني روغتيا د ملي پلان، اړوندو قوانينو، تطبيقي فرمانونو او بودجو شتون د معلوليت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسيون په رڼا کې.

## نمونوي پروژه: په السلوادور کې د همسيالانو له خوا ملاتړ(۷)


په السلوادور کې د همسيالانو له خوا ملاتړ

© Jesus Martinez

**پيژندل شوې ستونزې:** له ټولنې څخه د معلوليت لرونکو وګړو، د وسله والو جګړو د قربانيانو په ګډون، او د هغو د کورنيو ګوښه کيدل او شديده بيوزلي.

**د پروګرام پلی کوونکی «سره مؤسسه»:** ۱. **روغتيا ته لاسرسی: د رواني روغتيا وده** (پرځان باور او ځاني مديريت)، بيارغونه (د خوځښت وسيلې)، او مخنيوی (تغذي، له ساري ناروغيو څخه مخنيوی). ۲. **د کارموندنې په برخه کې مرسته:** د کار په اړه روزنه او لومړنۍ پانګه. ۳. **د ټولنيزې پياوړتيا وده:** د معلوليت او بشري حقوقو، مشري، دادغوښتنې او حقوقي چوکاټونو؛ د ټولنې پر بنسټ ولاړو ادارو غښتلتيا او په ملي کچه د پوهې د کچې لوړول.

**کړنې:** **د همسيالانو له خوا ملاتړ:** يو معلوليت لرونکی شخص بل معلوليت لرونکي شخص سره د خپلې ورته شخصي پوهې، وړتيا او تجربې پر بنسټ مرسته کوي. سره مؤسسه د معلولو کارکوونکو يوه ځايي ډله لري چې له نورو معلوليت لرونکو وګړو څخه ليدنه کـوي ترڅـو اړتياوې يې ومومي او يو شخصي پلان د هغوی د لومړيتوبونو، وړتياؤ او چاپيريال سره سم طرحه کوي. سره مؤسسه وايي چې سره لــه دې چې د همسيالانو له خوا ملاتړ د رواني روغتيا په لوړيدو کې مرستندويه واقع کيږي خو بايد د مسلکي رواني مرستو ځای ناستې ونه بلل شي.

**پايښت:** د همسيالانو له خوا ملاتړ د رواني او رواني — ټولنيز وضعيت په سمون کې خورا بريالی ثابت شوی دی؛ څرنګه چې پايښت تــه د لاندې دريو لارو څخه وده ورکوي: ۱. **خپله معلوليت لرونکي وګړي روزل کيږي** او د خپلې پوهې او وړتياؤ کچه لوړوي او هغه له خپلـو **نورو همسيالانو سره شريکوي.** ۲. معلوليت لرونکي وګړي کولی شي **د هسيالانو له خوا ملاتړ څخه د پرځان باور او رواني هوساينې** لپاره او هم په يوه **ځانګړي سکتور** کې (لکه کارموندنه يا روغتيا) د ملاتړ او همکارۍ د يوې طريقې په توګه کار واخلــي. ۳. **تـوليزه پياوړتيـا** د معلوليت لرونکو وګړو د ځايي مؤسسو له خوا چې د دادغوښتنې او پوهاوي ورکولو په ډګرونو کې کار کوي، غښتلې کيږي.

**مهم شاخصونه:** د همسيالانو له خوا د روغتيا، بشري حقوقو او د سوداګرۍ د مديريت په اړه په کال کــې د ۷۰۰ وګــړو روزل؛ ۱۰۰ معلوليت لرونکي وګړي د ځان د بوختيا د پروژو د پيلولو په اړه ملاتړ ترلاسه کړي. په ۲۰۱۲ کال کې ۱۶۰ تنه د خوځښت وسـيلې تـر لاسه کړې. دغه شاخصونه د معلوليت لرونکو وګړو (د قربانيانو په ګډون) اړوند شاخصونه دي خو په ټوليزه توګه ډير شمير خلک ورڅخه برخمن کيږي، د بيلګې په توګه د کورنۍ غړي.

**بسپنه ورکوونکې مرجع ګانې:** ناروې حکومت، بين الامريکايي بنسټونه، پرووېکتيميس بنسټ.

### اخځليک:


(1) WHO. *Investing in Mental Health.* 2003 | (2) (4) HI. *Mental Health Policy Paper.* 2012 | (3) (5) ICBL-CMC. *Landmine and Cluster Munition Monitor.* 2012
(6) GICHD. *Assisting Landmine and ERW survivors in the context of disarmament, disability and development.* 2011 | (7) Fundación Red de Sobrevivientes y Personas con Discapacidad. *Emails from Jesús Martínez, Director.* April 2013; IFRC, Reference Center for Psychosocial support. *Psychosocial interventions: A handbook.* 2009; WHO, UNICEF, ILO, IDDC. *Community-based rehabilitation Health Guidelines.* 2010


HANDICAP INTERNATIONAL

# له قربانیانو سره د مرستې سکتوري برخه: زده کړه
# پراختیایي سکتور: زده کړه د ټولو لپاره

## زده کړه څه ده؟

**د زده کړې موخه** دا ډاډ ترلاسه کول دي چې ټول وګړي وکړای شي هر هغه څه چې ورته اړتیا لري او غوښتنه یې لري د ژوندانه په اوږدو کې یې زده کړي. **ټولشموله زده کړه د ښوونې او روزنې په بهیر کې د ګډون د لوړېدلو یو بهیر دی چې په اغیزمنه توګه د** نجونو، هلکانو او زیانمنونکو وګړو (لکه قربانیان او معلولیت لرونکي ماشومان) په ګډون د ټولو زده کوونکو د اړتیاؤ ځواب وایي. **ټولشموله زده کړه** په خپل ذات کې یو حق دی او په ورته وخت کې د نورو حقوقو د تحقق لپاره هم لاره هواروي (لکه روغتیاپالنې، کار او سیاسي ګډون ته لاس رسی). زده کړه د وګړو او د هغو د کورنیو او ټولنو په هوساینې او سوکالۍ کې مرسته کوي.

**د زده کړې برخې په لاندې ډول دي: (۱)**

- **ښوونه او روزنه د ماشومتوب په لومړنیو پړاوونو کې:** د روغتیا، تغذي او حفظ الصحې په ګډون په بقا او ودې باندې تمرکز لري (۳ تر ۶ کلنۍ پورې)
- **لومړنۍ زده کړې:** د ښوونځي لومړنی پړاو، پکار ده چې وړیا وي او په ټولو جبري وي (۶ تر ۱۲ کلنۍ پورې)
- **منځنۍ او عالي زده کړې:** د اجبار له کچې هاخوا، د سوکاله او هوسا ژوندانه په لور یوه دریځه (۱۵ تر ۲۴ کلنۍ پورې)
- **غیر رسمي زده کړې:** په ټولنه کې بیلابیل روزنیز نوښتونه لکه په کور کې زده کړه او د ټولنې په مشرۍ نوښتونه.
- **د ټول عمر په اوږدو کې زده کړې:** په ټول عمر کې دوام لري او د کارموندنې لپاره په اړینې پوهې او مهارتونو باندې تمرکز لري.

### د حقیقتونو لنډیز

- ★ **د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو ۴۲ سلنه ماشومان دي.** [۲]
- ★ د جګړې په شرایطو کې، کیدای شي هلکان د سرتیرو په توګه وګومارل شي او هغوی له ښوونځي څخه لیرې پاتې شي. لږ تر لږه ۵ سلنه دغه هلکان په **اختلالونو** اخته کیږي او د جګړې له پای ته رسیدلو وروسته د ابتدایه ښوونځي د بیرته پیل کولو لپاره یې سن ډیر لوړ شوی وي. [۳]
- ★ په ټوله نړۍ کې کابو ۷۲ میلیونه ماشومان ښوونځي ته له تللو څخه بې برخې دي، چې دریيمه برخه یې معلولیت لرونکي ماشومان دي. [۴]
- ★ د یوې کورنۍ د بیوزلۍ کچه ډیری وختونه ښوونځي ته د هغې د کوچنیانو پر تللو باندې اغیزه لري. په بیوزله یا زیانمو شویو کورنیو کې نجونې **معمولاً لومړي هغه ماشومان دي چې ښوونځي ته د تګ چانس له لاسه ورکوي.**

### حقوقي او د پالیسي چوکاټونه

- **د غونچه ییزو مهماتو کنوانسیون** په ضمني توګه د ټولنیز او اقتصادي ګډون په برخو باندې ټینګار لري.
- **د وینتیان کاري پلان:** ۲۳ او ۲۸ شمیره اقدامونه
- **د کارتاجینا کاري پلان:** څلورمه برخه، ۱۲ فقره، ۳۱ شمیره اقدام
- **د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو کنوانسیون:** ۲۴ او ۲۶مادې
- **د ماشوم د حقوقو کنوانسیون:** ۲۸ ماده
- **زرکلنې پراختیایي موخې:** دویمه شمیره موخه
- **یونیسکو**، د ټولو لپاره د زده کړې موخې

### اصلي ښکیل لوري څوک دي؟

د قربانیانو، د معلولیت لرونکو وګړو او معلولیت لرونکو ماشومانو **ټولنې**،معلولیت لرونکی وګړي، د والدینو، زده کوونکو او ښوونکو ټولنې | **د خدمتونو وړاندې کوونکي:** عادي او ځانګړي ښوونځي، د رسمي او غیر رسمي زده کړو نهادونه، د ښوونکو ټولنې، دارالمعلمینونه | **وزارتونه:** د معارف، روغتیا، ټولنیزو چارو اړوند وزارتونه | **نړیوال سازمانونه:** یونیسکو، یونیسف.

### په لږ عاید لرونکو هیوادونو کې عامې ننګونې کومې دي؟

- **ښوونځي ته د معلولیت لرونکو ماشومانو د تګ په ګټو باندې د کورنیو نه پوهیدل**، تر یوه بریده د کورنۍ او ټولنې له خوا د ملاتړ د نشتوالي له امله.
- د ټولشموله زده کړو د ودې لپاره **د ځانګړي قانون نشتوالی** او د داسې قوانینو نشتوالی چې ښوونځي ته د معلولیت لرونکو ماشومانو تګ جبري کړي.
- **په ټولیزه توګه د ټولنې په کچه د زده کړې د استراتیژي نشتوالی**، او د زده کړو د راز راز ډولونو تر منځ لږ اړیکې او یا هم د اړیکو نشتوالی.
- **د نجونو او نورو منزوي ډلو بیلګولکه ماشومان قربانیان او نور معلولیت لرونکي ماشومانوپه وړاندې منفي نظریات** چې زده کړې ته د هغوي لاس رسی لا هم پسې محدودوي.
- **د ښوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو نشتوالی اویا هم د دغه ډول پروګرامونو د کیفیت ټیټوالی** – چې په پایله کې یې هغوی په دې اړه چې څرنګه ډاډ ترلاسه کیدای شي چې ماشومان خپل درسونه تعقیب کړي او په ښوونځي او ټولنیز ژوند کې شامل شي ښایي یواځې په لږ اندازه روزل شوي وي او تجربه اصلاً ونه لري.
- **د مناسبو درسي توکو** او نورو تجهیزاتو نشتوالی.
- **ددغې مفکورې مسلط والی چې «نه زده کول» د ماشوم ګناه ده، ددې پر ځای چې د** ښوونې په سیستم کې د یوې ستونزې په توګه وګڼل شي.
- په ښوونځیو کې **د حفظ الصحې، خوندیتوب او تشناب ته د لاسرسي** د امکاناتو نشتوالی ددې لامل ګرځي چې یوشمیر ماشومان په تیره بیا معلولیت لرونکې نجونې ښوونځیو ته لاړې نشي.

## د ټولشموله زده کړو په برخه کې بریالۍ پروژې

**په السلوادور** کې د ټولنې پر بنسټ د بیارغونې کارکوونکو د لوبو په ګډون د **"زده کوونکي– محوره کړندود"** په کارولو سره له معلولیت لرونکو ماشومانو سره کار وکړ. له یوه کاله وروسته ښوونکو قناعت وکړ چې که چیرې د ټولشموله زده کړو طریقې کارول شوې وای، ددغو ماشومانو مدغم کول شوني وو. د ټولنې پر بنسټ د بیارغونې پروګرام په یوې ځانګړې ولسوالۍ کې دغو ښوونکو ته **روزنیز پروګرام** جوړ کړ او یوه ګرځنده ښوونکي ته یې معاش وټاکه چې په کاري سیمو کې د اړتیا وړ مرستې وکړي. دغه ښوونځي په السلوادور کې د ټولشموله زده کړو لومړنی سیستم را منځ ته کړ؛ د ښوونې وزارت د روزنیز پروګرام لګښت او د درې ګرځنده ښوونکو معاش پر غاړه واخیست ترڅو د هغې سیمې ټول ښوونځي تر پوښښ لاندې راولي. [۵]

**په سریلانکا** کې **د ټولنې پر بنسټ مرسته د بیارغونې یوه سیمه ییز پروګرام** یو شمیر معلولیت لرونکي ماشومان په ښبه کړل. د یوه وړکتون آمر د هغوی د ګډون په تړاو علاقه وښودله خو ویې ویل چې ښوونکي یې دغه شان مهارتونه نه لري. دغه پروګرام د هیواد دننه **ځینې سرچینې وموندلې چې د ټولشموله زده کړې روزنیز** پروګرامونه یې دایرول، او په دغه پروګرام کې د ښوونکو د ګډون **لګښت یې پر غاړه واخیست**. ښوونکو، د ټولنې پر بنسټ د بیارغونې کارکوونکو، والدینو او معلولیت لرونکو ماشومانو د دغو ماشومانو **د مدغمولو لپاره یو پلان** جوړ کړ او له نورو ماشومانو او د هغو له والدینو سره یې هم کار وکړ ترڅو د پوهې کچه یې لوړه کړي او په دغه بهیر کې د ټولو له ګډون څخه ډاډ ترلاسه کړي. [٦]

**په توګو کې،** هندیکپ نړیوالې مؤسسې د توګومعلولیت لرونکو وګړو د ارګانونو د فدراسیون او د توګو د ښوونې وزارت په همکارۍ **د معلولیت لرونکو ماشومانو سره د انفرادي ملاتړ په برخه** کې ښوونځي ته د هغوی د لاسرسي د تأمین په موخه مرسته وکړه، د والدینو او د سیمې د خلکو د پوهاوي کمپاینونه یې جوړ کړل، د عادي او ځانګړو ښوونځیو تر منځ اړیکې یې پیاوړې کړې، ښوونکي یې د ټولشموله زده کړې په باب وروزل او ښوونځیو ته د لاس رسی، تدریسي میتودونو او د وسایلو د کچې د لوړیدو لپاره یې تخنیکي مرستې وکړې. د ګرځنده ښوونکو او د ښوونځیو د آمرینو یوه ډله د ټولشموله زده کړو، د بریل لیک لوست او اشاره ژبې په هکله وروزل شوه. په پایله کې شپاړس ښوونځي په فزیکي توګه د لاسرسي وړ شول، ۹۴۹ معلولیت لرونکو ماشومانو د ځان بسیاکیدنې په مقصد روغتیایي او د بیارغونې خدمتونو ته لاسرسی وموند او ۳۱۸ معلولیت لرونکي ماشومان چې پخوا ښوونځي ته نه تلل، په ښوونځي کې شامل شول. **یوې ملي کاري ډلې د ټولشموله** زده کړو په برخه کې په کار پیل وکړ. [۷]

## دولتونه کومې چارې ترسره کولی شي؟

**د ژوند د کیفیت د لوړولو په برخه کې:**

› **معلولیت لرونکو ماشومانو سره مستقیمې مرستې تر څو ښوونځي ته د تګ جوګه شي:** د معلولیت لرونکو ماشومانو پیژندل، د راجع کولو لارې چارې، روغتیایي خدمتونو، ټولنیزې بیارغوني اوټولنیزوخدمتونوته د لاس رسي تقویه کول چې ښایي هغوی په ښوونځي کې د ګډون لپاره ورته اړتیا ولري.

› **د کورنۍ له غړو سره همکاري ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې هغوي عملاً** پوه شي چې څرنګه له خپل ماشوم سره مرسته وکړي ترڅو ښوونځي ته لاړ شي او هلته پاتې شي.

› د معلولیت لرونکو وګړو د ستونزو او حقوقو په اړه د ټولنې د غړو او ښوونکو د پوهې کچه لوړول د تبعیض د له منځه وړلو په موخه.

**خدمتونو ته د لاس رسي د ودی ورکولو په برخه کې:**

› **د هغو چلندونو ننګول** چې له مخې یې معلولیت لرونکي ماشوم ته د «ستونزې» په سترګه کتل کیږي ددې پرځای چې د ماشوم د ګډون بهرني خنډونه لیرې کړي.

› **د فزیکي جوړښت، اړیکتیایي** وسیلو او معلوماتو ته د لاسرسي له نظره په ښوونځیو کې د لاسرسي د خوندي کولو اقدامونه ترسره کول.

› **د عادي او ځانګړو ښوونځیو** (د شتون په صورت کې) تر منځ د اړیکو رامنځ ته کول.

› په ښوونځیو کې د ډلو جوړول د **هغو ګرځنده ښوونکو** د شریکولو لپاره چې د ټولشموله زده کړو په برخه کې مهارت لري او کولی شي خپلې تجربې او سرچینې له نورو ښوونځیو سره شریکې او په پرلپسې توګه په سیمه کې مرسته وکړي.

**قوانینو او پالیسیو ته د ودې ورکولو په برخه کې:**

› **ډاډ ترلاسه کول چې ټول قوانین او پالیسي ګانې معلولیت لرونکي ماشومان په نظر کې نیسي او د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو له کنوانسیون سره مطابقت ولري، یعنې:**

※ **د ښوونکو د روزنې د تعلیمي نصاب** بشپړول داسې چې د ټولشموله زده کړو لارې چارې او تخنیکونه هم پکښې ور زیات شي. ※ **د تعلیمي سیستم** پراختیا داسې چې **معلولیت لرونکي ښوونکي** په بریالیتوب سره وروزل او په دنده وګومارل شي. ※ د ښوونې وزارت کې **د ټولشموله پالیسۍ د جوړلو** په برخه کې د وړتیاؤ لوړول. ※ ښوونځیو لپاره د **لاسرسي د نورمونو** تصویبول.

## پرمختګونه څرنګه اندازه کولی شو؟

معلوماتي پاڼې ځینې داسې برخې په ګوته کوي چې دولتونه کولی شي پکښې بدلونونه راولي. خدمتونو ته د لاسرسي او د پالیسیو او قوانینو په برخه کې پرمختګونه باید داسې وي چې په پایله کې د ژوند پر کیفیت باندې مثبتې اغیزې ولري.

### › د ژوند کیفیت:

※ د معلولیت لرونکو ماشومانو په منځ کې له ښوونځي څخه د پاتې کیدو د کچې کمیدل، د فعلي اوسط په پرتله. ※ د هغو معلولیت لرونکو ماشومانو شمیر چې ښوونځي ته ځي. ※ د هغو معلولیت لرونکو ماشومانو شمیر چې په سپورتي او تفریحي فعالیتونو کې د برخه اخیستلو له زیاتوالي څخه خبر ورکوي. ※ د معلولیت لرونکو ماشومانو په ټولنیزو او اکادمیکو پرمختګونو کې لوړوالی. ※ د هغو معلولیت لرونکو ماشومانو شمیر چې لومړنۍ زده کړې بشپړوي. ※ د هغو معلولیت لرونکو ماشومانو شمیر چې په لیرې پرتو او کلیوالو سیمو کې ښوونځیو ته لاسرسی لري (رسمي زده کړې، ګرځنده ښوونځي...) ※ د هغو معلولیت لرونکو وګړو شمیر چې په ښوونیز سیستم کې د سرمشق، ښوونکو یا پریکړه کوونکو په توګه ښکیل دي.

### › خدمتونو ته لاسرسی

※ د هغو ښوونکو شمیر چې په دې اړه یې زده کړې کړې دي چې څرنګه معلولیت لرونکي ماشومان په عادي ښوونځیو کې مدغم کړي. ※ د موجودو او د لاسرسي وړ درسي توکو شمیر او ډولونه. ※ د هغو ښوونځیو شمیر چې د تشنابونو په ګډون د لاسرسي معیارونه رعایتوي. ※ د ښوونځي د ټولو ماشومانو لپاره د پوهاوي ورکولو د غونډو شمیر ترڅو دغه ماشومان معلولیت لرونکي ماشومان دخپلو انډولیزو همسیالانو په توګه ومني. ※ د ټولشموله زده کړو په اړوند د ښوونکو او د ټولنې د غړو په پوهه او چلند کې مثبت بدلون. ※ د ملي چارواکو، ښوونکو، والدینو، د والدینو د ټولنو او د معلولیت لرونکو وګړو د ټولنو ترمنځ د همغږۍ د میکانیزمونو شتون.

### › قوانین او پالیسي ګانې

※ د ښوونې وزارت باید په ښوونځیو کې د معلولیت لرونکو ماشومانو د شمیر په اړه کره شمیرې وړاندې کړي. ※ د زده کړې د سیستم د لوړپوړو چارواکو په پوهه، چلند او کړنو کې بدلون.※ د ټولشموله زده کړو د کاري پلانونو شتون (په ځایي، ملي او سیمه ییزه کچه) د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسیون له احکامو سره سم.

## نمونوي پروژه: په ایتوپیا کې د معلولیت لرونکو ماشومانو لپاره ټولشموله مرستې


© S. Bonnet / Handicap International

فریټاون، د ښار مرکز، سیرالیون، ۲۰۰۷

**پیژندل شوې ستونزه:** معلولیت لرونکي ماشومان ښوونځي ته په حاضریدلو او پکښې د پاتې کیدلو لپاره له فزیکي، سلوکي او اړیکتیایي خنډونو سره مخ دي.

**اصلي موخې:** ۱. د ښوونکو او د نورو ښوونیزپروګرامونو وړاندې کوونکو د وړتیاؤ لوړول د هغوي په پروګرام کې دمعلولیت لرونکو ماشومانو د شاملیدلو په موخه. ۲. د معلولیت لرونکو ماشومانو کورنیو ته د هغو د ماشومانو لپاره د ښوونې د ګټو په هکله معلومات ورکول.

**کړنې:** ۱. د معلولیت لرونکو ماشومانو لپاره د تدریس د کیفیت د لوړیدلو په اړه د ښوونکو او نورو ښکیلو اړخونو د وړتیاؤ لوړول. ۲. په ټولشموله زده کړو کې د معلولیت لرونکو وګړو د ټولنو د لا فعا لې ونډې اخیستنې لپاره د شرایطو برابرول. ۳. د معلولیت لرونکو ماشومانو د کورنیو د پوهې د کچې د لوړیدلو لپاره فعالیتونه. ۴. له ښوونځیو سره د لاسرسي ځانګړتیاوو، تجهیزاتو او د زده کړې د توکو د رامنځ ته کولو یا سمون لپاره تخنیکي مرستې. ۵. د اصلاحاتو، ترویج اوتکثیرپه مقصد، دزده کړې شویودرسونواو ترلاسه شویو تجربو پیژندل او د پوهنې وزارت او د امریکا متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې سره د هغو شریکول.

**پایښت:** دغه پروژه د ښوونیز سیستم او ملي او سیمه ییزو ښوونځیو پر بنسټ ولاړه ده. دغه پروژه د ښوونې مسؤولانو، ځایي ښوونکو او د معلولیت لرونکو وګړو د ټولنو غړو ته روزنیز پروګرامونه په لاره اچوي ترڅو چې د پروژې تر ختمیدو وروسته یې هم د پوهې او مهارتونو کچه لوړه پاتې شي. دغه پروژه د ښوونې وزارت سره د اړیکو خوندي کیدل یقیني کوي او ترلاسه شوې تجربې او منل شوي غوره کړنې دترویج،تکثیر او پالیسي جوړولو لپاره په اختیار کې ورکوي.

**مهم شاخصونه:** د پروژې په نیمایي کې: شپږ ښوونځي د لاسرسي له نظره تفتیش شوي او وړاندیز شوي اصلاحات یې پلي کړي دي؛ د ۸۰ ښوونکو په کار کې تر روزل کیدو وروسته سمون راغلی دی؛ د کار او ټولنیزو چارو د وزارت او د سیمه ییزو زده کړو د دفتر ۸۰ تنو مسؤولینو د ټولشموله زده کړو د وسایلو، میتودونو او کړنلارو په اړه خپل معلومات ډیر کړي دي؛ د معلولیت لرونکو وګړو د ټولنواړوند د ۲۱۰ غړیو مهارتونه د معلولیت لرونکو وګړو او ماشومانو زده کړو ته د لاسرسي د برابرولو په برخه کې لوړ کړی شوي دي.

**موده:** دوه کاله (دوام لري)

**پلې کوونکې مرجع:** هندیکپ نړیواله مؤسسه، شریکان: د ښوونې وزارت او د معلولیت لرونکو وګړو ټولنې

**بسپنه ورکوونکې مرجع:** د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره، چارلیویل – میزیریس شرکت

## اخځلیک:


[1] *EFA Global Monitoring Report.* 2010 | [2] ICBL-CMC. *Landmine and Cluster Munition Monitor.* 2012 | [3] [4] [5] [6] WHO, UNESCO, ILO, IDDC. *Community Based Rehabilitation Education Guidelines.* 2010 | [7] HI. *Le système d'enseignants itinérants – projet Education Inclusive au Togo.* 2011; World Vision UK. *Education's Missing Millions: including disabled children in education through EFA FTI processes and national sector plans.* 2007; Atlas Alliance. *Inclusion Education where there are no resources.* 2002; HI. *Lessons learnt for the inclusive education of disabled children in Cambodia.* 2009; HI. *Inclusive Education Policy Paper.* 2012; UNESCO. *Embracing Diversity: Toolkit for creating learner-friendly environments.* 2004; *Overcoming Exclusion through Inclusive Approaches in Education.* 2003; *Understanding and Responding to Children's Needs in Inclusive Classrooms: A Guide for Teachers.* 2001


HANDICAP INTERNATIONAL

# ۵

# له قربانیانو سره د مرستې سکتوري برخه: ټولنيز ګډون

## پراختيايي سکتور: ټولنيز ګډون، ټولنيز کار

## ټولنيز ګډون څه دی؟

**ټولنيز ګډون** له يوه شخص سره د مرستې کولو پايله ده ترڅو د خپل ژوند مسير روښانه کړي، خپلې موخې ترلاسه کړي، خپل مقام پــه خپلــه کورنۍ کې تثبيت کړي او د خپل ټاټوبي په ټولنيز ژوند کې ونډه واخلي. کيدای شي دا موضوع ډيره «سخته» يا غير ضروري په نظر راشي خــو **ټولنيز ګډون** په ډيرى مواردو کې د باکيفيته ژوند بنسټ جوړوي ځکه چې د انساني کرامت، متعلق والي او ځان ته د ارزښت ورکولو حس رامنځ ته کوي.

**د ټولنيز ګډون د کړنو موخه** د يوه شخص پر ځان بسيا کيدلوته وده ورکول دي په داسي توګه چې يو شخص د ځان پــه اړه د تفکرکولووړتيــا مومې او دا چې له کومې لارې کولی شي چې خپلې سرچينې د کورنيو او بهرنيو سرچينو په ګډون (لکه کورنۍ، ګاونډيو او د ســيمې خلــک) سمبال کړي. ټولنيزګډون هر چا ته ارزښت ورکوي او د بشري لوړتيا اصول تقويه کوي، چې پکښې وګړي د خپل ژوند د پلانونو د جوړولو پــه بهير کې فعا ل رول لوبوي.

**د ټولنيز ګډون اصلي برخې په لاندې ډول دي: (۱)**

- **انفرادي ټولنيزملاتړ:** له يوه شخص سره د مرستې په موخه د فردي اړتياؤ په نظر کې نيولو سره مناسبې لارښوونې وړاندې کول ترڅو هغه فزيکي، ټولنيز او عاطفي خنډونه يې له مخې ليرې شي کله چې يوشخص د خپل ژوند په يوې ځانګړې برخه کې د خپل ګــډون کچې لوړولوهڅې په مهال ورسره مخامخ کيږي ؛ همداشان د يوې پروژې طرحه کول په يوه ټولنيزرول يا روځني فعاليــت کــې د مشارکت لپارکوم چې د شخص لپاره مهم وي (مثال، يو زده کوونکى اوسيدل، يوه مور اوسيدل، د کور ساتنه او پالنه کــول، کــار کول).
- **کورنۍ ژوند او اړيکې:** له دې ډاډ ترلاسه کول چې د کورنۍ غړي او د ټولنې وګړي د ناوړه چلند په مثبت لوري د بدلولو له لارې له معلول شخص سره نيکې اړيکې لري . همدارنګه موخه يې د قربانيانو او معلوليت لرونکو وګړو پر وړاندې د تاوتريخوالي مخنيوى او چاره کول دي.
- **فرهنګي، سپورټي او تفريحي کړنې:** په هغو کړنو کې د شخص د ونډې اخيستلو ته وده ورکول چې د شــخص د مطــرح کيــدلو، سلامتي او روغتيا لامل ګرځي. همدارنګه دغه کړنې منفي ټولنيز چلندونه ننګوي او د قربانيانو او معلوليت لرونکو وګړو د حقوقو په اړه د پوهې د کچې په لوړيدو کې ګټور واقع کيږي.

### د حقيقتونولنډيز

- قربانيان له پيښې وروسته له ټولنيز يواځې توب سره مخ کيږي او يواځې پريښودل کيږي چې لامل يې په ټولنه کې د خرافاتي باوروونو شتون دی (د بيلګې پــه توګه دغه باور چې ګواکې معلوليت لرونکی شخص بد شګون لري).
- ډيرى معلوليت لرونکي وګړي د منفي چلندونو له امله له کورني ژوند او اړيکو څخه بې برخې کيږي.
- معلوليت لرونکې ښځې د معلوليت لرونکو نارينه ؤ په پرتله دواده کولو لږ چانس لري.
- معلوليت لرونکي ښځې او نجونې پــه ځانګړې توګه په خپلو کورنيو او ټولنــو کې د ناوړه ګټې اخيســتنې او جنســي تيري له ګواښ سره مخ دي.

## حقوقي او د پاليسي چوکاټونه

**د غونچه ييزو مهماتو کنوانسيون:** د پنځمې مادې لومړۍ فقره او د شپږمې مادې اوومه فقره
**د وينتيان کاري پلان:** ۲۵ او ۲۸ شميره اقدامونه
**د کارتاجينا کاري پلان:** څلورمه برخه، ۱۲ فقره،
**د معلوليت لرونکو وګړو د حقوقو کنوانسيون:** ۱۹، ۲۱، ۲۳، ۲۸ او ۳۰ مادې

## اصلي ښکيل لوري څوک دي؟

د قربانيانو او معلوليت لرونکو وګړو **ټولنې**؛ د هغوی کورنۍ، ملګري او ګاونډيان
**د خدمتونو وړاندې کوونکي:** ټولنيز او روغتيايي خدمتونه
**وزارتونه:** دټولنيزو چارو، ښځو او ماشومانو / جندر، ځوانانو او سپورټ... اړوند وزارتونه
**نړيوالې اداري:** د ټولنيزو کارکوونکو نړيوال فدراسيون

## په لږ عايد لرونکو هيوادونو کې عامې ننګونې کومې دي؟

- ډيرى قربانيان او معلوليت لرونکي وګړي له موجودو **خدمتونو څخه** خبر نه لري. آن په هغو مواردو کې چې معلومات په لاس کې هم وي، کافي ندي. ډيرى وختونه قربانيان او معلوليت لرونکي وګړي، په تيره بيا هغه کسان چې ډير زيانمنونکي دي، **انفرادي ملاتړ** ته اړتيا لــري ترڅو پياوړي شي او مخ پر وړاندې لاړ شي او د اړتيا وړ خدمتونو ته لاسرسى ومومي.
- قربانيان او معلوليت لرونکي وګړي له ورځني ژوند څخه ګوښې ته د شړل کيدلو له املــه اکثراً په خپل **ځان دباور احساس له لاسه** ورکوي چې دا د هغوی د لاپسې ډير يواځې توب لامل ګرځي، په پايله کې ددې باعث ګرځي چې هغوي په ټولنيزو فعاليتونو او پيښو کې د ګډون لپاره ليوالتيا ونه لري.
- کيدای شي معلوليت لرونکي وګړي، د ماشومو قربانيانو په ګډون، د **نورو په اندازه له مينې**، عاطفې، هڅونې او فرصتونو څخه برخمن نه وي.
- معلوليت لرونکې ښځې د قرباني شويو ښځو په ګډون ډيرى وختونه له ځينو ځانګړو ټولنيزو رولونو څخه، لکه واده او مور کيدل، **بې برخې کيږي**. هغوی معمولاً په دې دليل چې هــم ښځې دي او هم معلوليت لري، د دوه اړخيزه تبعيض سره مخامخ کيږي.
- کيدای شي د **کورنۍ غړي** داسې احساس ولري چې د کورنۍ دننه د يوه معلوليت لرونکــي غړي درلودل د شرم خبره ده؛ ځکه نو هغوی په فرهنګي، سپورټي، تفريحي او نورو ټولنيزو **فعاليتونو** کې ګډون ته نه هڅوي.
- د معلوليت لرونکو وګړو ټولنې، چې پکښې غړيتوب درلودل د ټولنيز ګــډون د پياوړتيــا وسيله بلل کيږي، کيدای شي پرته له دې چې غوښتلې يې وي د ښځو پر وړاندې **تبعــيض وکړي** ځکه چې دغه ارګانونه تر ډيره د معلوليت لرونکو نارينه ؤ له خوا اداره کيږي چې په دې توګه د معلوليت لرونکو ښځو د غږ د اوريدلو لپاره لږ موقع ورکول کيږي او يــا هــم اصلاً نه ورکول کيږي.

## بريالۍ پروژې چې ټولنيز ګډون ته وده ورکوي

**په بوسنيا او هرزيګوينا کې، سپورټي او تفريحي فعاليتونه** د معلوليت لرونکو وګړو د ټولنيز ګډون او د رواني هوساينې يوه لاره بلل کيږي. هلته د ناستې واليبال، د ويلچــر ســره باسکتبال، فتبال او اتلتيک کلپونه په ځانګړې توګه د نارينه او ښځيه معلوليــت لرونکــو وګړو لپاره جوړ شوي دي. په ريپبليکا سرپسکا کې، د سپورټ او ځوانانو ســکرتريت د معلوليت لرونکو وګړو د سپورټ او فزيکي فعاليتونو د ودې لپــاره يــو کــارکوونکی ګومارلی دي. حکومت د ټولشموله سپورټونو لپاره يوه کلنه بودجه ځانګړې کړې ده.[۲]

**په موزمبيق کې،** په ۲۰۱۱ کال کې د ماينونو له قربانيانو سره د مرستې شبکې (چــې د RAVIM په نوم يادېده) او هنديکپ نړيوالې مؤسسې، د ښځو او ټولنيزو چارو وزارت او د ټولنيزو مرستو د ملي انستيتوټ په همکارۍ سره د معلوليت لرونکو مشرانو او ماشومانو د **ټولنيز ګډون** د تسهيل لپاره د يوې پروژې د پلي کولو په حال کې دي. تر نن ورځــې پورې ۳۲۸ کسان، چې ۱۱۸ يې ماشومان دي، تشخيص شوي، د اړتياؤ او لومړيتوبونو د پيژندلو لپاره يې ورسره مرستې شوي دي او خدماتي مراجعو تــه راجــع شــوي دي. همدارنګه ۶۵ تنو د خدمتونو وړاندې کوونکو مراجعو ته د لاسرسی، د معلوليت لرونګو وګړو د حقوقو او روغتيايي او ټولنيزو خدمتونو ته د معلوليت لرونکووګړو د لاس رسي د آسانه کولو په باب روزنه ورکړل شوه.

## دولتونه کومې چارې ترسره کولی شي؟

### د ژوند د کیفیت د لوړولو په برخه کې:

- له قربانیانو او د معلولیت لرونکو وګړو سره مرسته ترڅو **خپلې اړتیاوې، مهارتونـــه، لومړیتوبونـــه، ســـرچینې او لیوالتیاوې وپیژني** او د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره (لکه زده کړه، کارموندنه، ټولنیز ژوند) یو عملي کـــاري پلان طرحه او پلی کړي.
- له قربانیانو او د معلولیت لرونکو وګړو سره مرسته ترڅو په ټولنیز ژوند کې **د ګډون فرصتونه** وپیژني (دبیلګې په توګه د قربانیانوله ټولنې، د معلولیت لرونکو وګړو ټولنې یا نورو عامه ټولنوسره یوځای شي).
- له **کورنیو سره کار کول** ترڅو پوه شي چې څرنګه کولی شي خپل د کورنۍ د معلولیت لرونکي وګـــړي ملاتـــړ وکړي او هغه پیاوړي کړي او څرنګه په ګډه د خپلو حقوقو لپاره دادغوښتنه وکړي.

### خدمتونو ته د لاس رسي د ودی ورکولو په برخه کې:

- د داسې سیمه ییزو کارکوونکو پیژندنه چې د سیمې **په کچه د انفرادي ملاتړ** په برخه کې روزل کیدای شـــي (د ټولنې پر بنسټ د بیارغونې کارکوونکي، ټولنیز او روغتیایي کارکوونکي، او نور...)
- د روغتیایي او ټولنیزو کارکوونکو **د عمومي روزنیز پروګرام** د یوې برخې په توګه د ټولنیزانفرادي ملاتړ شاملول.
- په سیمه کې **د موجودو خدمتونو پیژندل**، د هغو د موقعیت تثبیت اوپه هکله یې معلومات خپرول.
- د خدمتونو له وړاندې کوونکو سره په دې اړه مرسته چې قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي اړوندو خدمتونو ته لاسرسی ومومي.
- د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو په هکله د خلکو د پوهې د کچې د لوړولو لپاره له **ســـیمه ییـــزو مشرانو سره کار کول** او د هغوی هڅول؛ د تبعیضونو ننګول؛ او د معلولیت په هکله د ټولنې په کچه د بحثونـــو لپاره فرصتونه برابرول.
- له **ټولنو(نهادونو)** سره مرسته ترڅو هغوی معلومات ومومي اووهڅول شي چې څرنګه معلولیت لرونکو وګړو، په تیره بیا معلولیت لرونکو ښځو ته، په خپلو فعالیتونو کې برخه ورکولی شي.
- د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو او همدارنګه په سامان آلاتو، د لوبو په قواعدو او فزیکي تجهیزاتو کې د آسانه اصلاحاتو د رامنځ ته کولو په اړه د **سپورټي او فرهنګي ټولنو** روزل.

### قوانینو او پالیسیو ته د ودې ورکولو په برخه کې:

- له قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو سره د مرستې لپاره په **ملي کاري پلانونو** کې د انفـــرادي ټـــولنیز ملاتـــړ، فرهنګي، سپورټي او تفریحي فعالیتونه او همدارنګه د ټولنیز ژوند اړوند د مهمو عنصرونو شاملول.
- د بیان د آزادۍ په تړاو د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسیون له حکمونو سره سم د پالیسي جوړوونکو کړیو په منځ کې **د معلولیت لرونکو وګړو د غږ** له اوریدل کیدو څخه ډاډ ترلاسه کول.
- د ځایي، ملي او نړیوالو ښکیلو اړخونو هڅول او خبرول په دې هکله چې څرنګه کولی شي قربانیان او معلولیـــت لرونکي وګړي **په خپلو فرهنګي، تفریحي او سپورټي** پروګرامونو کې شامل کړي.
- د موجوده قوانینو او پالیسیو بیاکتنه, کوم چی ممکن د معلولیت لرونکو وګړو د ټولنیز ګډون پر **وړاندی تبعـــیض آمیزه برخورد ولری او یا هم خنډونه** رامنځ ته کړی

## پرمختګونه څرنګه اندازه کولی شو؟

معلوماتي پاڼې ځینې داسې برخې په ګوته کوي چې دولتونه کولی شـــي پکښې بدلونونه راولي. خدمتونو ته د لاسرسي او د پالیسیو او قوانینو پـــه برخه کې پرمختګونه باید داسې وي چې په پایله کې د ژوند پر کیفیـــت باندې مثبتې اغیزې ولري.

### د ژوند کیفیت:

* د هغو کسانو شمیر چې د ځان لپاره یې شخصي کاري پلانونه طرحه کـــړي دي. * د هغو کسانو شمیر چې د خپلو پلانونو ټاکلو موخو ته رسیدلي وي. * د هغو کسانو شمیر چې د کورنۍ په پریکړو کې د ګډون د کچې د لـــوړوالي رپوټ ورکوي. * د هغو کسانو شمیر چې په هغوټولنیزو فعالیتونو کې د ګډون د کچې له لوړیدلو څخه خبر ورکوي چې ور ته ارزښت لري. * د هغو کســـانو شمیر چې په فرهنګي، سپورټي اویا تفریحي فعالیتونو کې ګډون کوي.

### ټولنیزو خدمتونو او فعالیتونو ته لاسرسی

* د هغو کسانو شمیر چې له انفرادي ټولنیزملاتړڅخه برخمن کیږي. * د ټولنې د غړو یا د سیمه ییزو مشرانو شمیر چې دا مني چې معلولیت لرونکي کســـان واده وکړي او اولادونه ولري. * د هغو کورنیو شمیر چـــې خپـــل معلولیـــت لرونکي غړي هڅوي او ملاتړ یې کوي چې په ټولنه کې برخه واخلي او له کور څخه دباندې اړیکې ټینګې کړي. * د هغو روحاني او دیني مرکزونو شمیر چې معلولیت لرونکي وګړي د خپلو غړو په کتار کې شماري. * د هغو فرهنګـــي، سپورټي او تفریحي مرکزونو شمیر چې معلولیت لرونکو وګړو لپاره ځـــانګړي تدابیر نیسي. * د هغو فرهنګي، سپورټي او تفریحي مرکزونو شمیر چې خپـــل توکي/ د اړیکو لارې چارې/ د لوبو جوړښت او قاعدې داسې تنظیموي چـــې د معلولیت لرونکو وګړو د استفادې وړ وي.

### قوانین او پالیسي ګانې

* فرهنګي، تفریحي او سپورټي پالیسي ګانې او پروګرامونه په ځانګړې توګه د معلولیت لرونکو اشخاصو لپاره د احکامو درلودونکي وي. * ملي سرچینې داسې سمبال شوې وي چې ټولشموله فرهنګي، سپورټي او تفریحي پالیسي ګانې پلې کړي. * د معلولیت پر بنسټ د تبعیض لمن د کورنۍ په اړه قانون څخه ټوله شوې وي. * پالیسي ګانې ددې ښکارندویه وي چې څرنګه کولی شو فعالیتونه، توکي او ځایونه داسې اصلاح کړو چې ټولشموله وي.

## <u>نمونوي پروژه:</u> په یوګاندا کې د قربانیانو ټولنیز ګډون



د موراوماشولپاره د سوکاله ماشوم پروژه، سیم ریپ، کمبودیا

© Nicolas Axelrod / Handicap International

**پیژندل شوې ستونزې:** قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي د نورو کسانو په شان په ټولنیز او کاري ژوند کې د انډولیز ګډون په لاره کې له جدي خنډونو سره مخ دي.

**اصلي موخې:** ۱. له **چارواکو سره د مکلفیتونو** په ادا کولو کې د ماینونو د مخنیوي تړون او د کارتاجینا د کاري پلان سره سم همکاري کول.
۲. د **قربانیانو پیژندل** په هغو دوه حوضو کې چې پکښې له نورو څخه ډیر زیانمن شوي دي، او ټولنیزو او معیشتي خدمتونو ته د هغوی د لاسرســـي لوړول.

**فعالیتونه:** الف) **پالیسي**: له قربانیانو سره د مرستې په برخه کې د همغږیو ګړندي کول د ورکشاپونو د دایرولو له لارې چـــې د جنـــدر، کـــار او ټولنیزې پراختیا وزارت په ګډون ګڼ شمیر ښکیلو لورو پکښې ګډون کړی وي. ب) **انفرادي ملاتړ**: فردي ملاتړ کول ترڅو قربانیان وکړای شي خپلې اړتیاوې او لومړیتوبونه وټاکي او خپلو موخو ته د رسیدلو لپاره پلان طرحه کړي. ج) **خدمتونو ته لاسرسی**: د روغتیایي، رواني او معیشـــتي خدمتونو د موقعیت تثبیتول او ورسره مرسته کول ترڅوهغوی د لاسرسي وړوګرځي (پوهاوی ورکول او روزنه). د ټولنیزو فعالیتونو په برخه کې، په سپورټي او تفریحي فعالیتونو باندې تمرکز وشو چې د ځان مرستو ډلو لپاره یو لومړیتوب بلل کیده. د) **پیاوړتیا**: له ځان مرستو ډلو څخه ملاتـــړ کول ترڅو د سپورټ او تفریح له لارې خپلو ظرفیتونو او فعالیتونو ته وده ورکړي (**په سپورټي او تفریحي** قواعدو او اړوندو وسایلو او تجهیزاتـــو کې ساده اصلاحات راوستل ترڅود لاسرسی وړوګرځي).

**پایښت:** د بیلابیلو عنصرونو پر بنسټ لکه: ۱. د وزارت پیژندل شویو اړتیاؤ ته ځواب ویل او د ځایي ښکیلو لوریو سمبالتیا؛ ۲. په ملي کچـــه د همغږي پیاوړي کول د ورکشاپونو په دایرولو سره د ګڼ شمیر ملي ښکیلو لوریو د سمبالولو له لارې؛ ۳. د ټولنیزو او معیشتي خدمتونو وړانـــدې کوونکو او ځان مرستو ډلو لپاره په اړوندو سیمو کې د روزنیزو پروګرامونو جوړول ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د پروژې تر ختمیدلو وروسته به هم د لاس رسي وړ وي.۴. د قربانیانو د ژوند په کیفیت کې د سمون د راوستلو څخه د ډاډ د ترلاسه کولو لپاره په انفرادي کچه د مرستو وړانـــدې‌کول.

**مهم شاخصونه:** + ۲۴۴۸ قربانیان او ۱۲۳۰ معلولیت لرونکي وګړي وپیژندل شول. + ۹۹ قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي لـــه شخصـــي ټولنیزو مرستو څخه برخمن شول. د پروژې په پای کې د تغذي، هستوګنځي د شرایطو، سپما، مهارتونو، ځان پالنې اوخوځښت پـــه برخـــوکې د پروژې د اغیزو مطالعه ترسره شوه چې لاندې پایلې ورڅخه ترلاسه شوې: په سلو کی ۹۳ ځواب ورکوونکو وویل چې لږ تر لږه له دغـــو پنځـــو اړخونو څخه په یوه کې یې ښه والی راغلی دی او ۲۴ په سلوکې یې له پنځو اړخونو څخه په ځلورو کې له سمون څخه خبر ورکړ. + د خدمتونو ۲۰ وړاندې کوونکو وکړای شول خپل خدمتونه داسې عیار کړي چې قربانیان او نورمعلولیت لرونکي کسان ورنه زیاته ګټه واخلي. + ۲۰ ځان مرستې ډلې د ټولنیزو فعالیتونو د لوړوالي په برخه کې وروزل شوې. +**ځلور د همغږۍ غونډې** په ملي کچه او یوه په ځایي کچه جوړه شوه.

**موده:** ۱۸ میاشتې

**پلې کوونکې مرجع:** هندیکپ نړیواله مؤسسه؛ شریکان: په یوګاندا کې د ماینونو د قربانیانو ټولنه؛ د جندر، کار او ټولنیزې پراختیا وزارت.

**بسپنه ورکوونکې اداره:** د آسترالیا دمرستو نړیواله اداره

## اخځلیک:


(1) HI. *Personalized social support: Thoughts, method and tools for proximity social services.* 2010 | (2) GICHD. *Assisting Landmine/ERW survivors in the context of disarmament, disability and development.* 2011; Intl Association of Schools of Social Work. *Social work in the context of political conflict.* 2008; Inclusion International. *Supporting children with disability- parent and family information kit.* Right to Play. *Harnessing the power of sport for development: recommendations to governments.* 2008; WHO, UNICEF, ILO, IDDC. *CBR Guidelines, Social Inclusion Component.* 2011


HANDICAP INTERNATIONAL

# له قربانیانو سره د مرستې سکتوري برخه: اقتصادي ګډون
# پراختیایي سکتور: کارموندنه او ټولنیز خوندیتوب

## اقتصادي ګډون څه دی؟

**د اقتصادي ګډون مفهوم** دا دی چې ټول وګړي وګړای شي له تبعیض څخه پرته د خپلو ټولنو له اقتصادي پراختیا څخه ګټه واخلي، پکښې ګډون وکړي اوورسره مرسته وکړي. **موخه يې ددې یقیني کول دي چې ټول وګړي په کاردګومارنې او ټولنیز خوندیتوب له لارې کافي عاید ولري ترڅو خپل ژوند د مناسبو معیارونو پر بنسټ وړاندې یوسي.** اقتصادي ګډون د شخص او هم د کورنۍ عواید لوړوي او ټولنیز ګډون او رواني روغتیا ته وده ورکوي. اقتصادي ګډون خپله شخص او هم يې کورنۍ او ټولنې ته ګټه رسوي. ډېری قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي اقتصادي ګډون د خپل لومړني لومړیتوب په توګه یادوي.

**د اقتصادي ګډون اصلي برخې په لاندې ډول دي:(۴)**

**الف) کارموندنه:**

- **آزاد کار: هغه کار دی چې یوشخص يې د بل چا لپاره نه بلکې د ځان لپاره کوي. دا معمولاً په لږ عاید لرونکو هیوادونو کې تر ټولو ستر انتخاب دی، خو د هرچا لپاره ښه انتخاب نشي کیدای.**
- **کار د مزد په بدل کې: هغه کار دی چې شخص يې د مزد په بدل کې د یوه قرارداد له مخې ترسره کوي. کارموندنه د مهارتونو ودې** او پراختیا ته اړتیا لري یعنې تخنیکي او مسلکي مهارتونه، د سوداګرۍ د مدیریت مهارتونه او د ژوند بنسټیز مهارتونه (د موخې ټاکل، د وخت مدیریت، اړیکې او نور). سربیره پر هغې، **مالي خدمتونه** (سپما، کریدت، بیمه او د پیسو لیږدول) هم دمزد په بدل کار کې ډیر اهمیت لري.

**ب) ټولنیز خوندیتوب:** له ټولنیزې بیمې او ټولنیزو مرستو څخه عبارت دی او هغه تدابیر رانغاړي چې د زیانمننې په شرایطو کې يې د زیانمنونکو وګړو لپاره د خوندیتوب یوه شبکه رامنځ ته کړې وي او د خوراک، جامو، هستوګنځي، اوبو او حفظ الصحې په ګډون د ژوند د تر ټولو ټیټو معیارونو له شتون څخه ډاډ ورکوي.

### د حقیقتونولنډیز

- ★ یوې سروې چې په ۱٦۴۵ قربانیانو باندې په ۲٦ هیوادونو کې ترسره شوه، وښودله چې **اقتصادي ګډون هغه سکتور دی چې اکثره ځواب ورکوونکو وویل چې وضعیت يې په دغه سکتور کې د کلونو په تیریدلو سره خراب شوی دی.** په سلوکې ۷۴ يې یادونه وکړه چې د کورنۍ عاید يې بسنه نه کوي. [۱]
- ★ **له ۲۰ سلنه څخه لږ معلولیت لرونکي وګړي کار کوي.** د هغوی نه کار کول هر کال نړۍ ته ۱.۹۲ تریلیونه ډالره تاوان رسوي (د کورني د ناخالصه تولید ټولګه چې هر کال د معلولیت له امله له لاسه ځي) [۲]
- ★ **۸۲ سلنه معلولیت لرونکي وګړي په ورځ کې د یوه ډالر څخه په لږ عاید باندې ژوند کوي.** [۳]
- ★ **۸۰ سلنه معلولیت لرونکي وګړي په لیرې پرتو سیمو او کلیو کې ژوند کوي.**
- ★ **د معلولیت لرونکو نارینه ؤ په پرتله د معلولیت لرونکو ښځو د کارموندنې چانس ۵۰ سلنه لږ دی.** [۴]

## حقوقي او د پالیسیو چوکاټونه

- **د غونچه ییزو مهماتو کنوانسیون:** د پنځمې مادې لومړۍ او دویمه فقرهH، د شپږمې مادې اوومه فقره او د اوومې مادې لومړۍ فقرهK
- **د وینتیان کاري پلان:** ۲۵ او ۲۸ شمیره اقدامونه
- **د کارتاجینا کاري پلان:** څلورمه برخه، ۱۲ فقره، ۳۱ شمیره اقدام
- **د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو کنوانسیون:** ۲۴ او ۲۷ مادې
- **د زر کلنې پراختیایي موخې:** لومړۍ موخه
- **د کار د نړیوال سازمان۱۵۹کنوانسیون، مسلکي بیارغونه او کارموندنه**

## اصلي ښکیل لوري څوک دي؟

د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو **ټولنې** | **د خدمتونو وړاندې کوونکي:** د کسب د زده کړې مرکزونه، د سوداګرۍ د ودې خدمتونه، د کوچنیو پورونو د ورکړې ادارې، ټولنیز خدمتونه، د کارموندنې مرکزونه، د سوداګرۍ خونې، د سوداګرۍ اتحادیې، د کار د رامنځ ته کوونکو ډلې، عامه او خصوصي په کار ګومارونکي، نادولتي مؤسسې او نورې ادارې چې د معیشت د ودې او د کارد رامنځ ته کولو په ډګر کې کار کوي | **وزارتونه:** دکار، کرنې، ټولنیزو چارو، مالیې اړوند وزارتونه، د کوچنیو پورونو د ورکړې ادارې، دپراختیایي پلان جوړونې ادارې، د بیوزلۍ د کمولو دفتر. | **نړیوالې ادارې:** د کار نړیوال سازمان.

## په لږ عاید لرونکو هیوادونو کې عامې ننګونې کومې دي؟

- د کارموندنې پروګرامونه کلیو او لیرې پرتو سیمو ته د پاملرنې پر ځای چې اکثره قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي پکښې اوسیږي، **ډیری په ښاري او نیمه ښاري سیمو باندې تمرکز لري.**
- کیدای شي ځیني پروګرامونه د هغو ټولو خدمتونو د په نظر کې نیولو پرځای چې کیدای شي وګړي د یوه بریالي اقتصادي فعالیت د پراختیا لپاره ورته اړتیا ولري (کوچني پورونه، د سوداګرۍ له پراختیا څخه ملاتړ، له بازارونو سره اړیکه نیول...) **یواځې د یو ډول خدمتونو په آسانچارۍ باندې** (لکه د روزنې مرکزونه) تمرکز ولري.
- **حرفوي روزنې د بازار د اړتیا په نظر کې نیولو سره نه پلان کیږي.**
- **په دې اړه چې څرنګه کولی شو د یوه معلولیت لرونکي وګړي لپاره کاري چاپیریال عیار کړو** لږ معلومات شتون لري؛ په داسې حال کې چې که په سیمه کې هیڅ ډول مسلکي ملاتړ شتون ونه لري، نوښتګري او په همدغې سیمه کې د نورو معلولیت لرونکو وګړو څخه د نظرونو راټولول هم بسنه کوي.
- د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو د مهارتونو او رقابتي توب په اړه د کورنیو، په دنده ګومارونکو او د خدمتونو د وړاندې کوونکو په منځ کې **واردمخه منفي قضاوتونه لاهم په خپل قوت سره پاتې دي.** په دې مورد کې اوږدمهالو لاربښوونو ته اړتیا ده ترڅو و مفکورو، چلندونو او کړنوته بدلون ورکول شي چې له بده مرغه شتون نه لري.
- د اقتصادي ګډون پروژې کیدای شي **د کار په بدل کې د مزد امکانات له پامه وغورځوي.**
- **د حکومت د ټولنیزې خوندي ساتنې میکانیزمونه د لږ عاید لرونکو هیوادونو کې په تر ټولو ټیټه کچه کې واقع دي.**
- ډیری وختونه د جندر څیړنه **د اقتصادي ګډون په پروګرامونو کې** نه ځای پرځای کیږي، چې کیدای شي د ښځو پر وړاندې د تبعیض لامل وګرځي یا هغه پیاوړی کړي.
- **په ډیری مواردو کې د معیشت پروګرامونه د هغو کسانو په کورنیو باندې چې د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله مړه شوي دي، سترګې پټوي.**

## د اقتصادي ګډون په برخه کې بریالۍ پروژې

**په ایتوپیا کې،** د ایتوپیا د معلولیت او پراختیا مرکز(ECDD) چې د کار نړیوال سازمان له خوا يې ملاتړ کیږي، **سوداګریز، صنعتي او د عامه سکتور بنسټونه د معلولیت په اړه روزي.** دغه مرکز په کلیو کې د DECSI په نوم د کوچنیو پورونو د ورکړې له یوې مرجع سره کار کوي. د ایتوپیا د معلولیت او پراختیا مرکز او د تیګرای د معلولیت لرونکو زړو سرتیرو د ټولنې له خوا د څیړنو، دادغوښتنې او روزنو په پایله کې اوس DECSI معلولیت لرونکي وګړي هم په خپلو پروګرامونو کې تر پوښښ لاندې لري. په ۲۰۱۰ کال کې، ۹۰۰ کسان (د DECSI پنځه سلنه مشتریان) معلولیت لرونکي وګړي وو. اوس DECSI د څارنې یو سیستم لري چې پر مټ يې په دغه ډګر کې پرمختګونه اندازه کوي. [۵]

**په نیکاراګوا کې،** د پروموجیر د کوچنیو پورونو ادارې د معلولیت لرونکو وګړو او **ټولنیزو خدمتونو له ادارو سره کار وکړ ترڅو هغوی معلولیت لرونکې ښځې د خپلو کوچنیو پورونو په پروګرام کې شاملې کړي.** پروموجیر معلولیت لرونکې ښځې په ولسي بانکونو کې په کار ګومارلي دي او همداراز يې یوه ولسي بانک ته چې د ۳۰ تنو معلولیت لرونکو ښځو له خوا اداره کیږي ځیني خدمتونه وړاندې کړي دي. ګډون کوونکي د زیږدیزې روغتیا او د کورني تاوتریخوالي د مخنیوي په اړه پوهاوي غونډو کې هم حاضریږي. [٦]

**په فلپین کې،** د کوپراتیفونو د ملي فدراسیون۰ ٦۵ غړي معلولیت لرونکي وګړې جوړوي. هغوی ښوونځیو ته د څوکیو او د ښوونې وزارت ته د میزونو په جوړولو بوخت دي. د هغوی کاري شعار داسې دی: «زمونږ تولید د زړه سوي له مخې نه بلکې د هغو د ښه کیفیت او ټیټې بیې له امله واخلئ.» [۷]

# دولتونه کومې چارې ترسره کولی شي؟

### د ژوند د کیفیت د لوړولو په برخه کې:

- له قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو سره مرسته ترڅو د کارموندنې لپاره یو **اړونــــد او شـــونی کاري پلان** طرحه کړي.
- پروګرامونو ته پکار ده چې ډاډ ترلاسه کړي چې مالي خدمتونه او روزنیز ورکشاپونه یې **د امکان تر بریده اړوندو ټولنو** او غړو ته نږدې وي.
- د پروګرامونو ملاتړ نباید په شخص باندې دشغل دپیل یا د کار له موندلو سره سمدستي بند شي بلکې باید **لږ تر لږه تر شپږ میاشتو** پورې دوام ومومي.
- پروګرامونه هله بریالي وي چې، پر یوه شخص باندې د تمرکز پر ځای، **کورنۍ په پلان جوړونه** او د اقتصادي فعالیتونو په مدیریت کې، او همدارنګه د پیسو د مدیریت د زده کړې او پانګې تــه د لاسرسي په روزنیزو پروګرامونو کې په نظر کې ونیسي.
- پکار ده پر هغو **ښځو باندې چې د کار په سن کې دي** ځانګړی تمرکز وشي ځکه چې هغــوی د اقتصادي ګډون په ډګر کې له ډېرو خنډونو سره مخامخ کیږي او هم په دې دلیل چې هغــوی د خپلو کورنیو د ژوند د شرایطو په وده کې مهم رول لوبوي.

### خدمتونو ته د لاس رسي د ودی ورکولو په برخه کې:

- د کوچنیو پورونو د ورکړې او د حرفوي روزنې د مرکزونو په شان له **عامو خدماتي مراجعو** سره کار کول ترڅو هغه خنډونه وپیژني چې نه پرېږدي چې معلولیت لرونکي وګړي ورته لاسرســـی ولري او له خدمتونو څخه یې برخمن شي.
- **دغو خدمتونو ته تر یوې ټاکلې مودې پورې د لارښوونو** د دوام موندلو وړاندیز کول ترڅــو ډاډ ترلاسه شي چې هغوی دحقوقوپه پوهاوي، د ادارې د کارکوونکو له لوري د تبعیض نه خـــلاص چلند، د فزیکي جوړښتونو او اړیکو له نقطه نظره لاس رسی ، مناسب هستوګنځي او د لګښتونو له بار څخه د راوتلووړتیا  له نظره خپلو کړنو اوپالیسیوته وده ورکوي.
- په **دنده ګمارونکو سره مرسته** ترڅو د هغوی د په دندې ګمارلو کړندودونه وڅېړل شـــي، د لاسرسي د زیاتیدو لپاره د کار په چاپیریال کې یې سمون راوړل شي او کارکوونکي یې داســې وروزل شي چې معلولیت لرونکو وګړو ته هم خدمتونه وړاندې کړي.

### قوانینو او پالیسیو ته د ودې ورکولو په برخه کې:

- پکار ده چې د کارموندنې او د بېوزلۍ د له منځه وړلو قوانین او پالیسي ګانې **د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو له کنوانسیون سره په مطابقت** کې واقع وي. همدارنګه پکار ده چې په محلـــي کچه د هغوی د پلي کولو لپاره مقتضي پلانونه او بودجې په نظر کې ونیول شي.
- **په عامه سکتور کې د معلولیت لرونکو اشخاصو استخدام کیدل**
- ډاډ ترلاسه کول چې قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي وکړای شي چې په ملي، سیمه ییزې او ځایي کچه **د اقتصادي پالیسیو او پلانونو** په طرحه کیدلو کې فعاله ونډه ولري.
- **د ټولنیز خوندیتوب** په اړه د پالیسیو او پروګرامونو په داسې توګه طرحه او تطبیقول چـــې لـــه معلولیت لرونګو وګړو سره د کار په موندلو کې مرسته وکړي.

## پرمختګونه څرنګه اندازه کولی شو؟

معلوماتي پاڼې ځینې دایې برخې په ګوته کوي چې دولتونه کولی شـــي پکښـــې بدلونونه راولي. خدمتونو ته د لاسرسي او د پالیسیو او قوانینو په برخـــه کـــې پرمختګونه باید داسې وي چې په پایله کې د ژوند پر کیفیت باندې مثبتې اغیزې ولري.

### › د ژوند کیفیت:

❊ د کورنۍ په عاید کې زیاتوالی. + د معلولیت لرونکو کار رامنځ ته کوونکو په ګټو کې زیاتوالی. ❊ په تخنیکي او سوداګریزو مهارتونو کې سمون. ❊ د هغـــو کسانو شمیر چې له یوه کال څخه ډېره موده په یوې دنده کې پاتې کیږي. ❊ له پیل څخه یو کال وروسته د فعالو کاروبارونو شمیر. ❊ په ټول کال کې د مغذي خوړو رژیم ته لاسرسی. ❊ پر نفس باندې د اعتماد او د ټولنیز ګډون راپورکړی شوې وده. ❊  د کورنۍ د عوایدو د مدیریت د وړتیـــا لوړیـــدل. ❊ د تـــولنیز خوندیتوب د بیلابیلو پروګرامونو له لارې د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو د پوښښ په کچه کې زیاتوالی.

### › خدمتونو ته لاسرسی:

❊ د خدمتونو شمیرچې قربانیان د مستفیدینو په توګه ورسره شاملوي. ❊ د هغو قربانیانو شمیر چې حرفوي زده کړې یې بشپړې کړي او پورونه یا وړیا مرســـتې ترلاسه کوي. ❊ د هغو قربانیانو شمیر چې په کار ګومارل کیږي. ❊ د معلولیت او ګډون په هکله د عامو خدمتونو د وړاندې کوونکو لپاره د پوهاوي ورکولـــو او روزنیزو غونډو شمیر.

### › قوانین او پالیسي ګانې:

❊ د کار په قانون کې د معلولیت پر بنسټ د تبعیض له منځه تلل. ❊ د هیواد د کار قانون د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو کنوانسیون له معیارونو سره سمون خوري. ❊  د بیوزلۍ د له منځه وړلو په پالیسیو کـــې د قربانیـــانو او معلولیـــت لرونکو وګړو لپاره ځانګړي اقدامات راغلي دي. ❊ سرچینې په سیمه ییزه کچه داقتصادي ګډون د ودې لپاره ځانګړې کړی شوې. ❊ قربانیـــان او معلولیـــت لرونکي وګړي په فعاله توګه د ټولنې په کچه د پالیسیو په جوړولو او پریکـــړو کې ونډه اخلي.

## نمونوي پروژه: په لاؤس کې د معلولیت لرونکو وګړو اقتصادي ګډون



جانسن بوامبیل، ۵۰ کلن، د کنیامپارا سوداګریز مرکز، مونکانیو ولایت، یوګاندا

© Till Mayer / Handicap International

**پیژندل شوي ستونزه:** په لاؤس کې د قربانیانو په ګډون د ډیری معلولیت لرونکو وګړو لپاره د کورني عاید لوړول یو لومړیتوب دی. خو هغوی د مزد په بدل کې د کار او د کارموندنې په برخه کې له ګڼ شمیر ستونزو سره مخ دي.

**موخې:** ۱. مزد لرونکي کار ته د معلولیت لرونکو وګړود  لاسرسی  لوړول. ۲. د معلولیت لرونکو وګړو سره مرسته ترڅو خپل عایداتي فعالیتونه د پور، تخنیکي زده کړو، کاري مهارتونو او د سوداګرۍ په پراختیا کې د مرستو د ترلاسه کولو له لارې پیل یا پراخ کړي.

**فعالیتونه:** **الف) د مزد په بدل کې کار:** د کارموندنې د یوه مرکز جوړول؛ د لاؤس د معلولیت لرونکو وګړو د ټولنې د وړتیاؤ لـــوړول د هغو معلولیت لرونکو وګړو د ملاتړ لپاره چې د کار په لټه کې دي؛ پوهاوی ورکول او په دنده ګمارونکو سره شراکتونه؛ لـــه معلولیـــت لرونکو وګړو سره انفرادي مرستې ودندې ته د غوښتنلیک د سپارلو، د دندې د ترلاسه کولو او ساتلو لپاره.

**ب) آزاد کار:** د معلولیت لرونکو وګړو انفرادي ملاتړ د کاروبار د پلانونو د طرحه کولو، د تخنیکي او کـــاري مهـــارتونو د زده کـــړې روزنیزو پروګرامونو او پانګې ته د لاسرسي (یوځه وړیا مرستې او یوځه پور) په موخه؛ د لاؤس د معلولیت لرونکو وګړو د ټولنې او د نظر وړ ولسوالیو کې د لاؤس د معلولیت لرونکو وګړو د ټولنې اود کاراو ټولنیزې سوکالۍ د دفترونو د کارکوونکو د وړتیاؤ لوړول.

**پایښت:** پروژه د لاؤس د معلولیت لرونکو وګړو د ټولنې په همکارۍ طرحه او پلې شوه؛ د کاراوټولنیزې سوکالۍ د دفترونو ګـــډون او د وړتیاؤ لوړول، په دنده ګمارونکوته پوهاوی ورکول وړتیا یې لوړول او معلولیت لرونکو وګړو ته د خپلو دندو د ساتلو د تسهیل پـــه اړه لارښوونې.

**مهم شاخصونه:** آزاد کار: ۳۱۲ کسانو پور ته لاسرسی وموندە؛ ۲۰۲ کسانو په تخنیکي زده کړو کې ګـــډون وکـــړ؛ ۹۷ کســـانو د سوداګرۍ د پراختیا په روزنیز پروګرام کې ګډون وکړ؛ او ۲۳۶ کسانو د مالي زده کړو په روزنیز پروګرام کې ګډون وکړ.

کار د مزد په بدل کې: ٦٦ وګړي په دنده وګومارل شول؛ ۱۷۲ په دنده ګومارونکي خپل د کارموندنې اعلانونـــه د لاؤس د معلولیـــت لرونکو وګړو له ټولنې سره شریکوي.

**موده:** ۴۲ میاشتې.

**پلې کوونکې مرجع:** هندیکپ نړیواله مؤسسه، د لاؤس د معلولیت لرونکو وګړو ټولنه.

**بسپنه ورکوونکې مرجع:**د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره، د بلجیم د همکاریو اداره، د اروپا اتحادیه.

## اخځلیک:


(1) HI. *Voices from the Ground: Mine/ERW survivors speak out on victim assistance.* 2009 | (2) ILO. *The price of exclusion.* 2009; ILO. *Assisting disabled persons in finding employment.* 2005 | (3) World Bank. *Poverty and disability, a literature review.* 1999 | (4) (7) WHO, UNICEF, ILO, IDDC. *Community-based rehabilitation Livelihood Guidelines.* 2010 | (5) ILO. *Ethiopia: Disability Inclusion Support Services Case Study.* 2010 | (6) HI. *Good practices for the economic inclusion of persons with disabilities.* 2006; CDPO. *Report on good practices in inclusive agricultural skill training.* 2011; ILO. *Disability in the Workplace: company practices.* 2010; *Placement of job-seekers with disabilities: an effective service.* 2003; *Training for success: A guide for peer-to-peer training.* 2008


HANDICAP INTERNATIONAL

# له قربانیانو سره د مرستې ګډه موضوع: جندر
# پراختیايي سکتور: جندر

## جندرڅه دی؟

**«جندر»** د هغو دندو، حقوقو، مسؤولیتونو، ځانګړتیاؤ او کیفیتونو ټولګه ده چې یوه ټولنه یې وګړو ته د نارینه یا ښځینه توب پر بنسټ ټاکي. بنسټونه، ایدیولوژي ګانې، مذهب او ارزښتونه ټول د جندر په تړاو د چلند د څرنګوالي په ټاکلو کې ونډه لري. د جندر په اړه برداشتونه له یوه وخت څخه تر بله او له یوه فرهنګي څخه تر بله توپیر کوي. برعکس، د «جنس» اصطلاح د نارینه ؤ او ښځو بیولوژیکو ځانګړتیاؤ ته کارول کیږي.

**نارینه او ښځې ورته حالات په متفاوت ډول تجربه کوي.** په حقیقت کې د بیوزلۍ او اقتصادي احتیاج لمنه په ښځو کې پراخه ده. عموماً ښځې پر خپل جنسي او زیږدیز ژوند باندې لږ کنترول لري، د نارینه ؤ په پرتله ښځې د تاوتریخوالي سره ډیری مخ کیږي او په پریکړو باندې اغیزه شیندلی نشي.[۱]

د **جندر په نظر کې نیولو سره** **د چارو د پرمخ بیولو څخه موخه د جندر انډول** ته رسیدل دي: ډاډ ترلاسه کول چې نجونې، هلکان، سړي او ښځې د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو له ډلې څخه ټول خپله پوهه او ګټې د پراختیا په اجندا کې شریکوي؛ او همدارنګه د ژوند د کیفیت په لوړولو کې په انډولیزه توګه ونډه اخلي او ورڅخه برخمن کیږي. دغه کار له نجونو، هلکانو، سړیو او ښځو سره کار ته اړتیا لري ترڅو په کور، ښوونځي، د کار ځای او ټولنه کې د هغوی چلند، رفتار، دندې او مسؤولیتونه وڅیړل شي او د اړتیا په صورت کې پکښې بدلون راوستل شي. ترهغې چې د جندر پربنسټ ولاړو لاروچارو څخه کار وانخیستل شي، سرچینو ته غیر عادلانه لاسرسی به دوام ومومي او په اوږدمهال کې به د سړیو او ښځو د ازادۍ حق او د ژوند کیفیت ته تاوان ورسوي. په انډولیزه توګه د ټولو په ژوند کې سمون د ټولې ټولنې په ګټه دی.

## د حقیقتونولنډیز

- نجونې، هلکان، ښځې او نارینه ټول د ماینونو او له جګړې پاتې چاودیدونکو توکو د مستقیمو او غیر مستقیمو فزیکي، رواني، ټولنیزو او اقتصادي پایلو قربانیان دي؛ خو له دغه ګواښ څخه په متفاوته توګه اغیزمن کیږي.
- په ۲۰۱۱ کال کې **۹۰سلنه هغه کسان چې ژوند یې له لاسه ورکړی** او جنس یې د پیژندلو وړ وو، **نارینه** ول. په هغو مواردو کې چې سن د تشخیص وړ وو، د ماشومانو مرګ ژوبله د ملکي مرګ ژوبلې **۴۲سلنه** وه.[۲]
- د ماینونو/ له جګړې پاتې چاودیدونکو توکو د چاودنې وروسته **د ښځینه مرګ ژوبلې کچه ۴۳سلنه** او د نارینه ؤ د مرګ ژوبلې کچه **۲۹**سلنه راپور ورکړل شوې ده.[۳]
- معلولیت لرونکې ښځې اکثره د خپلو نارینه سیالانو په پرتله د خدمتونو د کارونو پر مهال له **ډیر تبعیض** سره مخامخ کیږي.[۴]
- **معلولیت لرونکو نجونو او ښځو څخه په لوړه کچه ناوړه جنسي استفاده کیږي او د زیږدیزې روغتیا** په هکله لږ معلوماتو ته لاسرسی لري.[۵]
- د ښځو په پرتله ډیر شمیر نارینه مزد لرونکي کارونه په اختیار کې لري.
- د نارینه ؤ په پرتله د ښځو دندې لږ دوام کوي؛ **ښځې د نارینه ؤ په پرتله لږ عاید لري او له لږ ټولنیز خوندیتوب څخه برخمن دي.**[۶]

## حقوقي او د پالیسي چوکاټونه

- **د غنچه ییزو مهماتو کنوانسیون:** د پنځمې مادې لومړۍ او اوومه فقره او د اوومې مادې لومړۍ فقرهK
- **د وینتیان کاري پلان:** ۲۲ او ۳۰ شمیره اقدامونه
- **د کارتاجینا کاري پلان:** څلورمه برخه ۱۹ اقدام، څلورمه برخه، ۱۲ فقره، ۲۹ شمیره اقدام. پنځمه برخه، ۴۱ شمیره اقدام
- **د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو کنوانسیون:** ۳، ٦ او ۱٦ مادې
- **زر کلنې پراختیایي موخې:** دریيمه شمیره موخه
- **د ښځو پر وړاندې د هر ډول تاوتریخوالي د له منځه وړلو کنوانسیون**
- **د بیجنګ د عمل پلان،** ۱۴۳ برخهE
- **د ملګرو ملتونو د امنیت شورا** ۱۳۲۵ شمیره پریکړه لیک

## اصلي ښکیل لوري څوک دي؟

- د قربانیانو، معلولیت لرونکو وګړو، ښځو او معلولیت لرونکو ښځو **ټولنې**
- **د خدمتونو وړاندې کوونکي** له قربانیانو سره د مرستې په ټولو اړوندو سکتورونو کې
- **وزارتونه:** جندر، ټول اړوند وزارتونه
- **نړیوال سازمانونه:** **د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره**

## په لږ عاید لرونکو هیوادونو کې عامې ننګونې کومې دي؟

- **لږ شمیر داسې وزارتونه او خدماتي اداري** شته چې په خپلو پالیسیو، پروګرامونو او په دندې د ګومارلو په بهیرونو کې یې **د جندر موضوع** په صراحت سره په نظر کې نیولې وي.
- **په ډیری مواردو کې ښځې د روغتیايي، بیارغونې، ټولنیزو خدمتونو او کارموندنې د ځانګو د کارکوونکو لږ شمیره** جوړوي، ځکه نو کیدای شي ځینې ښځې دغو خدمتونو ته له نږدې کیدو یا د هغو له کارولو څخه ځان شاته کړي او یا هم ځان هوسا احساس نکړي.
- اغیزمنې شوې سیمې معمولاً لیرې پرتې سیمې دي. دا چې په لویو ښارونو کې موجودو خدمتونو ته لاس رسي ډیر وخت او پیسې غواړي ځکه نو **ښځې ورته لاسرسی نشي درلودی** ځکه چې هغوی نشي کولی چې له خپلو کورنیو څخه لیرې وي او یا هم هغه محدود عاید چې لري په ترانسپورت او هستوګنځي یې ولګوي.
- د رپوټونو له مخې، په ځینو هیوادونو کې یو شمیر وګړي د ماینونو/ جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د چاودنې د تر پیښې وروسته **د رواني روغتیا په ستونزو او په نشه یې توکو اخته کیږي** او په قهرجنو کسانو بدلیږي چې د خپلې کورنۍ پر وړاندې **له کورني او جنسي تاوتریخوالي** کار اخلي. ښځینه قربانیانې، د نورو معلولیت لرونکو ښځو په څیر، د نورو ښځو په پرتله ډیر د کورنیو تاوتریخوالو له ګواښ سره مخ دي.[۷]
- په هغو فرهنګونو کې چې له نارینه ؤ څخه تمه کیږي چې خپله کورنۍ اعاشه او اباطه کړي، داسې انګیرل کیږي چې د ماینونو/ له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د پیښې **له امله د عاید د له لاسه** ورکولو رواني صدمه دیری نارینه ؤ ته متوجه ده.[۸] ښځینه قربانیانې ښایي له راز راز رواني ننګونو سره مخ شي. هغه ډله یې چې ټپونه یا اختلالونه یې د لیدلو وړ وي ښایي **یواځې پریښودلې شي او د واده له ګټو بې برخې** شي. له نورو څخه ښایي تمه داسې وي چې په لږ ملاتړ یا هیڅ ملاتړ سره **په هماغې کورنۍ کې ژوند ته دوام ورکړي او د پخوا په شان خپله د زیږون دنده** تر سره کړي.
- کله چې نارینه د ماینونو/ جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله معلول یا مړه کیږي، **د عاید د ترلاسه کولو او د کورني ژوند د پر مخ بیولو مسؤولیت** اکثراً ښځو ته متوجه کیږي چې په ورته وخت کې د قرباني اصلي پالونکي هم وي.

## د جندر د انډول د لوړتیا په برخه کې بریالۍ پروژې

**په بوسنیا او هرزیګوینا** کې د ماینونو د قربانیانو پروګرام (LSI)په خپلو ټولو فعالیتونو کې جندر په نظر کې لري. د ماینونو د قربانیانو پروګرام هڅه کوي ترڅو قربانیان وپیژني او ورسره مرسته وکړي. دا یو ستونزمن کار دی ځکه چې د بوسنیا د زړو سرتیرو نارینه سالاره اداري، چې ماینونو د قربانیانو پروګرام ورسره همکاري لري، د ښځو اړوند معلوماتو ته یې لومړیتوب ورکړی ندی. د ماینونو د قربانیانو پروګرام ډاډ ترلاسه کوي چې له ښځینه قربانیانو سره د مرستې لپاره ډیرې سرچینې ځانګړې شي ترڅو خپلو د بیارغونې موخو ته ورسیږي. د بیلګې په توګه، کیدای شي چې د ماینونو د قربانیانو پروګرام د پوهاوي ورکولو د برخې کارکوونکي، چې نارینه دي، له ښځو سره بدل رابدل شي. د ماینونو د قربانیانو پروګرام د ښځو پیاوړتیا لپاره راز راز پروګرامونه لري (د ښځینه قربانیانو د ځانګړو غونډو جوړول د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو، د همسیالانو له خوا د ملاتړ او د اقتصادي پیاوړتیا په اړه د بحث لپاره). د قربانیانو ښځې د خپلو میړونو د بیارغونې په بهیر کې ښکیل کیږي. همدارنګه د ماینونو د قربانیانو پروګرام یقیني کوي چې د ښځو غږ په بیلابیلو برخو کې په تیره بیا د کوچنیو کارونو د پرانیستلو یا پراختیا په برخه کې نا اوریدلي پاتې نشي.[۹]

**په تاجکستان** کې د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ پروګرام همغږۍ کوونکې اداري له ۳۳۱ کلیو څخه د کورنیو د ۸۰ تنو ښځینه چلوونکو د شبکې په رامنځ ته کیدو کې مرسته وکړه. هغوی د سرحدي سیمو په ګډون په لیرې پرتو یا ناامنه سیمو کې د اړیکتیايي وګړو په توګه دنده تر سره کړه. هغوی له قربانیانو سره د مرستې په اړه خپلو کلیو ته د پوهاوي ورکولو په کار کې له اړینو مرستو څخه برخمن شول.[۱۰]

# دولتونه کومې چارې ترسره کولی شي؟

**د ژوند د کیفیت د لوړولو په برخه کې:**

- پروژې او پروګرامونه ددې ترڅنګ چې قربانیانو (اکثره **نارینه او هلکانو**) ته پام کوي، باید **غیر مستقیم** قربانیان یعنې پالونکي او د قربانیانو د کورنۍ غړي (اکثره **ښځې او ماشومان**) هم هیر نکړي.
- ډاډ ترلاسه کول چې خدمتونه د نارینه ؤ، ښځو، هلکانو او نجونو **د اړتیاؤ ځواب** ووایي. د روغتیـــایي خدمتونو په برخه کې ډاډ ترلاسه کړي چې د ښځو لپاره د فزیکي **معاینو پر مهال ښځینه کـــارکوونکي شتون ولري او محرمیت** یې وساتل شي. په فني او کاري روزنیزو کړنو کې ډاډ ترلاسه شي چې **مهالـــویش یې** داسې برابر شوی وي چې هم نارینه او هم ښځې پکښې ګډون وکړای شي.

**خدمتونو ته د لاس رسي د ودی ورکولو په برخه کې:**

- د اطلاعاتو راټولول او د هغو قربانیانو (نارینه، ښځې، **هلکان او نجونې**) د شمیر په اړه راپور ورکول چې **د ښځو** (لکه خوندي امیندواري او مورنۍ روغتیا) **اود ماشومانو** (لکه د واکسیناســـیون کمپاینونـــه) د ځانګړو خدمتونو په ګډون خدمتونو ته لاسرسی لري.
- د ښځو او نارینه ؤ په ګډون د قربانیانو او معلولیت لرونکو ډلو او **سرچینو ته د هغــو د لاسرســـي او کنترول په ګډون د هغوی د دندو پر ځیړنې باندې** پانګونه.
- د روغتیایي کارکوونکو او سلاکارانو په منځ کې **د جندر د انډول ساتل** ترڅو د ښځو، نارینه ؤ، هلکانو او نجونو اړتیاؤ ته په ښه توګه رسیده ګي وشي.
- **د مناسبو امکاناتو د رامنځ ته کولو لپاره د تدابیرو** نیول ترڅو قرباني ښځې او ماشومان خدمتونو تـــه د لاسرسي وړتیا ومومي، په تیره بیا که مجبوره وي چې له کور څخه روغتیایي مرکز ته سفر وکړي.
- له نارینه ؤ او ښځو سره سلامشوره او د **پروګرامونو او پالیسیو** په طرحه، پلي کولو، څارنې او ارزونـــې کې د هغوی ښکیلول.

**قوانینو او پالیسیو ته د ودې ورکولو په برخه کې:**

- ډاډ ترلاسه کول چې د جندر پر بنسټ ولاړه تګلاره د ټولو پلانونو او پروګرامونو په **بودجه** کې په نظر کې نیول شوې وي: د عامه سرچینو تخصیص باید د نارینه ؤ او ښځو اړتیاوې منعکسې کړي او د اړتیا په صورت کې **د ښځو د پیاوړي کولو لپاره ځانګړي نوښتونه** وشي.
- په روانو عوایدو، لګښتونو او د بودجو **په تخصیص** کې د نارینه ؤ، ښځو، هلکانو او نجونو د اړتیـــاؤ او همکاریو په نظر کې نیول. د اړتیا په صورت کې د بودجې تعدیلول ترڅو ټولې ډلې ورڅخه برخمنې شي.

## پرمختګونه څرنګه اندازه کولی شو؟

معلوماتي پاڼې ځینی داسی برخې په ګوته کوي چې دولتونه کولی شي پکښـــې بدلونونه راولي. خدمتونو ته د لاسرسي او د پالیسیو او قوانینو په برخـــه کـــې پرمختګونه باید داسې وي چې په پایله کې د ژوند پر کیفیت باندې مثبتې اغیزې ولري.

**› د ژوند کیفیت:**

❊ د کورنیو او ټولنو په کچه پریکړو کې د معلولیت لرونکو ښځو او نارینه ؤ د ونډې ډیریدل. ❊ د ماینونو او جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د ښځینه کارکوونکو د مړګ ژوبلی کمیدل. ❊ د ښځینه قربانیانو تر مـــنځ د میـــندو د مړینې د کچې ټیټیدل. ❊ د قربانیانو تر منځ د کورنیو تـــاوتریخوالي د کچـــې کمیدل.

**› خدمتونو ته لاسرسی:**

❊ د هغو ښځو، نارینه ؤ، هلکانو او نجونو سلنه چې د رواني روغتیا، بیارغونې، او ټولنیزو او اقتصادي خدمتونو ته لاسرسی لري. ❊ د هغو ښځینه قربانیانو شمیر د عام نفوس په پرتله چې روغتیایي، جنسي او د زیږدیزې روغتیا خـــدمتونو تـــه لاسرسی لري. ❊ د نارینه ؤ کارکوونکو په پرتله د ښځینه کارکوونکو شـــمیر. ❊د هغو پروګرامونو شمیر چې د هغو معلولیت لرونکو ښځو ملاتړ کوي چې د تاوتریخوالي قرباني شوي دي.

**› قوانین او پالیسي ګانې:**

❊ د هغو قوانینو او پالیسیو لغو کول چې د جندر پر بنسټ تبعـــیض کوي.
❊ د سن او جنس په تفکیک سره د لومړني حالت یا بنسټ‌لیکې د معلوماتو شتون.
❊ د ښځو د پیاوړي کولو لپاره د بـــودجې شتون.

## نمونوي پروژه: په کمبوډیا کې د جندر کړنلاره (۱۱)


© Nicolas Axelrod / Handicap International

کنها په ښوونځي کې. د بون راني هون لومړنی ښوونځی. میموت کمپونګ چام، کمبوډیا، ۲۰۱۱.

**پیژندل شوې ستونزه:** په کمبوډیا کې، د ډیری نورو هیوادونو په څیر، معلولیت لرونکي وګړي له تبعیض سره مخ دي. په ځانګړې توګه د دغه هیواد په کلیو کې معلولیت لرونکې ښځې هغه څه سره چې UNESCAP ورته «دریځ ګونی تبعیض» وایي، مخامخ دي چې عبـــارت دی لـــه ښځې توب، بیوزلۍ او معلولیت څخه. هغه ستونزې پیچلې دي چې حقوقو ته د لاسرسي او د هغو د اړتیاؤ د له منځه تللو په لاره کې شتون لري او که د جندر کړنلاره په پروژو کې په نظر کې ونه نیول شي، دغه خنډونه به په خپل حال پاتې شي او یا به هم لوی شي.

**د پروژې موخې:** ۱. له قرباني شویو او معلولیت لرونکو نارینه ؤ او ښځو سره د اړتیا وړ مرستې کول ترڅو خپل شخصي کاروبار جـــوړ او د خپل ژوند کیفیت لوړ کړي. ۲. د چارواکو او د خدمتونو وړاندې کوونکو مراجعو روزل ترڅو معلولیت لرونکي وګړي په خپلو خدمتونو کې شامل کړي.

**د جندر پر بنسټ ولاړه تګلاره:** دغې پروژې: ۱. په **ونډه اخیستلو او فرصتونو** کې د ښځو او نارینه ؤ تر منځ د انډول د رامنځ ته کولو لپاره اشتراکي کړنلاره وکاروله او د هغو راز راز دندې او مسؤولیتونه یې په نظر کې ونیول. ۲. د فني او کاري روزنو مهال ویش یې داسې **عیار کړ** چې ښځې او نارینه پکښې ګډون وکړای شي. ۳. اطلاعات یې د **جنس، سن او ټولنیزو — اقتصادي شاخصونو** له مخې د ژونـــد د کیفیـــت د معیارونو پربنسټ چې د نارینه ؤ او ښځو له خوا تعریفیږي، راټول، تفکیک او وړاندې کړل. ۴. ډاډ یې ترلاسه کړ چې **کارکوونکي په ټولـــو ځانګو کې له نارینه او ښځو** څخه جوړ وي. ۵. داسې پلان یې جوړ کړ چې د پروژې ۴۵سلنه مستفیدین ښځې وي او په عمل کې دغه ســـلنه ۴۹سلنه ته ورسیدله. ۶. **د خوندي او پایله لرونکې امیندوارۍ په ګډون روغتیایي** خدمتونو ته د ښځو لاسرسی؛ او **د کورنی تـــاوتریخوالي د مخنیوي پروګرامونو** ته د ښځو او نارینه ؤ لاسرسی یې آسانه کړ.

**پایښت:** د یوې ځایي نادولتي مؤسسې د کارکوونکو په ډله کې معلولیت لرونکي وګړي هم شامل دي. دغه پروژه په خورا زیانمن ولایت کـــې فعالیت لري او په خپلو ټولو چارو کې جندر مراعاتوي. ځایي چارواکي او د خدمتونو وړاندې کوونکي وروزل شول ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې معلولیت لرونکي وګړي د هغوی خدمتونو ته لاسرسی ولري. انفرادي ملاتړ د یوه کال لپاره د کاروبار له پیلولو وروسته د هغه د بریالي کیدو د چانس د ډیریدلو په موخه تر سره شول.

**مهم شاخصونه:** په پروژه کې ۵۶۰ کسانو ګډون وکړ چې له دې ډلې څخه ۷۸سلنه یې د لومړي کال په اوږدو کې خپلـــو عوایـــدو تـــه وده ورکړه. ۱۰۰سلنه یې په عمومي کچه د ژوند د کیفیت له لوړیدلو څخه خبر ورکړ (د عاید، خوړو، ښوونځي، روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي او ټولنیز ګډون به شمول). تر ټولو د لوړې ودې خبر ښځو او تر ټولو زیانمنو نارینه ؤ ورکړ. ښځو په ځانګړې توګه له دې امله د خوښۍ اظهار وکړ چې د یوه مناسب میړه په موندلو او د کورنۍ په جوړولو کې یې چانسونه ډیر شوي وو.

**د پروژې موده او بسپنه ورکوونکې اداره:** د دغې پروژې موده ۳۰ میاشتې وه او د اروپا د اتحادیې له خوا تمویل شوه.

**پلې کوونکې مرجع:** هندیکپ نړیواله مؤسسه او د OEC سیمه ییزه نادولتي مؤسسه. د کمبوډیا د معلولینو ټولنه په دویم پړاو کې ورسره ملحقه شوه.

## اخځلیک:


(1) UNESCAP *Incheon Strategy to Make the Right Real for Persons with Disabilities in the Asia Pacific.* 2012 | (2) ICBL, CMC. *Landmine and Cluster Munition Monitor.* 2012 Report | (3) (7) (8) Swiss Campaign to Ban Landmines. *Gender and landmines: from concept to practice.* 2008 | (4) Committee on the Elimination of Discrimination against Women. *Recommendation 18 – Disabled Women.* 1991 | (5) UNHCHR. *Thematic study on the issue of violence against women and girls and disability .* 2012 | (6) UNDP. *Facth-seet MDG Goal 3 : Promote gender equality and the empowerment of women.* 2010 | (9) Landmine Survivor Initiatives Website (accessed March 2013) and email exchanges. March 2013 | (10) UN. *Gender guidelines for Mine Action Programs.* 2010 | (11) HI. *Good practices from the project Towards Income Generating Activities.* 2010; UNDP, UNIFEM. *A guide to gender-sensitive indicators in basic service delivery.* 2009


HANDICAP INTERNATIONAL

۸

# له قربانیانو سره د مرستې ګډه موضوع: پیاوړتیا
# پراختیایي سکتور: پیاوړتیا

## پیاوړتیا څه ده؟

**پیاوړتیا** داسې یو بهیر دی چې پر مټ یې د وګړو په ځان باندې اعتماد، وړتیا او عزت نفس لوړیږي ترڅو خپل حقوق درک کړي او و یې غواړي، پریکړې وکړي، خپل نظرونه او غوښتنې مطرح کړي او د ټولنيز ژوند په ټولو اړخونو کې ونډه واخلي.[۱] د پیاوړتیا موخه دا ده چې قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي خپلواک شي او خپل حقوق او مسؤولیتونه نورو ته په ورته ډول وکاروي.

**په انفرادي کچه،** پیاوړتیا شخص ددې جوګه کوي ترڅو د خپل ژوند مسؤولیت په غاړه واخلي او د خپل حق د کارولو لپاره – د نورو غوندې د ورته اختیارونو په درلودلو سره په ټولنیزو چارو کې د ګډون په شان – اقدام وکړي. په ډله ییزه کچه، د یوه دموکراتیک او لـه معلولیت لرونکو وګړو او قربانیانو څخه د استازیتوب کوونکي خوځښت وده یو اساسي شرط شمیرل کیږي څو له دې څخه د ډاډ ترلاسه شـي چې حکومتونه، د خدمتونو وړاندې کوونکي مرجع ګاڼي او په ټولیزه توګه ټوله ټولنه د هغوی حقوقو او اړتیاؤ ته ځـواب وايـي. همدارنګـه ډاډ ورکوي چې هغوی د هغو قوانینو، پالیسیو او پروګرامونو په پلان جوړولو، پلي کولو او څارنه کې، چې هغوی پورې اړه لـري، بـښکیل وي او پکښې فعاله ونډه ولري.[۲] د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو انفرادي او ټولیزه پیاوړتیا د ټولشموله ودې د دوه ګونې تګلارې یوه برخه ده.

### د حقیقتونو لنډیز

- پیاوړتیا یو پیچلی او اوږدمهاله بهیر دی او داسې څه ندي چې په څو ورځو کې رامنځ ته شي یا چا ته ورکړل شي.[۵]
- په پیاوړتیا کې معلوماتو ته لاسرسي شـامل دی ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې وګـړي لـه فرصتونو څخه د برخمن کیدلو، خدمتونو ته د لاسرسي، د خپلو حقوقو د کارولو، اغیزمنـو خبرو او له چارواکو څخه د حساب غوښتلو په اړه ښه سمبال شوي وي.[۶]

## د پیاوړتیا برخې په لاندې ډول دي:

- **فردي پیاوړتیا:** د وګړو د اړتیاؤ سره سم مرستو ته ویل کیږي چې فوق العاده زیانمنونکو قربانیانو لپاره اړینې ګڼل کیږي ترڅو خپله خپلواکي غښتلې کړي او د خپل ژوند موخو ته ورسیږي. دغه بهیر شخص په دې توانوي چې پر نفس د اعتماد، نوښتګري او د ژوند د کنترول په لاس کې اخیستلو له لارې خپلې وړتیاوې او د پریکړو توان پیاوړی کړي.[۳]
- **ډله ییزه پیاوړتیا:** داسې یو بهیر دی چې له لارې یې د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو ډلې لکه د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو ټولنې، مؤسسې، ځان مرستـتې ډلـې او د معلولیت لرونکو وګړو له خوا جوړ شوي فدراسیونونه چې د همدوی له خوا رهبري کیږي، خپلې وړتیاوې د خپلو همسیالانو د استازیتوب او سمبالتیا، د پالیسیو او کړن دودونو د تعدیل لپاره د دادغوښتنې، د بشر له حقوقو څخه د څارنې او دخپلو غړیو د پیاوړتیا په موخه لوړوي. دغه ډول ټولنې یو د بل د زغمونکو ټولنو په وده کې مهم رول لوبوي ، چیرته چې د قربانیانو او د معلولیت لرونکو وګړو حقوق په بشپړه توګه مراعاتیږي.[۴] د معلولیت لرونکو وګړو ټولنې، د قربانیانو د ټولنو په ګډون، هم خدمتونو ته د لاسرسي په پراختیا کې مهمه ونډه لري.

### حقوقي او د پالیسي چوکاټونه

- **د وینتیان کاري پلان:** په ضمني توګه په ۳۰، ۳۱ او ۳۲ شمیره اقداماتو کې
- **د کارتاجینا کاري پلان:** څلورمه برخه، ۲۳ فقره،
- **د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو کنوانسیون:** د دریيمې مادې په لړ کې

### اصلي ښکیل لوري څوک دي؟

د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو **ټولنې**، د مدني ټولنې نورې مؤسسې لکه د ښځو ټولنې | له قربانیانو سره د مرستې په ټولو اړوندو سکتورونو کې د **خدمتونو د وړاندې کولو ارګانونه | وزارتونه:** د ټولنیزو چارو وزارت یا هر وزارت چې د معلولیت لرونکو وګړو او له قربانیانو سره د مرستې د چارو مسؤول وي، ټول نور دادغوښتونکي وزارتونه | **نړیوالې شبکې:** د معلولیت نړیوال شـریکان، دمعلولیت او پراختیا نړیوال کنسرسیوم، د معلولیت لرونکو وګړو نړیواله ټولنه. **نړیوال سازمانونه:** د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسیون دارالانشا او د ملګرو ملتونو د سازمان نورې اړونـدې ادارې.

## په لړ عاید لرونکو هیوادونو کې عامې ننګونې کومې دي؟

- **ډیر شمیر معلولیت لرونکي وګړي خوارځواکي په خپلو کورنیو کې تجربـه کـوي.** کیدای شي کورنۍ په شدت سره د هغوي ملاتړ وکړي خو په ورته وخت کې له حـد څخه ډیر تر ساتنې لاندې ونیول شي؛ او یا هم مردود ګڼل کیږي او له ټـولنیز ژونـد څخه رټل کیږي، چې دغه عمل ددې پر ځای چې د هغوی د غه احساس چې ګواکې د بدلون استازي دي راوپاروي، برعکس د هغوی دا احساس پیاوړی کـوي چـې دوی قربانیان دي.
- د عامه خدمتونو او نورو خدماتي سکتورونو مؤظفین ښایي **د قربانیـانو او معلولیـت لرونکو وګړو له حقوقو څخه خبر نه وي** او په عملي توګه نه پوهیږي چې څرنګـه د اړتیا وړ آسانتیاوې برابرې کړي ترڅو هغوی هم خدمتونو ته لاسرسی ولري.
- کیدای شي حکومتي کارکوونکي په دې پوه نه وي چې دا د هغـو دنـده ده چـې د معلولیت لرونکو **وګړو فعال ګډون خوندي کړي.** ښایي هغوی نه پوهیږي چې څرنګه دغه ګډون پیل کړي، او یا هم کیدای شي له یوه شخص یا سازمان سره خبرې اتـرې پیل کړي پرته له دې چې پوه وي چې دغه شخص یا سازمان تر کومه بریده په رښتـیا سره له دغه قشر **څخه استازیتوب کوي او ورته حساب ورکوونکی دی.**
- په ځینو هیوادونو کې، د معلولیت لرونکو وګړو ټولنې د مدني ټولنې یوڅه نوي غـړي بلل کیږي، ځکه نو ډیری د استازیتوب کولو، دموکراتیکې ادارې، د غړیو د سمبالتیا، د پوهې او معلوماتو د شریکولو او د پایښت د استراتیژیو **له اړخه د خپلو وړتیاؤ لوړولو ته اړتیا لري.**

## د پیاوړتیا په برخه کې بریالۍ پروژې

**په کولمبیا کې،** یو سیمه ییز حکومت وروسته له دې چې پوه شو چې د ټـولنې پـر بنسټ ډیری د بیارغونې پروګرامونه یې له ځايي مالکیت څخه بـې برخـې دي، د FUNDISCA په نوم **د معلولیت لرونکو وګړو د یوه بنیاد** د جوړیدو ملاتړ یې وکړ. دغه بنیاد د روزنیزو پروګرامونو د جوړولو او د ټولنې پـر بنسـټ د بیـارغونې د پروګرام په چوکاټ کې د رهبري د دندو اخیستلو او د خپل ژونـد د پلانونـو پـه جوړولو او کنترول کې د فعال رول لوبولو ته د هغوی د هڅولو له لارې د معلولیت لرونکو وګړو د پیاوړي کیدلو په بهیر کې مرسته وکړه. FUNDISCA معلولیـت لرونکي وګړي، والدین، پالونکي، بیځایه شوي کسان، ځايي خلک، د ټولنې غړي او سیمه ییز مشران سمبال کړل. دغه بنسټ ۲۱۸ غړي او ۲۰ د ټولنې پـر بنسـټ مرسته د بیارغونې کارکوونکي لري چې د پرځان باور، په کـورنۍ کـې ګـډون، خدمتونو ته لاسرسی او له سیمه ییزو چارواکو سره ډیالوګ پیاوړی کوي.[۷]

**په یوګاندا کې،** د یوګاندا د ماینونو د قربانیانو ټولنې (ULSA) له ۲۰۰۵ کال څخه راهیسې **د قربانیانو د وړتیـاؤ د لوړولو په ډګر کې د رواني – ټولنیز ملاتړ او د رهبرۍ په اړه د روزنیزو پروګرامونو د جوړولو له لارې** د همسیالانو له خوا د ملاتړ، د راکړې ورکړې د سفرونو، تفریحي فعالیتونو، معیشتي پروژو او روغتیایي او د بیارغونې خدمتونو تـه د راجع کولو د سیستمونو په شان د ټولنیز او اقتصادي ملاتړ د میکانیزمونو په رامنځ ته کولو سره کار کړی دی. ULSA د ماینونو د مخنیوی تړون، د غنچه ییزو مهماتو د کنوانسیون او د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسیون په اړه پوهاوی ورکوي او د ماین پاکۍ په هکله معلومات راټول او خپروي. د یوګاندا د معلولیت لرونکو وګړو ملي اتحادیه، د معلولیت لرونکو وګړو ملي شورا او د جندر، کار او ټولنیزې پراختیا وزارت له ULSA سره همکـاري کـوي. د ULSA د بنسټ له ایښودلو څخه راپدیخوا دغې ادارې له کابو ۴۰۰ قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو سـره کـار کړی دی. په دغې همکارۍ کې د کاسیسی، لیرا او اګاګو/پادیر د سیمو له قربانیانو سره مستقیمې مرستې شـاملې دي او هم یې د یوګاندا په ۱۰ ولسوالیو کې ۴۰ سیمه ییز رهبران روزلي دي.[۸]

## دولتونه کومې چارې ترسره کولی شي؟

### د ژوند د کیفیت د لوړولو په برخه کې:

- د قربانیانو د اړتیاؤ او سرچینو د پیژندلو او موخو ته یې د رسیدلو لپاره د یوه کاري پلان د طرحه کولو په غرض له قربانیانو سره **خصوصي ټولنیزې مرستې.**
- د قربانیانو له کورنیو سره کار کول ترڅو پوه شي چې څرنګه د کورنۍ یو غړی چې معلولیت لري پیاوړی کړي او د حقوقو لپاره یې دادغوښتنه وکړي.
- له قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو سره مرسته کول ترڅو هغوی د قربانیانو یا د معلولیت لرونګو وګړو له **سیمه ییزو ټولنو او د عامو خلکو له نورو ټولنو سره یوځای شي.**

### په عمومي کچه د پیاوړتیا د وضعیت د ښه والي په برخه کې

- د معلولیت لرونکو وګړو له ټولنو څخه ملاتړ کول ترڅو هغوی **د ځان ارزونه** وکړي او هغه برخې په نښه کړي چې پکښې د خپلو وړتیاؤ لوړولو ته اړتیا لري.
- د معلولیت لرونکو وګړو **د ټولنو د وړتیاؤ لوړول** په ځایي، سیمه ییزه او ملي کچه د هغو د غړیو د روزلو له لارې. دغه روزنې کیدای شي د پروژې د مدیریت او د سرچینو د سمبالولو په هکله وي چې د معلولیت لرونکو وګړو ډیری ټولنو ته یوه ننګونه شمیرل کیږي، او همدارنګه د قوانینو او پالیسیو د وضع کیدو پر بهیر د اغیزې شیندلو لپاره دادغوښتنه، پوهاوی ورکول، د خلکو په منځ کې وینا، د رسنیو سمبالتیا او دا چې څرنګه دغه وسیلې په استراتیژیکه توګه د استراتیژیکو موخو سره سم وکارول شي.
- د بشر د حقوقو، د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو کنوانسیون او د هیواد په کچه د بشر د حقوقو د څارنې په شان بیلابیلو برخو کې د **روزنیزو فرصتونو** په هکله د معلوماتو برابرول.
- د معلولیت لرونکو وګړو له ټولنو څخه ملاتړ کول ترڅو د ادارې، د معلوماتو د شریکولو او حساب ورکولو په برخو کې د **استازي کوونکو مؤسسو** په توګه د خپلو دندو په ترسره کولو کې سمون راولي.
- **د معلولیت لرونکو وګړو د ټولنو تر منځ د زده کړه ییزو یا د راکړې ورکړې د سفرونو په تنظیمولو کې مرسته**، چې ګډون کوونکي یې له راستنیدو څخه وروسته د لیدو کاتو، د معلوماتو د شریکولو او د ترلاسه شویو تجربو د خپرولو له لارې خپله پوهه نورو ته انتقال کړي.
- په ځایي، سیمه ییزه او ملي کچه د ماینونو د مخنیوی تړون، د غونچه ییزو مهماتو د کنوانسیون او د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسیون د پلي کولو او څارنې په ټولو اړخونو کې **له قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو څخه د استازیتوب کولو** اسان چاري کول.
- **ډاډ ترلاسه کول چې د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو ټولنې د پالیسي جوړولو، د پروګرامونو د جوړولو، او په ملي، سیمه ییزه او ځایي کچه د څارنې او ارزونې** څخه نه یوازې له قربانیانو سره د مرستې په برخه کې بلکې له ټولو بهیرونو او سکتورونو څخه چې هغوی او د هغوی د ټولنې غړو پورې تړاو ولري، خبر وي او پکښې فعاله ګډون ولري.

## پرمختګونه څرنګه اندازه کولی شو؟

معلوماتي پاڼې ځینې داسې برخې په ګوته کوي چې دولتونه کولی شي پکښې بدلونونه راولي. خدمتونو ته د لاسرسي او د پالیسیو او قوانینو په برخه کې پرمختګونه باید داسې وي چې په پایله کې د ژوند پر کیفیت باندې مثبتې اغیزې ولري.

### انفرادي پیاوړتیا

❊ قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي پر نفس د اعتماد له ډیریدو او په کورنیو او ټولنیزو چارو کې له ګډون څخه خبر ورکړي. ❊ قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي خپلو موخو ته د رسیدلو وړتیا ولري. ❊ د هغو قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو شمیر چې په خپلو حقوقو خبر دي او پوهیږي چې څرنګه خپل حقوق وغواړي. ❊ قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي په خپله ټولنه کې د خدمتونو د کچې له لوړیدلو څخه خبر ورکړي. ❊ قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي له استازیتوب کوونکو ډلو او سازمانونو سره یوځای شي.

### ډله ییزه پیاوړتیا

❊ د معلولیت لرونکو وګړو د ټولنو د غړیو او کارکوونکو سلنه چې د پروژې په پای کې یې وړتیا د پروژو په مدیریت، دادغوښتنې، د بشر حقوقو، د مالي سرچینو په برابرولو او د بسپنه ورکوونکو سرچینو په تنوع کې لوړه شوې وي. ❊ د معلولیت لرونکو وګړو د ټولنو د اداري وړتیاو لوړیدل: د لیدو کاتو شمیره، د پریکړو راټه میکانیزمونه، تفتیش. ❊ د معلولیت لرونکو وګړو د ټولنو د غړو او کارکوونکو او د معلولیت لرونکو وګړو د ټولنو د شبکې ترمنځ د معلوماتو د شریکولو لپاره د یوه روښانه میکانیزم شتون. ❊ د دادغوښتنې یو هراړخیز پلان په همغږې توګه د معلولیت لرونکو وګړو د ټولنو او د مدني ټولنې د نورو مؤسساتو تر منځ تطبیق شوی وي. ❊ د معلولیت لرونکو وګړو ټولنې د یو شمیر رسمي پریکړه کوونکو جوړښتونو او کمیټو غړیتوب ولري. ❊ د معلولیت لرونکو وګړو ټولنې په فعاله توګه له قربانیانو سره د مرستې په ګډون د پالیسیو او پروګرامونو د پراختیا، څارنې او ارزونې په یوشمیر غونډو کې په فعاله توګه ګډون ولري.

## نمونوي پروژه: د بندیز مدافعان (۹)



د بندیز مدافعان او کمپاین کوونکي د غونچه ییزو مهماتو په باب یوه کنفرانس کې، دوبلین، ۲۰۰۸.

**«د بندیز مدافعان»** د غنچه ییزو مهماتو د قربانیانو د دادغوښتنې یوه ډله ده چې غړي یې له ۱۲ هیوادونو څخه سره راټول شوي دي. دغه ډله په ۲۰۰۷ کال کې د هندیکپ نړیوالې مؤسسې په ملاتړ رامنځ ته شوه.

**پیژندل شوې ستونزه:** د غنچه ییزو مهماتو د بندیز په بهیر کې په سیستماتیکه توګه د قربانیانو نه ښکیل توب (خپله قربانیان، د ټپي یا مړه شوي شخص د کورنۍ غړي، هغه وګړي چې له ماینونو او مهماتو څخه په اغیزمنه شوې سیمه کې ژوند کوي).

**موخې:** د قربانیانو پیاوړی کول — چې د بندیز د مدافعانو په نوم یادیږي — د ځپلو حقوقو د پیژندلو او ورڅخه د دفاع لپاره؛ له هغو نړیوالو هڅو څخه ملاتړ چې له غونچه ییزو مهماتو څخه د نړۍ د خلاصون لپاره روانې دي؛ په انسانانو باندې د غونچه ییزو مهماتو د اغیزو په هکله د پوهاوي د کچې لوړول او په ملي او نړیواله کچه په بشپړه توګه د هغو د بندیدلو لپاره دادغوښتنه.

**کړنې:** ۱. په اغیزمنو شویو هیوادونو کې د قربانیانو **پیژندل او د هغوی د پوهاوي د کچې** لوړول. ۲. د بندیزد **مدافعانو ملاتړ او روزل** د هغوی د همسیالانو له خوا د هغوی د سلامتیا لپاره او په دادغوښتنه کې په اغیزمنه توګه د ښکیل کیدلو په موخه د هغوی د وړتیاؤ لوړول. ۳. د بندیز د مدافعینو ملاتړ ترڅو هغوی له نورو قربانیانو، د معلولیت لرونکو وګړو له ټولنو او د مدني ټولنې له شبکو او مؤسسو سره د اړیکو په تامینولو وتوانیږي. ۴. په ملي او نړیواله کچه د بندیز د مدافعینو د دادغوښتنې د نوښتونو د آسانچارۍ په موخه هغوی سره **تخنیکي، لوژستیکي او مالي مرستې کول.**

**پایښت:** د بندیزمدافعین د همسیالانو له خوا د ملاتړ په چارو کې ونډه لري او د غونچه ییزو مهماتو د کنوانسیون، د ماینونو د مخنیوی تړون او د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسیون په اړه په ګڼ شمیر روزنیزو پروګرامونو کې او همدارنګه د دادغوښتنې او مدیریت په روزنو کې یې ګډون کړی دی. هغوی له مدني ټولنې سره خپلو اړیکو ته پراختیا ورکړې او د حکومتي چارواکو له خوا د اړوندو ټولنو د استازیو په توګه پیژندل کیږي. د بندیز مدافعین د پالیسي په اړه په ځایي، ملي او نړیواله کچه بحثونو کې په فعاله توګه ونډه اخلي. د هغوی ژمنتیا د غونچه ییزو مهماتو د کنوانسیون او د ماینونو د مخنیوی تړون په نړیواله کچه د پلي کولو، په تیره بیا له قربانیانو سره د مرستې په برخه کې، او په پراخه توګه د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو لپاره د دادغوښتنې په لاره کې دوام لري.

**مهم شاخصونه:** + د بندیز ۳۲ مدافعان په ۱۲ هیوادونو کې شتون لري چې ۱۱ تنه یې ښځې دي. + د غونچه ییزو مهماتو او د ماینونو د مخنیوی د تړون په اړه څه د پاسه ۲۵ کنفرانسونو کې او همدارنګه له قربانیانو سره د مرستو په باب په ۴ سیمه ییزو ورکشاپونو کې د بندیزد مدافعانو فعال ګډون او همکاري. د ملاتړ فعالیتونه یې په اړوندو هیوادونو کې دوام لري. + په ۷ رسمي روزنیزو پروګرامونو او له کنفرانس څخه مخکې د پوهاوي ورکولو په غونډو کې د بندیز د مدافعانو ګډون.

**موده او بسپنه ورکوونکي:** شپږ کاله، د ۲۰۱۳ کال په مارچ میاشت کې یې دوام درلود. د ناروې او بلجیم د بهرنیو چارو وزارتونه، د سوداګریو او بهرنۍ پراختیا د همکارۍ څانګه. پخواني همکاران: د ویلز شهزادګۍ دیانا یادګاري وجهي صندوق، هالند، آسترالیا، آیرلند او اطریش.

## اخځلیک:

[1][4] HI Policy Paper. *Support the Organizations Representative of Persons with Disabilities.* 2011 | [2] Department for International Development (DFID, UK). *Disability, Poverty and Development.* 2000 | [3] HI. *Personalized social support: thoughts, methods and tools for proximity services.* 2010 | [5][6][7] WHO, UNESCO, ILO, IDDC. *CBR Empowerment Guidelines.* 2010 | [8] Uganda Landmine Survivor Association website and emails. *www.uganda-survivors.org* | [9] HI. *Ban Advocates Project Evaluation.* 2009; HI. *Advocacy with victims: Good practices and lessons learned in influencing policy.* 2013

HANDICAP INTERNATIONAL

# ۹ له قربانیانو سره د مرستې ګډه موضوع: لاسرسی
# پراختیايي سکتور: خدمتونو ته لاسرسی

## لاسرسی څه ده؟

**د لاسرسي** مفهوم دا دی چې ټول وګړي د خوځښت آزادي ولري او له خدمتونو څخه په خوندي توګه او د سن، جنس او معلولیت په نظر کې نیولو پرته کار واخیستلی شي.[۱] لاسرسی د «ټولشموله طراحی» له مفکورې سره تړاو لري. ټولشموله طراحي په دې معنا ده چې **ټول تولیدات او خدمتونه باید د امکان تر بریده پرته له کومې ځانګړې طراحۍ څخه ټولو ته د استفادې وړ وي.**[۲] (د بیلګې په توګه، یوه میلان لرونکې سطحه چې په سمه توګه جوړه شوې وي د ټولو لپاره د استفادې وړ ده او پکار به نه وي چې د معلولیت نه لرونکو وګړو لپاره یې په څنګ کې یوه زینه هم جوړه شي.) د لاسرسي موخه دا ډاډ ترلاسه کول دي چې فزیکي چاپیریال او معلومات د ټولو لپاره او **پرته له فزیکي، اړیکتیايي یا سلوکي خنډونو** څخه په عزتمندۍ او خپلواکۍ سره د لاسرسي وړ وي. لاسرسي **د ګډون، خوځښت او د اړیکو د ټینګولو له لارې** د معلولیت لرونکو وګړو د ژوند د کیفیت په لوړوالي کې مرسته کوي او همدارنګه **ټولې ټولنې** ته، د زړو کسانو، د مؤقتو اختلالونو لرونکو کسانو، ماشومانو او امیندواره ښځو په ګډون، ګټور ثابتیږي. **ځکه نو لاسرسی یو محدودیت نه بلکې یو ډول د ارزښت لوړول دي.**

د ژوند د کیفیت په لوړوالي کې د لاسرسي اهمیت ته په پام سره، په لاسرسي باندې په تیره بیا **خدمتونو ته په لاسرسي** باندې ډیر ټینګار کیږي. د لاسرسي مفکوره په لاندې شپږو معیارونو تعریفیږي: **شتون، د لاسرسي وړ، ارزانه، د منلو وړ، حساب ورکونه او له تخنیکي پلوه غوره کیفیت.**[۳] پکار ده چې ټول خدمتونه، د هغو خدمتونو په ګډون چې له ماینونو او جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو څخه په اغیزمنو شویو سیمو کې وړاندې کیږي، دغه شپږ معیارونه پوره کړي.

### د حقیقتونو لنډیز

- په ۲۰۱۱ کال کې ۱۲ هیوادونو کې د نړیوالو مرستو د کمیدلو او یاهم د نویو جګړو د رامنځ ته کیدلو یا د زړو شخړو د تازه کیدو له امله خدمتونو ته د قربانیانو د **لاسرسي په برخه کې په شا تګ شوی دی.**[۴]
- کله چې یو شخص بیوزله وي او معلولیت هم ولري، خدمتونو ته په **لاسرسي کې له جدي محدودیتونو** سره مخ کیږي. دا ستونزه په خپل وارسره د هغه د بیوزلې د کمیدلو د فرصتونو د کمښت لامل هم ګرځي.[۵]
- **د معلولیت پر بنسټ د تبعیض اغیزې،** په تیره بیا د زده کړې، کارموندنې، هستوګنې او ترانسپورت په برخو کې شدیدې اوسیدلې دي.[۶]

**لاندې طریقې خدمتونو ته په لاسرسي کې مرسته کوي او له دې امله معلولیت لرونکو وګړو ته یې د استفادې وړ ګرځوي:**

- **بررسي:** د هغو ننګونو او لومړیتوبولو په ښه توګه **درک کول** چې د خدمتونو وړاندې کوونکي د لاسرسي له نظره ورسره مخ کیږي.
- **معلومات:** د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو او اړتیاؤ په باب د خدمتونو د وړاندې کوونکو د **پوهې د کچې** لوړیدل.
- **پوهاوی:** د معلولیت لرونکو وګړو پر وړاندې د خدمتونو د وړاندې کوونکو د منفي **چلند بدلول.**
- **روزنه:** د خدمتونو د وړاندې کوونکي د **عملي مهارتونو** وده ترڅو خدمتونه د معلولیت لرونکو وګړو لپاره د لاسرسي وړ وګرځي. په دې پوهاوي کې دا هم راځي چې څرنګه کولی شو فزیکي چاپیریال اکثره خلکو ته (د هغو کسانو په ګډون چې فزیکي یا نور اختلالونه لري) د لاسرسي وړ وګرځوو؛ او څرنګه کولی شو له هغو وګړو سره چې د اوریدلو، لیدلو یا عقلي اختلالونو سره مخ دي اړیکه ټینګه کړو.
- **دادغوښتنه:** د خدمتونو د وړاندې کوونکو او اړوندو ادارو په **پالیسیو** کې بدلون راوستل د معلولیت لرونکو وګړو د ګډون په موخه.
- **لارښوونه:** د خدمتونو وړاندې کوونکو ته په دوامداره توګه لارښوونه کول ترڅو د ټولو کارکوونکو په **پوهه، چلند او عملي مهارتونو کې یې ښه والی راشي او پالیسي ګانې په تل پاتې توګه تعدیل شي.**

### حقوقي او د پالیسي چوکاټونه

- **د غونچه ییزو مهماتو کنوانسیون:** د پنځمې مادې لومړۍ او دویمه فقرهA، د اوومې مادې لومړۍ فقرهK.
- **د وینتیان کاري پلان:** ۲۲ او ۲۵ شمیره اقدامونه
- **د کارتاجینا کاري پلان:** څلورمه برخه، ۲۵ شمیره اقدام
- **د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو کنوانسیون:** درییمه او نهمه ماده

### اصلي ښکیل لوري څوک دي؟

- د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو **ټولنې**
- له قربانیانو سره د مرستې د سکتور د **خدمتونو وړاندې کوونکي**
- **وزارتونه:** بنسټیز جوړښتونه، ټول نور وزارتونه
- **نړیوال سازمانونه:** د معیاري کولو نړیوال سازمان او دملګرو ملتونو نورې اړوندې ادارې

### په لړ عاید لرونکو هیوادونو کې عامې ننګونې کومې دي؟

- قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي ډیری وختونه لاندې موارد خدمتونو ته د هغوی د لاسرسي د خنډ په توګه بیانوي: د خدمتونو د بیې د ورکړې لپاره د مالي سرچینو نشتوالی، جغرافیايي واټن، د معلولیت لرونکو وګړو په باب د خدمتونو د وړاندې کوونکو منفي ذهنیت، له فزیکي اړخه د خدمتونو د لاسرسي نه وړ اوسیدل، د اړیکو په ټینګولو کې ستونزې، د اداري کړندودونو له حده ډیره پیچلتیا او د شته خدمتونو په اړه د معلوماتو نشتوالی.
- ځیني سازمانونه کیدای شي د خدمتونو د وړاندې کوونکو د لاسرسي وړتوب د سمون په موخه د پوهاوي ورکولو غونډې جوړې کړي پرته له دې چې فکر وکړي چې ددې لپاره چې خدمتونه په ټولو کچو د لاسرسي وړ وګرځي، د لاسرسي وړ پاتې شي او ټولشموله وي پکار ده چې **عملي تخنیکي سلامشورې په منظمه او پرلپسې توګه** ورکړل شي.
- کیدای شي د خدمتونو وړاندې کوونکي په **دې فکر وي چې** معلولیت لرونکي وګړي یواځې تخصصي خدمتونو ته اړتیا لري خو له حقوقو او اړتیاؤ **څخه یې خبر ندي او یا هم لاسرسی یو «تجمل»** یا دویم لومړیتوب بولي، په داسې حال کې چې لاسرسی یو حق دی او کولی شو د خورا لږ بدلونونو په راوستلو سره ډاډ ترلاسه کړو چې خدمتونه له پیل څخه ټولو ته د لاسرسي وړ وي.[۷]
- په ځینو مواردو کې **خدمتونه په انډولیزه توګه نه وړاندې کیږي** او کیدای شي ځینو ځانګړو ډلو ته ډیر د لاسرسي وړ وي. کیدای شي زیانمنونکو وګړو ته د خدمتونو وړاندې کول د پوهې، وړتیا او په حکومت کې د ارادې د نشتوالي او یا هم د جګړې له امله اخلال شي.[۸]
- **د لاسرسي معیارونه** ښایي په قوانینو او پالیسیو کې راغلي نه وي. په هغو مواردو کې چې شتون لري بیا هم کیدای شي موجوده معیارونه او منل شوې کړنلارې په پام کې ونه نیسي، او یا هم کیدای شي له شرایطو سره عیار نه وي (لکه لیرې پرتې سیمې او کلي)؛ او یا هم کیدای شي په پراخه توګه درک شوي یا خپاره شوي نه وي.
- د خدمتونو د لاسرسي وړتوب سمون پراخه نده: کیدای شي هغه **ټولنیز کار یا خصوصي ټولنیز ملاتړ** چې قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي ورته اړتیا لري خدمتونو ته د لاسرسي جوګه ګرځوي، شتون ونه لري.

## بریالۍ پروژې چې خدمتونو ته لاسرسی لوړوي

**په تایلند کې د برما د کډوالو په کمپونو** کې په لوړه سلنه قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي شتون لري. هغوی د نورو هغو کسانو په پرتله چې له سترو ننګونو سره مخ دي، په خوځښت، د اړیکو په ټینګولو او خدمتونو ته په لاسرسي کې له ډیرو ستونزو سره مخ وو. هندیکپ نړیوالې مؤسسې د دغه کمپ په **خامو میلان لرونکو سطحو او د معلولیت لرونکو وګړو په جونګړو کې د یولړ ساده بدلونونو په راوستلو سره دغه کمپونه د لاسرسي وړ** وګرځول. دغه مؤسسه نورې مؤسسې، لکه هغه مؤسسې چې په روغتیایي، اوبو او حفظ الصحې ځانګو کې کار کوي، روزي. د ZOA په نوم یوې همکارې مؤسسې له قربانیانو سره مرسته وکړه ترڅو **خپلو وسایلو ته داسې عیارکړی چې هغوی په دې وتوانوي چې د بنیوالۍ او کرنې په څیر فعالیتونه ترسره کړي.**

په یوګاندا کې، د فزیکي معلولیت په اړه د یوګاندا د ملي عمل سازمان د جنـدر، کار او ټولنیزې پراختیا وزارت په مرسته د **لاسرسي معیارونه** طرحه او خپاره کړل ترڅو د معلولیت د ملي پالیسي پلي کولو کې آسانتیا راولي. په دغو معیارونو کې د انجنیرانو، د خدمتونو د وړاندې کوونکو او پالیسي جوړوونکو لپاره عملي لارښوونې راغلي دي او هغوی ته د پروژو د طرحه کولو، پلي کولو او ودانولو په ترڅ کې لارښوونه کوي.

## دولتونه کومې چارې ترسره کولی شي؟

**د ژوند د کیفیت د لوړولو په برخه کې:**

- د قربانیانو او نورو معلولیت لرونکو وګړو په کورونو کې د **لاسرسي د ستونزو تشخیصول**، د اوبو او تشنابونو په ګډون، او د حل لارو وړاندې کول.
- خصوصي ملاتړ کول ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي **د اړتیا وړ خدمتونو په باب معلومات ولري او ورته لاسرسی ولري.**

**خدمتونو ته د لاس رسي د ودی ورکولو په برخه کې:**

- ډاډ ترلاسه کول چې قربانیان او **معلولیت لرونکي وګړي د لاسرسي د ودې په هڅو کې همکاري وکړي** او **د راز راز اختلالونو لرونکو وګړو** څخه استازیتوب وشي (د لیدلو، اوریدلو، غږیدلو، فزیکي، رواني، عقلي او نور اختلالونه).
- **د لاسرسي په ډګر کې د خدمتونو د وړاندې کوونکو د پوهې، چلند او کړنو** ځیرل او د هغوی د خدمتونو د لاپسې د لاسرسي وړ ګرځیدلو لپاره په ګډه د یوې ځانګړې استراتیژۍ جوړول.
- **د لاسرسي په اړه د پوهاوي ورکولو فعالیتونه** د ټاکلو او د تصدیق وړ موخو او شاخصونو سره. ډاډ ترلاسه کول چې د پوهاوي ورکولو په فعالیتونو کې غوره موخې موجودې وي او د انجنیرانو، چارواکو، د خدمتونو د وړاندې کوونکو او نورو مخاطبینو لپاره ګټور وي.
- د خدمتونو وړاندې کوونکي په دې اړه روزل چې **لاسرسی او ټولشموله** خدمتونه په **عملي ډګر**، سکتورونو، خدمتونو او د هغوی په ټاکلې عملیاتي جغرافیا کې په څه معنا ده.
- د لاسرسي په باب د **عملي لارښودونو چمتو کول** او خپرول چې له شرایطو سره سمون ولري ، اوهمدارنګه د هر سکتور (روغتیا، ښوونه، کارموندنه ...) لپاره ځانګړې لارښودونه چې باید له فزیکي، سلوکي او اړیکتیایي اړخونو څخه لاسرسی راونغاړي.
- **د نویو کړنو پیژندنه** او له نورو سره د هغو له شریکیدو څخه ډاډ ترلاسه کول.
- ډاډ ترلاسه کول چې کومې هڅې چې د لاسرسي د ودې لپاره کیږي تل پاتې اغیزې ولري؛ د **لارښوونې لپاره د ځانګړو خدماتي مراجعوپه** پام کې نیول د اړوندې ادارې د کارکوونکو د پوهې د کچې د لوړولو، روزلو او دادغوښتنې په ګډون د بنسټیزو جوړښتونو، اړیکو او چلند پیاوړي کول او په راتلونکو شپږو میاشتو کې د دغو هڅو د پایلو تعقیبول.

**قوانینو او پالیسیو ته د ودې ورکولو په برخه کې**

- ډاډ ترلاسه کول چې د **ټولو سکتورونو قوانین او پالیسي ګانې** د منل شویو کړنلارو پر **بنسټ ولاړو د لاسرسي په معیارونو سمبال** وي.
- په ځایي او ولایتي کچه د **ځایي لاسرسي د پلانونو** د طرحې او پلې کولو لپاره مالي او تخنیکي مرستې.

## پرمختګونه څرنګه اندازه کولی شو؟

معلوماتي پانې ځینی داسی برخې په ګوته کوي چې دولتونه کولی شي پکښې بدلونونه راولي. خدمتونو ته د لاسرسي او د پالیسیو او قوانینو په برخه کې پرمختګونه باید داسې وي چې په پایله کې د ژوند پر کیفیت باندې مثبتې اغیزې ولري.

**› د ژوند کیفیت:**

※ د هغو قربانیانو شمیر چې په کورونو کې یې د لاسرسي اړوندو بدلونونو د راوستلو څخه وروسته وایي چې خوځښت یې ډیر شوی دی. + د هغو قربانیانو شمیر چې د لومړي ځل لپاره یو ډول خدمتونو ته له لاسرسي څخه خبر ورکوي.
※ د هغو قربانیانو شمیر چې خدمتونو ته د لاسرسي له امله د خپل ژوند د کیفیت له لوړیدلو څخه خبر ورکوي.

**› خدمتونو ته لاسرسی:**

※ د یوه ډول خدمت د ټولو کاروونکو په منځ کې د معلولیت لرونکو وګړو د سلنې لوړیدل. ※ د لاسرسي په تړاو د خدمتونو د وړاندې کوونکو د پوهې، چلند او کړنو سمون. ※ د هغو اقدامونو شمیر چې د اړوندې موضوع په باب په یوه روزنیز پروګرام کې له ګډون څخه وروسته د ګډون کوونکو له خوا د لاسرسي د چارو د سمون په موخه ترسره کیږي. ※ د هغو خدمتونو د وړاندې کوونکو شمیر چې معلولیت لرونکو وګړو ته د خپلو خدمتونو د لاسرسي وړ ګرځولو لپاره له پرلپسې لارښوونو څخه برخمن کیږي. ※ د انجنیري، ښاري پلان جوړونې او ساختماني انجنیري په تعلیمي نصاب کې د لاسرسي د موضوع شاملول.

**› قوانین او پالیسي ګانې:**

د لاسرسي په اړه د حکومتي تفتیش او پلټنو شتون او شمیر چې د معلولیت لرونکو وګړو په همکارۍ ترسره شوي وي. ※ ټولو ودانیو ته د کوم خنډ څخه پرته د لاسرسي په اړه د جبري تخنیکي معیارونو شتون.

## نمونوي پروژه: ایلیبي (په سینیګال کې یوه کوچنۍ په دنده ګمارونکې اداری) ته لاسرسي،


© J.J. Bernard / Handicap International

معلولیت لرونکي او معلولیت نه لرونکي کارکوونکي سره یوځای کار کوي. سینیګال. ۲۰۱۰

**پیژندل شوې ستونزې:** د کاري فرصتونو نشتوالی (د عمومي وزګارۍ کچه ٦٠سلنه)؛ په دنده ګمارونکو معلومات نه درلودل چې خپل خدمتونه **څرنګه د معلولیت لرونکو وګړو لپاره** (په تیره بیا بیوزله او معلولیت لرونکو ښځو ته) په کاسامانس سیمه کې چې له ماینونو څخه اغیزمنه شوې وه، **د لاسرسي وړ** وګرځوي.

**د پروژې موخې:** ۱. د مغزیاتو د یوه ځایي پروسس کوونکي د لاسرسي لوړوالی؛ ۲. له قربانیانو او نورو معلولیت لرونکو وګړو سره مرسته ترڅو مزد لرونکي کار ته د مناسب کار په شرایطو کې له نورو سره په انډولیزه توګه لاسرسی ولري.

**کړنې:** ۱. د کوچنۍ فابریکې د کارکوونکو د **پوهې او چلند سمون** او د ټولنې په کچه د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو او وړتیاؤ په هکله د پوهاوی ورکولو د غونډو له لارې معلومات خپرول. ۲. د کوچنیو کاروبارونو د خاوندانو د **کړنو لوړتیا** په دې اړه د روزل کیدلو له لارې چې څرنګه کولی شي د معلولیت لرونکو وګړو د کارموندنې چانس **د مناسب کار په اړه د کار د نړیوال سازمان د معیارونو پر بنسټ لوړ** کړي. ۳. د مغزیاتو د فابریکې په **فزیکي توګه د لاسرسي وړ** ګرځیدلو لپاره تخنیکي مرستې (د ویلچر د کاروونکو لپاره فابریکې ته دننه کیدل، په فابریکه کې ګرځیدل، د کار د ځایونو، تشنابونو او د کاري وسیلو تنظیمول ...). ۴. د **منصفانه سوداګرۍ** له شبکې سره د اړیکو د تامینولو په موخه د کوچنیو کاروبارونو د خاوندانو ملاتړ کول. ۵. مزد لرونکي کار ته د لاسرسي لپاره د معلولیت لرونکو وګړو سره **شخصي مرستې** ترسره کول (ټولنیز انفرادی ملاتړ، د بیارغونې او کمکی وسیلو او همدارنګه حرفوي روزنو ته راجع کول).

**پایښت:** دغه پروژه په ګډه له یوې کوچنۍ فابریکې سره پلې شوه. د منصفانه سوداګرۍ یوې شبکې سره اړیکې ټینګې شوې ترڅو له ملي او نړیوالو بازارونو سره اړیکې آسانه کړي. د منل شویو کړنو په هکله د پوهاوي د کچې د لوړیدو لپاره یوه انځوریزه ټوټه جوړه شوه.

**مهم شاخصونه:** څه دپاسه ۴۰ معلولیت لرونکي وګړي د کوچنیو کاروبارونو او د هغو د شریکانو له خوا استخدام شول چې لږ تر لږه د هغوی د کاري ځواک ۱۰ سلنه څخه یې استازیتوب کاوه.

**د پروژې موده:** درې کاله

**بسپنه ورکوونکی:** د هالند سفارت

**پلې کوونکی:** هندیکپ نړیواله مؤسسه، تصدی، ایلیبی.

## اخځلیک:


(1)(2) HI. *Accessibility Policy Paper.* 2009 | (3)(7) HI. *Access to services for persons with disabilities in challenging environments.* 2010 | (4) ICBL, CMC. *Landmine and Cluster Munition Monitor.* 2012 | (5) IDDC. *Make Development Inclusive website.* Accessed March 2013 | (6) HI. *How to build an accessible environment in developing countries.* 2008 | (8) OECD. *Service delivery in fragile situations.* 2008


HANDICAP INTERNATIONAL

# له قربانیانو سره د مرستې ګڼه موضوع: د معلوماتو راټولول
# پراختیايي سکتور: احصاییه او د معلوماتو راټولول

## د معلوماتو راټول څه ته ویل کیږي؟

جمع آوری اطلاعات عبارت از گردآوری، تحلیل و شریک ساختن معلومات در یک ساحه بخصوص میباشد. در بخش معاونت با قربانیان مفهوم آن گردآوری اطلاعات راجع به تعداد، وضعیت و کیفیت زنده گی قربانیان است. هدف آن عبارت است از: ۱) دانستن، گزارش دادن و پخش معلومات راجع به **تعداد، جنس، سن، وضعیت، نیازها و ظرفیت های** قربانیان؛ ۲) قادر ساختن وزارت ها و سایر دست اندرکاران به تدوین، **تطبیق، نظارت** و ارزیابی **پلان ها** و پروگرام **هایی** که پاسخگوی حقوق و نیازهای قربانیان باشند. در صورت نبود **اطلاعات ذیربط** و **مؤثق،** پیشنهاد گزینه های پالیسی مؤثر، تثبیت حالت اولیه برای اندازه گیری پیشرفت ها، بسیج منابع، و بصورت عامتر برنامه ریزی و تطبیق مؤثر و استراتیژیک فعالیت های معاونت با قربانیان مشکل خواهد بود.

برای جمع آوری اطلاعات شیوه های متعددی وجود دارند. معمولاً شماری از این روش ها بصورت همزمان – ترجیحاً بگونه هماهنگ – جهت پاسخدهی مناسب به مقاصد مختلف جمع آوری اطلاعات استفاده میشوند.

### د حقیقتونو لنډیز

- په ۲۰۱۱ کال کې په ټوله نړۍ کې د ماینونو او جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو **۴۲۸۶** قربانیان تشخیص شول.[۴]
- **د مرګ ژوبلې اړوند معلومات** په هغو هیوادونو کې چې د IMSMA سیستم کاروي، ډیر سیستماتیک دی؛ په داسې حال کې چې نورې طریقې له قربانیانو سره د مرستو د فعالیتونو د پلان کولو او څارنې لپاره ډیر مناسب دي.
- ډیری زیانمن شوي هیوادونه د قربانیانو د **ژوند د کیفیت په اړه د لومړني حالت معلومات نه لري،** څکه نو هلته د پرمختګونو اندازه کول ستونزمن کار دی.
- یواځې **۱۰ هیوادونو** له قربانیانو سره د مرستې د اړتیاؤ په باب یوځه هراړخیزې بررسي ګانې کړې دي.[۵]

### اصلي کړنلارې په لاندې ډول دي:

- **د مصدومینو په هکله د معلوماتو راټولول:** د ماینونو د ګواښ په اړه د پوهاوي، د ماینونو د پاکولو او د څمکې د سپارلو په هکله د مصدومینو په باب د معلومـاتو راټولـول او څیـړل. د IMSMA سیستم یو له هغو وسیلو څخه دی چې په همدې موخه د ماین پاکولو د مرکزونو او ادارو له خوا کارول کیږي.[۱]
- **د اړتیاؤ څیړنه او د خدمتونو د نقشې برابرول:** په دغه ډول طریقو کې په اړونده سیمه کې په وضعیت باندې د پوهیدلو او همدارنګه په اشتراکي بڼه د سرچینو د څانګړي کولو په ګډون د پروګرامونو د طرحه کولو او لومړیتوب ورکولو په موخه، معلومات راټولیږي. معلومات په لاندې برخو کې راټولیږي: الف) د نظر وړ وګړي: اړتیاوې، غوښتنې، وړتیاوې او سـرچینې؛ ب) چاپیریال: د خدمتونو وړاندې کوونکي، ټولنیز او فرهنګي نورمونه او بنسټیز جوړښتونه چې کولی شي د آسان چارو په توګه او یا هم د قربانیانو د ژوند د کیفیت د ښه کیدلو د لارې خنډ په توګه عمل وکړي.[۲]
- **د انفرادی ملاتړ لپاره تشخیصول:** معلومات د تر ټولو زیانمنونکو قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو په هکله او د هغوی له مینځه په دې موخه راټولوي چې د ژونـد د کیفیت د لوړولو لپاره یې ورسره مرسته وکړي. همدارنګه د شخص اړتیاوې او لومړیتوبونه او د کورنۍ او مسلکي کسانو لخه د روغتیایي او ټولنیزو کارکوونکو نظرونـه هـم اخلـي؛ او همدارنګه د هغه د چاپیریال خنډونه او تسهیل کوونکي فکتورونه هم تشخیصوي.[۳]

### حقوقي او د پالیسۍ چوکاټونه

- **د غونچه ییزو مهماتو کنوانسیون:** د پنځمې مادې لومړۍ او دویمه فقرهA، د اوومې مادې لومړۍ فقرهK
- **د وینتیان کاري پلان:** ۲۲ او ۲۵ شمیره اقدامونه
- **د کارتاجینا کاري پلان:** څلورمه برخه، ۲۵ شمیره اقدام
- **د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو کنوانسیون:** ۳۱ ماده

### اصلي ښکیل لوري څوک دي؟

- د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو **ټولنې**
- له قربانیانو سره د مرستې په ټولو سکتورونو کې د **خدمتونو وړاندې کوونکي**
- **وزارتونه:** د ټولنیزې چارو، د معلولیت د چارو د اړیکو مرجع ګانې، ټول نوراړوند وزارتونه
- **د ماین پاکولو مرکزونه او ادارې**
- **نړیوال سازمانونه:** د ملګرو ملتونو د سازمان د احصاییې اداره، د بشرپاله ماین پاکۍ لپاره د ژنیو نړیوال مرکز

### له ماینونو/ له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو څخه په اغیزمنو شویو هیوادونو کې عامې ننګونې کومې دي؟

- ډیر شمیر داسې هیوادونه شته چې تر اوسه پورې یې خپل **د احصاییې، د معلوماتو د راټولولو او شمیرنې میکانیزمونه** د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسیون د معیارونو سره سم ندي رامنځ ته کړي.
- **د روغتیايي معلوماتو سیستمونه** په ډیری هیوادونو کې کمزوري دي.[٦]
- د هغو سرچینو اندازه او **د کارکوونکو شمیر چې د معلوماتو د راټولولو** او له قربانیـانو او معلولیت لرونکو وګړو سره د مرکې په برخه کې روزل شوي دي، محـدود دی. ادارې، د خدمتونو وړاندې کوونکي او د معلولیت لرونکو وګړو ټولنې ښایي د معلوماتو په راټولولـو کې یو له بل سره هومره همغږي ونلري او په ډیری مواردو کې داسې سیستمونه نه لري چې پر مټ یې اطلاعات په سیستماتیکه بڼه راټول کړي. دغه ډول معلومات په نـدرت سـره د پرتله کولو وړ وي، څکه نو ستونزمنه ده چې ورڅخه نړیوال وضعیت باندې د پوهیدلو لپاره کار واخیستل شي.
- په ځینې مواردو کې **ټول شوي معلومات** د قربانیانو د ژوند د کیفیت د لوړولـو د اړونـدو پروګرامونو د طرحه کولو **لپاره نه کارول** کیږي بلکې برعکس یواځې منفي پایلې چې د تمو له زیاتیدلو څخه عبارتې دي، له ځانه سره لري.
- د معلوماتو د راټولولو د طریقو، مقصد او د کارولو د لارو چارو په باب یې **د ماین پـاکۍ ادارو او مرکزونو او وزارتونو تر منځ** د همغږۍ نشتوالی.
- په دې اړه چې **د معلولیت په هکله څرنګه باید مناسبې پوښتنې** وشي، د پوهې نشـتوالی: د زړو پوښتنو کارول چې د کورنۍ له غړیو څخه پوښتل کیږي چې آیا د هغو په منځ کې کانه،ړانده، ګوډ یا په عقلي وروسته والي باندې اخته څوک شته؛ د زړو طبي پوښتنو چې تـاریخ یې تیر دی او محدودوالی او تبعیض نه ډک اوسیدل یې ثابت شوي دي، کارول. د معلولیت لرونکو وګړو شمیر چې په دغې طریقه مشخص شوی دي لږ دی او ددې لامل ګرځیـدلی چې حکومتونه یې تر ډیره بریده له نظره وغورځوي او د معلولیت لرونکو وګړو پالیسي ګانې او پروګرامونه یواځې روغتیایي مراقبتونو او د بیارغونې خدمتونو ته موکول کړي.[۷]

## د اطلاعاتو د راټولولو په برخه کې بریالۍ پروژې

**په البانیا کې،** له ۲۰۰۵ کال څخه تر ۲۰۰۹ کال پورې د پروګرامونو **د طرحه کولو او د معلوماتو د شریکولو** په موخه **د معلوماتو راټولولو** له قربانیانو سره د مرستې د پروګرام په بریالیتوب کې خورا ډیره مرسته وکړه. په ۲۰۱۱ کال کې د ALB-AID په نوم د معلولیت لرونکو وګړو ټولنې له خپلو غړیو څخه د ټولو قربانیانو اړوند معلومات راټول کـړل. د البانیا د سره صلیب ټولنه په ۱۲ ولایتونو کې د مصدومینو په هکله معلومات راټولوي. معلومات د سن او جنس پر بنسټ تفکیک کیږي او په IMSMA کې ثبتیږي.[۸]

**په افغانستان کې،** په ۲۰۰۵ کال کې د **معلولیت ملي سروې** ددې لامل وګرځیده چې د قربانیانو په ګډون د معلولیـت لرونکو وګړو د شمیر، اړتیاؤ او لومړیتوبونو په هکله د روغتیا، بیارغونې، زده کړې او معیشت په ډګرونو کـې غـوره معلومات ترلاسه شي.[۹]

**په کمبوډیا کې،** د هندیکپ نړیوالې مؤسسې یوه پروژه، د OEC په نـوم یـوه نادولتي مؤسسه او د کمبوډیا د معلولیت لرونکو وګړو ټولنه له پروژې څخـه د مخکې او وروسته وختونو کې د قربانیانو د بنسټیزو اړتیاؤ، وړتیـاؤ او تـولنیز او سیاسي ګډون په باب معلومات راټولوي، چې د **ژوند د کیفیت د لوړیدلو** انـدازه کول او راپور ورکول یې شوني کړي دي.[۱۰]

**په نیکاراګوا کې،** د قربانیانو په هکله معلومات په ټولنه کې **د معلولیت د سروې** د یوې برخې په توګه په ټول هیواد کې راټول شول.[۱۱]

## دولتونه کومې چارې ترسره کولی شي؟

### په ملي کچه:

- د مرګ ژوبلې په باب د معلوماتو راټولول د IMSMA له لارې د ماینونو د ګواښ په اړه د پوهاوي، د ماین پاکولو او د خمکو د سپارلو له نظره د لومړیتوبونو د ټاکلو لپاره د ټولشموله پراختیا او له قربانیانو سره د مرستې په برخه کې د لومړیتوبونو د ټاکلو په پرتله غوره دی.
- **کله چې د ماین پاکۍ یو مرکز له قربانیانو سره د مرستې مشري پر غاړه اخلي، باید دغه مشري مؤقتي وي** او د پوهاوي د کچې پر لوړولو، او د دغه مسؤولیت د پر غاړه اخیستلو لپاره د اړوندو وزارتونو پر سمبالتیا او ملاتړ باندې تمرکز ولري – په تیره بیا که چیری یو وزارت له پخوا څخه د معلولیت چارې پر غاړه ولري.
- د داسې وزارت، **اداري یا کمیټې** تشخیصول چې له قربانیانو سره د مرستو، او خدمتونو ته د معلولیت لرونکو وګړو د لاسرسي د ودې د هڅو مشري او همغږي پر غاړه ولري.
- هغه معلومات چې له قربانیانو سره د مرستې په اړوندو پالیسیو، پلانونو او پروګرامونو کې کارول کیږي **باید تر ډیره د اړوندو وزارتونو** (روغتیا، ټولنیزو چارو او کارموندنې) **د مسؤولیتونو** په کړۍ کې واقع وي.

### په سیمه ییزه کچه:

- د **ترټولو مناسبو میتودونو** په هکله د پریکړو کولو لپاره په **اشتراکي** طریقه د معلوماتو د راټولولو د اړتیاؤ او موخو تعریفول. یو ساده میتود (مثلاً د ټیونو څارنه، د قربانیانو د اړتیاؤ او وړتیاؤ څیړنه...) نشی کولی چې په انډولیزه او غوره طریقه د ماین پاکۍ پروګرامونو د اړتیاؤ، له قربانیانو سره د مرستو د پالیسي د جوړولو، یا د قربانیانو د ژوند د کیفیت د لوړیدلو د اندازه کولو یا رراپور ورکولو د اړتیاؤ ځواب ورکوونکې وي.
- ډاډ ترلاسه کول چې د قربانیانو په مورد کې د معلوماتو د راټولولو د سمون **ټولې هڅې د معلولیت لرونکو وګړو** په هکله د معلوماتو د راټولولو له پراخو هڅو سره اړیکه ولري.
- د معلوماتو د راټولولو د اغیزمنو طریقو، د قربانیانو او د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو او د راز راز اختلالونو لرونکو وګړو سره د اړیکې نیولو په هکله **د معلوماتو د راټولولو د کارکوونکو روزل.**
- ډاډ ترلاسه کول چې هغه قربانیان چې مرکه ورسره شوې ده د معلوماتو د راټولولو په **مقصد پوه** دي.
- **د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو د معلوماتو د محرمیت او خصوصي توب د ساتلو لپاره د تدابیرو** نیول.
- ډاډ ترلاسه کول چې د معلولیت په اړه پوښتنلیک کې **مناسبې اصطلاح ګانې کارول** شوې وي، یعنې د تبعیض نه ډکو اصطلاحاتو (لکه ګوډ) له کارولو څخه ډډه شوې وي. پوښتنې او اصطلاح ګانې باید د ملګرو ملتونو د احصاییې اداري پر سپارښتنو ، چې نړیوال وظیفوي ویش کاروي، استواره وي. ځینې بیلګې په آسیا کې شته چې څرنګه دغه طریقه په یو شمیر احصائیو کې کارول شوې ده.(۱۲)

## پرمختګونه څرنګه اندازه کولی شو؟

معلوماتي پاڼې ځینی داسی برخې په ګوته کوي چې دولتونه کولی شي پکښې بدلونونه راولي. خدمتونو ته د لاسرسي او د پالیسیو او قوانینو په برخه کې پرمختګونه باید داسې وي چې په پایله کې د ژوند پر کیفیت باندې مثبتې اغیزې ولري.

- ملي احصائیه د مناسبې مرکې د پوښتنو او لارو چارو په کارولو سره د ملګرو ملتونو د احصاییې د ادارې د لارښودونو سره سم معلومات هم رانغاړي.
- له ټیپي توب څخه د څارنې ملي سیستم د ماینونو او له جګړې پاتې چاودیدونکو توکو له امله د ټپونو په ګډون د ټپونو د راز راز لاملونو تر منځ تفکیک کوي.
- د مصدومیتونو په هکله د IMSMA معلومات د قربانیانو د پیژندلو لپاره د لومړني ګام په توګه کارول کیږي او له سکتوري وزارتونو سره په سیستماتیکه توګه شریکیږي.
- د معلولیت لرونکو وګړو د معلوماتو د راټولولو یو میکانیزم شتون ولریچی د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو له کنوانسیون سره مطابقت ولري او د قربانیانو په هکله د معلوماتو درلودونکی وي.
- د راز راز میکانیزمونو او طریقو په ګډون (له ټپونو څخه څارنه، IMSMA، د قربانیانو اړتیاوې او د وړتیاؤ څیړنه...) د معلوماتو د راټولولو د ټولو هڅو د لارښوونې او همغږي کولو لپاره یوه کمیټه یا اړیکتیایي سرچینه شتون ولري.
- د معلوماتو د راټولولو کارکوونکي له قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو سره د معنا لرونکې او احترام سره د خبرو اترو د طریقو په باب روزل شوي وي.
- یو اشتراکي بنسټ لیکی (بیس لاین) له قربانیانو سره د مرستو د اندازه کولو او راپور ورکولو په موخه او د ژوند پر کیفیت او ګډون باندې په تمرکز لرلو سره جوړ شوی وي.
- اړوند معلومات له ښکیلو ډلو سره شریک شي، په داسې حال کې چې د اطلاعاتو محرمیت هم مراعاتیږي.

## د معلوماتو د راټولولو د یوه میکانیزم نمونه: په کمبوډیا کې د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د قربانیانو معلوماتي سیستم(۱۳) (۱۴)



تویون لیانګ، د خوراکي توکو پلورونکی او د TIGA پروژې یو مستفید شوی، د باتامبنګ ولایت، کمبوډیا، ۲۰۱۳.

© Nicolas Axelrod / Handicap International

**پیژندل شوې ستونزه:** په کمبوډیا کې د ماینونو او مهماتو د مصدومینو په اړه د سیستماتیکو، د پرتلنې وړ، کره او نویو معلوماتو نشتوالی.

**موخه:** په کمبوډیا کې د ماینونو، ناچاودیدلو مهماتو او نورو له جګړې پاتې چاودیدونکو توکو له امله د **مصدومیتونو په اړه د معلوماتو راټولول، څیړنه، تفسیر او خپرول.**

**فعالیتونه:** د کمبوډیا د ماینونو/ له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د قربانیانو د معلوماتي سیستم (CMVIS) عملیاتي کړۍ له داسې کسانو جوړه ده چې د یوې ځانګړې جغرافیا په اړه د معلوماتو د لرلو پر بنسټ ټاکل شوي دي او د CMVIS د فورمو د ډکولو په باب روزل شوي دي. هغوي یوه ولایتي همغږي کوونکي ته راپور ورکوي او دغه همغږی کوونکی معلومات مرکز ته لیږي. همدارنګه CMVIS په هغو سیمو کې چې په ماینونو/ له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو لړ ککړې دي د داوطلبانو په یوه شبکه باندې هم تکیه لري.

**پایښت:** CMVIS په ۱۹۹۴ کال کې د کمبوډیا د سره صلیب په واسطه د هندیکپ د نړیوالې مؤسسې او یونیسف په تخنیکي ملاتړ جوړ شو او د کمبوډیا د ماین پاکۍ او له قربانیانو سره د مرستې اداري (CMAA) ته د هغې د لیږد بهیر په ۲۰۰۹ کال کې بشپړ شو.

**مهم شاخصونه:** معلوماتي سیستم په بشپړه توګه د CMAA له خوا اداره کیږي. CMVIS د کمبوډیا حکومت په دې توانولی ده څو په کره توګه تثبیت کړي چې له ۱۹۷۹ کال څخه د ۲۰۱۳ کال تر جنورې میاشت پورې د ماینونو او / له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله د مصدومیت ټولټال ۶۴۲۱۴ پیښې رامنځ ته شوې دي. د ۲۰۱۳ کال په جنورې میاشت کې دیرش سلنه مصدومین د پیښې پر مهال په معیشتي فعالیتونو کې بوخت وو، ۷۸ سلنه ټول مصدومین ټپیان شوي او ۲۲ سلنه یې مړه شول چې ۳۱ سلنه یې ماشومان ول. دغو معلوماتو د ماین پاکۍ د فعالیتونو پلان جوړولو او لومړیتوب ورکولو ته زمینه مساعده کړه او له نورو معلوماتو سره یوځای د اطلاعاتو په توګه له قربانیانو سره د مرستو د چارو د پلان جوړولو سره مرسته کوي.

**مدیریت کوونکې مرجع:** د کمبوډیا د ماین پاکۍ او له قربانیانو سره د مرستې اداره

## اخځلیک:


(1) (9) (11) GICHD. *Assisting Landmine/ERW survivors in the context of disarmament, disability and development.* 2011 | (2) HI. *Inclusive local developement policy paper.* 2009 | (3) HI. *Personalized social support : methods, approaches, tools.* 2009 | (4) (5) (8) ICBL-CMC. *Landmine and Cluster Munition Monitor.* 2012 | (6) World Health Assembly. *Strengthening of health information systems.* 2007 | (7) UNESCAP. *Results of the Testing of the ESCAP Extended Question Set on Disability.* 2011 | (10) HI. *Good practices from the project Towards Income Generating Activities in Cambodia.* 2010 | (12) WHO, UNESCAP. *Training Manual on Disability Statistics.* 2008 | (13) Cambodia Mine Action and Victim Assistance Authority Website. | (14) GICHD. *CMVIS External Evaluation Report.* 2006; James Madison University Mine Action Information Center. *Landmine Casualty Data: Best Practices Guide.* 2008; WHO. *Guidelines for conducting community surveys on injuries and violence.* 2004


HANDICAP INTERNATIONAL

# له قربانیانو سره د مرستې ګډه موضوع: ملي کاري پلانونه، همغږي
# پراختیایي سکتور: ملي کاري پلانونه، همغږي

## ملي کاري پلانونه څه دي؟

غړي هیوادونه، په تیره بیا هغه هیوادونه چې د پام وړ شمیر قربانیانو د سلامتیا پر وړاندې مسؤول او حساب ورکوونکي دي، ځانونه یې **له قربانیانو سره د مرستې د یوه ملي کاري پلان طرحه** کولو ته ژمن کړي دی. د هغوی موخه د **همغږۍ د یوه استراتیژیک چوکاټ** جوړول ده چې د هغه له لارې: الف) د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو او اړتیاؤ په اړه د ټولو وزارتونو او نورو ښکیلو اړخونو **د پوهاوي کچه** لوړه شي؛ ب) **یوه اړیکتیایي مرجع**/ له قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو سره د مرستې **کمیټه** جوړه شي؛ ج) **مسؤولیتونه په روښانه او کره توګه وټاکل شي** ترڅو له قربانیانو سره د مرستې مسئلې ته په پراخه اندازه لاسرسی وشي؛ د) له قربانیانو سره د مرستې، معلولیت او پراختیایي هڅو د ښکیلو اړخونو تر منځ **غوره همغږي رامنځ ته شي**؛ ه) قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي **پیاوړي شي** او په پریکړو کې ګډون وکړي؛ و) **د لومړني حالت یا بیس لاین معلومات** شتون ولري ترڅو له قربانیانو سره د مرستې په برخه کې په ملي کچه د پرمختګونو د څارنې او راپور ورکولو زمینه برابره شي؛ ط) **یو عمومي بنسټ شتون ولري چې له مخې یې** ملي سرچینې او د اړتیا په صورت کې **نړیوالې سرچینې سمبال شي**.

**له قربانیانو سره د مرستې ملي کاري پلانونو** ته پکار ده چې: الف) د شتون په صورت کې، **د معلولیت / ټولشموله پراختیا په اړوند پراخه پلانونو کې**، شامل وي او یا هم ورسره اړیکه ولري؛ ب) د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو په **ونډې اخیستلو سره طرحه شي**؛ ج) د قربانیانو د اړتیاؤ د څیړنې او د خدمتونو د تثبیتولو له بهیر څخه د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ طرحه شي؛ د) د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسیون، د غونچه ییزو مهماتو کنوانسیون او د کارتاجینا او وینتیان د کاري پلانونو له خوا له **وضع شویو معیارونو او لارښودونو سره سمون وخوري**؛ ه) د روغتیا، بیارغونې، د رواني – ټولنیز ملاتړ په ګډون د رواني روغتیا، معارف او ټولنیز او اقتصادي ګډون په شان د راز راز **سکتورونو د منل شویو کړنو له مخې جوړ شوي وي**؛ و) **جندر او سن یې په نظر کې نیولي وي**.

له قربانیانو سره د مرستې لپاره د ملي کاري پلان جوړول کولی شي د معلولیت په تړاو یوه ملي محرکه قوه، په تیره بیا په هغو هیوادونو کې چې لا تر اوسه د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسیون غړیتوب نه لري، رامنځ ته کړي، د ملي مالکیت په لوړیدلو کې مرسته وکړي، له قربانیانو سره د مرستې او د معلولیت او پراختیا په اړه نورې هڅې تسهیل کړي، او هر غړی هیواد په دې وتوانوي چې خپل لومړیتوبونه او موخې په اشتراکي طریقه تشخیص کړي.

### د حقیقتونو لنډیز (۱)

- د ماینونو د مخنیوی کنوانسیون لږ تر لږه ۱۹ غړیو هیوادونو په ۲۰۱۱ کال کی د قربانیانو سره د مرستی ملی **د همغږی میکانیزمونه درلودل**
- د ماینونو د مخنیوی کنوانسیون لږ تر لږه ۱۷ غړیو هیوادونو **د قربانیانو سره د مرستی او پراخه معلولیت په برخه کی پلانونه درلودل** چی قربانیانو ته یی په واضح توګه ځای ورکړی وو
- په وروستنیو کلونو کی د لومړی ځل لپاره په ۲۰۱۱ کال کی یو شمیر غړیو هیوادونو **د قربانیانو سره د مرستی په ټولو سکتورونو کی د کمیت و کفیت د لږ والی** په هکله راپور ورکړ

### ملي کاري پلانونه باید لږ تر لږه د لاندې مواردو درلودونکي وي:

- له قربانیانو سره د مرستې، معلولیت او پراختیا د **اړوندو قوانینو او پالیسیو څیړنه**
- د ښکیلو اړخونو څیړنه
- له قربانیانو سره د مرستې د هر سکتور د **ښکیلو اړخونو** د اوسني وضعیت څیړنه
- ددې شرحه چې کوم **معلومات** اوس هم راټولولو/ تازه کولو ته اړتیا لري.
- په هر سکتور کې د **ځانګړو، د اندازه ګیري وړ، د ترلاسه کیدو وړ، واقعیت پلویو او په وخت برابرو موخو فهرست**، هغو ته د رسیدلو لپاره د اقدامات او د پرمختګونو د اندازه کولو له شاخصونه.
- د پلان د پلي کولو، څارنې او ارزونې د اړتیا وړ **سرچینو لنډیز** د هغو ملي او نړیوالو سرچینو په ګډون چې مخکې ترلاسه شوې دي او هغه سرچینې چې باید په راتلونکې کې برابرې کړای شي.
- د پلان د پلي کیدو د څرنګوالي **د څارنې د میکانیزم** لنډیز.

### حقوقي او د پالیسیو چوکاټونه

**د غونچه ییزو مهماتو کنوانسیون** د پنځمې مادې دویمه فقرهC.

**د وینتیان کاري پلان:** ۲۱، ۲۴، ۳۳ او ۵۶ شمیره اقدامونه

**د کارتاجینا کاري پلان:** څلورمه برخه، ۲۷ شمیره اقدام، پنځمه برخه ۳۴ شمیره اقدام

**د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو کنوانسیون:** ۳۳ ماده

### اصلي ښکیل لوري څوک دي؟

**د خدمتونو وړاندې کوونکي:** له قربانیانو سره د مرستې په ټولو سکتورونو کې

**وزارتونه:** د روغتیا، ټولنیزو چارو او له قربانیانو سره د مرستې، معلولیت او پراختیا نور اړوند وزارتونه

**د ماین پاکولو مرکزونه او اداري**

**نړیوال سازمانونه:** د سره صلیب نړیواله کمیټه، د ملګرو ملتونو اداري او له قربانیانو سره د مرستې نورې اداري

## د ماینونو/ له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو څخه په اغیزمنو شویو هیوادونو کې عامې ننګونې کومې دي؟

- له قربانیانو سره د مرستې اړوندې یوې موضوع کې د **اړوندو وزارتونو** (روغتیا، کار، ټولنیزو چارو او نور) **د پوهې نشتوالي یا کموالی، ښکیل توب او ژمنتیا**. دا چارې کیدای شي لا تر اوسه هم د ماین پاکی د ښکیلو لورو پر ځای د اړوندو وزارتونو مسؤولیت وګڼل شي.
- **له قربانیانو سره د مرستو د هڅو او د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د پرمختګ د چوکاټونو** تر منځ د کافي اړیکو یا همغږۍ نشتوالی.
- د قربانیانو د اړتیاؤ او موجودو خدمتونو په اړه د **کافي ، تازه، اړوندو او د پرتلنې وړ معلوماتو نشتوالی**، او له قربانیانو سره د مرستې په مورد کې د یوه اړوند او شوني پلان د طرح کولو په موخه د معلوماتو نه څیړل کیدل.
- د ملي کاري پلانونو د طرحه کولو، پلي کولو، څارنې او ارزونې لپاره د **کافي بشري او تخنیکي سرچینو نشتوالی**.
- له تصویبیدلو څخه وروسته په منظمه توګه د کاري پلان د **تازه کولو، څارنې او ارزونې** لپاره د کافي ژمنتیا یا وړتیا نشتوالی.

## له قربانیانو سره د مرستې او معلولیت په تړاو د ملي کاري پلانونو مثالونه

**البانیا** له قربانیانو سره د مرستې یو **ملي کاري پلان** لري چې د کارتاجینا د کاري پلان له سپارښتونو سره اړخ لګوي. د البانیا د ماینونو او مهماتو د پاکولو د همغږۍ دفتر یې له پلي کیدو څخه څارنه کوي، چې البانیا ددې جوګه کوي چې له قربانیانو سره د مرستې په اړوند د خپلو هڅو په اړه تفصیلي راپورونه ورکړي. له قربانیانو څخه د پلان جوړولو او پلي کولو په ټولو کچو کې استازیتوب کیږي.[۲]

**په اردن** کې له قربانیانو سره مرسته د **معلولیت په ملي ستراتیژي** کې شامله شوې ده. د معلولیت لرونکو وګړو د چارو عالي شورا په ملي کچه له قربانیانو سره د مرستې اصلي اړیکتیایي مرجع ده. له قربانیانو سره د مرستو فعالیتونه د قربانیانو د رهبري او مرستو د کمیټې همغږي کیږي او دولتي او نادولتي استازیو او قربانیانو څخه جوړه ده. له قربانیانو سره مرسته د ۲۰۱۰ تر ۲۰۱۵ کلونو په ملي کاري پلان کې هم شامله شوې ده.[۳]

**په چاد کې**، په ۲۰۱۲ کال کې له قربانیانو سره د مرستې **ملي کاري پلان** تصویب شو. دغه پلان د کارتاجینا له کاري پلان سره مطابقت لري او د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو پر وړاندې د نه تبعیض اصل په رسمیت پیژني. د همغږۍ هڅې د ماین پاکۍ د مرکز له خوا د اړوندو وزارتونو (په تیره یا د ټولنیزو چارو وزارت)، د سره صلیب نړیوالې کمیټې، نادولتي مؤسسو او د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو د ټولنو په فعال ګډون سره رهبري شوې. د ملګرو ملتونو سازمان له هندیکپ نړیوالې مؤسسې سره په ګډه له دغه بهیر څخه تخنیکي ملاتړ وکړ.

## دولتونه کومې چارې ترسره کولی شي؟

**دغه برخه «له قربانیانو سره د مرستې لپاره د دیارلس پړاوونو درلودونکې کړنلارې» پر بنسټ ولاړه ده، چې د پرسونل ضد ماینونو دمخنیوی کنوانسیون د پلي کیدو د ملاتړې څانګې له خوا چمتو شوی.[4] دغه برخه په بیلابیلو هیوادونو کې د ملي کاري پلانونو او د ټولشموله سیمه ییزو پراختیایي پلانونو د جوړولو په تړاو د هندیکپ نړیوالې مؤسسې د نوې تجربې پر بنسټ د یولړ تعدیلاتو درلودونکې ده. او همدارنګه د هندیکپ نړیوالې مؤسسې او د معلولیت او پراختیا د نړیوال کنسرسیوم[5][6] له خوا د ځایي ټولشمولې پراختیا په هکله د پالیسیو او انتشاراتو پر دوام فعالیت کوي.[7] دغه برخه یاد بهیر ته یوه ټولګتنه کوي چې هر هیواد یې باید هرو مرو له خپلو شرایطو سره عیار کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې له قربانیانو سره د مرستو د هڅو او د ټولو معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د خوندي کولو د هڅو تر منځ کوم تضاعف شتون ونه لري.**

۱. له قربانیانو سره د مرستې د چوکاټ او د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو او اړتیاؤ په هکله د سکتوري وزارتونو او نورو اړوندو ښکیلو اړخونو د **پوهې د کچې لوړول**. د داسې معلوماتي توکو برابرول چې د لاسرسي وړ وي. د پوهاوي ورکولو په فعالیتونو او د ملي کاري پلان په تدوینولو کې له پیل څخه د شریکانو په توګه د قربانیانو ښکیلول.

۲. **د ملی کاري پلان د تسویدیدلو د بهیر د مسؤولیت سپارل**. دا مسؤولیت باید د همهغې اداري پر غاړه وي چې د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو مسؤولیت پر غاړه لري او یا یې د اړیکو مرجع ده لکه د ټولنیزو چارو یا د جندر او ځوانانو وزارت. که دغه ډول د اړیکو مرجع شتون ونه لري، پکار ده چې نور امکانات، د ماین پاکۍ د مرکز یا اداري په ګډون، په مؤقتي توګه د دغه بهیر د رهبري لپاره ولټول شي. په پای کې باید دغه مسؤولیت د تر ټولو اړوند وزارت پر غاړه کیښودل شي.

۳. **د وزارتونو/ سکتورونو ګډې کمیټې ته د دغه بهیر د همغږي کولو د دندې سپارل**. پکار ده چې دغه کمیټه له قربانیانو سره د مرستې د بیلابیلو سکتورونو (لکه روغتیا، اقتصادي ګډون او نورو) استازیتوب وکړي او د وزارتونو، د خدمتونو د وړاندې کوونکو او د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو له استازیو څخه جوړه شوې وي. پکار ده چې دغه کمیټه د یوه رسمي ماموریت، کافي سرچینو او د دندو د لایحې درلودونکې وي.

۴. **د وضعیت د لومړنۍ څیړنې ترسره کول**. د یوه ښه پلان د طرحه کولو لپاره، اړینه ده چې په لاندې ټکو پوه شو: الف) حاکم حقوقي او د پالیسي شرایط؛ ب) د قربانیانو اوسنی وضعیت (اړتیاوې، غوښتنې، وړتیاوې، سرچینې او لومړیتوبونه)؛ ج) د ښکیلو اړخونو څیړنه: له قربانیانو سره د مرستو په ټولو سکتورونو کې د خدمتونو د وړاندې کولو له نظره څوک کوم کارونه ترسره کوی او چیرته؟ د اړتیا په صورت کې د یوې ژورې مطالعې ترسره کول باید په خپله کاري پلان کې شامل شي.

۵. **د معلولیت، پراختیا او بشري حقوقو په چوکاټ کې له قربانیانو سره د مرستو د موضوع د معرفي کولو لپاره د لومړني ملي مشورتي ورکشاپ جوړول؛ د وضعیت د لومړنۍ څیړنې بیاکتنه او بشپړول او د هغو ممکنه لارو چارو په باب د بحثونو پیلول چې په مخکې پرتې دي**. پکار ده چې ټول ښکیل اړخونه په دغه ورکشاپ کې ګډون وکړي.

۶. **په هر سکتور کې** (بیارغونه، پوهنه او نور) **د کاري ډلو تنظیمول او د څانګړو**، د اندازه کولو وړ، د ترلاسه کولو وړ او واقعیت پلوه موخو، شاخصونو او کړنو ټاکل او هغو ته د رسیدلو لپاره لارې چارې. هره کاري ډله باید د دغه بهیر په ترڅ کې د بحثونو د پرمخ بیولو او د هرې ډلې د کار د راپور د ورکولو لپاره یوه مرجع یا شخص وټاکي. په یاد مو وي چې هغه خوځښتونه او پروژې چې له پخوا څخه جریان لري او د کاري پلان موخو ته په رسیدلو کې مرسته کوي، باید په دغه پلان کې ځای پرځای شي. له دغې لارې ډاډ ترلاسه کیږي چې تر سره شوې هڅې په بشپړه توګه په نظر کې نیول شوې دي او هم دا چې راتلونکي اقدامونه د اوسنیو نوښتونو په دوام ترسره شي. پکار ده چې دغه پلان یوه بودجه ولري چې ملي او نړیوالې سرچینې او همدارنګه ترلاسه شوې او ترلاسه ناشوې پیسې په ډاګه ذکر او تفکیک کړي.


۷. **د ټولو ډلو د کار د مدغمولو، د لومړیتوبونو د ټاکلو او د ملي کاري پلان د مسودې د نهایي کولو په موخه د دویم ملي ورکشاپ په لاره اچول**. د ټولو ډلو د کارونو راټولول او وړاندې کول او د موجودو سرچینو پر بنسټ د موخو او اړوندو اقدامونو د لومړیتوب ټاکل.

۸. **له ټولو ښکیلو اړخونو سره د پلان د مسودې شریکول ترڅو وروستي نظرونه پرې څرګند او تصویب شي او د تصویب اړوند کړندودونه یې ترسره شي**.

۹. **په منظمه توګه په ځایي، ملي او نړیواله کچه د کاري پلان د پلي کیدلو د پرمختګ همغږي کول، څارنه** او ارزونه او همدارنګه د خنډونو معلومول او له منځه وړل. پکار ده چې قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي د پلان په څارنه او ارزونه او ټولو نورو پړاوونو کې فعاله ونډه ولري.

۱۰. **لږ ترلږه په کال کې یوځل د پلان مرور او بیاکتنه** ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې پلان تل اړوند پاتې شي او خنډونه ژر تر ژره له منځه یوړل شي.

## په افغانستان کې د یوه ملي کاري پلان چمتو کول[8]


د ماین قرباني کورنۍ، افغانستان، ۲۰۰۳

© Chris Horwood / Handicap International

**پیژندل شوې ستونزه:** افغانستان یو له هغو هیوادونو څخه دی چې په نړۍ کې د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو تر ټولو ډیر شمیر قربانیان لري. له قربانیانو سره د مرستې په برخه کې د همغږي او یوه سیستماتیکې کړنلاړې نشتوالی د قربانیانو او په عامه توګه د معلولیت لرونکو وګړو حقوقو او اړتیاؤ ته د رسیدنې د لارې خنډ بلل کیده.

**موخې:** د پلان اصلي موخه « د افغانستان د ملي پراختیا د استراتیژۍ او د ماینونو د مخنیوی تړون په چوکاټ کې د ماینونو د قربانیانو په ګډون د ټولو معلولیت لرونکو وګړو حقوقو او اړتیاؤ ته رسیدنه » وه.

**کړنلاره:** د افغانستان د معلولیت ملي کاري پلان (د ۲۰۰۸ تر ۲۰۱۱ کلونو پورې) د یوه مشورتي بهیر په ترڅ کې د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت تر مشرۍ لاندې د زرګلنو پراختیایي موخو او د ملي پراختیا د استراتیژۍ پر بنسټ جوړ شو. دغه پلان د یوه لړ غونډو او ورکشاپونو په ترڅ کې تسوید شو چې روان وضعیت ته کتنه، د ۲۰۰٦ کال موخې او په ۲۰۰۸ کال کې بیاکتل شوې موخې او دغو بیاکتل شویو موخو ته د رسیدلو لپاره اقدامونه پکې راغلي دي. لاندې سکتورونه د مشورو له لارې او د ماینونو د مخنیوی تړون او ملي لومړیتوبونو پر بنسټ په دغه پلان کې د شامیلدلو لپاره مناسب وګڼل شول: ۱. د معلوماتو راټولول؛ ۲. بیړنی او پرلپسې روغتیا پالنه؛ ۳. فزیکي بیارغونه؛ ۴. رواني ملاتړ او ټولنیز ادغام؛ ۵. مجدد اقتصادي ادغام؛ ٦. د ټولنې پر بنسټ بیارغونه؛ ۷. ټولشموله زده کړې؛ ۸. عامه قوانین او پالیسي ګانې. دغه پلان دمګړۍ تر بیاکتنې لاندې دی.

**پایښت:** ملي کاري پلان د اړوندو وزارتونو له خوا د نړیوالې ټولنې په تخنیکي همکارۍ سره طرحه او رهبري شو. دغه پلان له هماغه لومړي سر څخه د معلولیت او پراختیا له ملي چوکاټ سره سمون درلود. دغه پلان له ټولو ملي او نړیوالو ښکیلو اړخونو او په تیره بیا له قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو سره د سلامشورې وروسته جوړ شو.

**رهبري کوونکې مرجع:** د افغانستان د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت


### اخځلیک:

[1][2][3] ICBL-CMC. *Landmine and Cluster Munition Monitor.* 2012 | [4] GICHD. *Assisting Landmine and other ERW Survivors in the Context of Disability, Development and Disarmament.* 2011 | [5] HI. *Recommendations for National Action Plans on Victim Assistance . 2011-2015.* 2010 | [6] HI. *Inclusive Local Development Policy Paper.* 2009 | [7] IDDC. *A Guidance Paper on Inclusive Local Development Policy.* 2009 | [8] Ministry of Labor, Social Affairs, Martyrs and Disabled/Afghanistan. *Afghanistan National Disability Action Plan 2008-2011 to address the rights and needs of persons with disabilities, including mine survivors.* 2008


HANDICAP INTERNATIONAL

# له قربانیانو سره د مرستې ګډه موضوع: نړیواله همکاري او مرستې

## پراختیایي سکتور: نړیواله همکاري او مرستې

## نړیواله همکاري او مرستې څه دي؟

**نړیواله همکاري او مرستې** ټولو هغو مرستو ته ویل کیږي چې د سیمې او نړۍ د هیوادونو له خوا په اغیزمنه، **ګټوره او پرلپسې توګه له قربانیانو سره د مرستو د ترسره کیدلو** په موخه له زیانمنو شویو هیوادونو او لوریو سره کیږي. **دغه همکاري او مرستې کیدای شي** په دوه اړخیزه، سیمه ییزه، څو اړخیزه او نورو طریقو، د بیلګې په توګه د ملګرو ملتونو د ادارو، له جنوب څخه جنوب ته د همکاریو له خوا د سره صلیب نړیوالې ادارې ته، نادولتي مؤسسو، د خدمتونو د وړاندې کوونکو او د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو د ټولنو له لارې، ترسره شي.

**اغیزمن شوي هیوادونه له ګڼ شمیر ننګونو** لکه رواني جګړې، پراخه بیوزلي او د کافي بشري، تخنیکي او مالي سرچینو نشتوالي سره مخ وي چې له قربانیانو سره د چټکې او اغیزمنې مرستې بهیر خنډنی کوي. ځکه **نو د نړیوالې همکارۍ او مرستو موخه له هغو هیوادونو څخه ملاتړ کول دي چې له قربانیانو سره د مرستې په تړاو د خپلو ملکفیتونو** د ادا کولو لپاره کافي امکانات په لاس کې نلري؛ په دې توګه د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو له خوندي کیدلو او د هغوي د ژوند د کیفیت له سمون څخه ډاډ ترلاسه کیږي. د نړیوالې همکارۍ او مرستو اغیزې هله ډیرې وي چې د هغو لومړیتوبونو ځواب ورکوونکي وي چې د اغیزمنو شویو هیوادونو په ملي کاري پلانونو کې په ګوته شوي دي. په همدې دلیل نړیواله همکاري او مرستې د ماینونو د مخنیویتړون او د غونچه ییزو مهماتو د کنوانسیون یو رکن جوړوي او د کارتاجینا او وینتیان په پلانونو کې شامل شوي دي.

### د حقیقتونو لنډیز

- په ۲۰۱۱ کال کې، د نړیوالو مرستو د کمښت له امله لږ تر لږه ۱۲ هیوادونه له قربانیانو سره د مرستې په برخه کې له خنډونو سره مخ شول.(۱)
- د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو تامین او د هغو د اړتیاؤ پوره کول په سیاسي، مادي او مالي برخو کې اوږدمهالې ژمنې ته اړتیا لري.(۲)
- په ۲۰۱۱ کال کې د ماین پاکۍ فعالیتونو لپاره ۵۷۸ ملیون یورو بودجه ځانګړې شوې وه چې یواځې ۶ سلنه یې له قربانیانو سره د مرستو لپاره په پام کې ونیول شوه.

### نړیواله همکارۍ او مرستې لاندې ډولونه لري:

- **تخنیکي مرستې**: د یوې ځانګړې پروژې د پلي کولو لپاره په کاري سیمه کې مرسته؛ د بیلګې په توګه د ملي کاري پلان جوړول، د اړتیاسنجول او د سرچینو د پېتي لګول.
- **د وړتیاؤ لوړول**: چارواکو او د اړوندو خدمتونو وړاندې کوونکو ته د یوې ټاکلې مودې به ترڅ کې په پرلپسې توګه لارښوونه او روزنه، په یوې ځانګړې برخه کې د هغوی د پوهې، چلند، کړنو او په عمومي کچه د مهارتونو د لوړولو په موخه چې کولی شي یوه سکتور ته ځانګړې وي (د بیلګې په توګه د بیارغونې په ډګر کې د مسلکي کسانو روزل)، او یا هم د پالیسیو او پروګرامونو د څارنې او ارزونې په ځانګړې.
- **مالي ملاتړ**: د دوه اړخیزو یا څو اړخیزو همکاریو د میکانیزمونو په کارولو سره دولتونو، ملګرو ملتونو او نړیوالو سازمانونو، نادولتي نړیوالو او سیمه ییزو مؤسسو، د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو او د خدمتونو وړاندې کوونکو سره بودجوي مرستې.

### حقوقي او د پالیسي چوکاټونه

**د غونچه ییزو مهماتو کنوانسیون:** د شپږمې مادې اوومه فقره
**د وینتیان کاري پلان:** ۳۳ – ۳۸، ۴۱، ۴۲، ۴۷، ۵۶ او ۵۹ شمیره اقدامونه
**د کارتاجینا کاري پلان:** څلورمه برخه، ۳۲ شمیره اقدام، پنځمه برخه، ۳۵، ۳۶، ۳۷، ۳۹، ۴۱، ۴۷، ۴۸، ۵۰، ۵۱ او ۵۲ شمیره اقدامونه
**د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو کنوانسیون:** ۳۲ ماده

### اصلي ښکیل لوري څوک دي؟

**د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو ټولنې**
له قربانیانو سره د مرستو په ټولو سکتورونو کې د **خدمتونو وړاندې کوونکي**
**وزارتونه:** په اغیزمنو شویو هیوادونو کې ټول اړوند وزارتونه
**نړیوال سازمانونه:** د ملګرو ملتونو ادارې، د ژنیو د بشرپاله ماین پاکۍ د همغږي کولو نړیوال مرکز(GICHD)، د سره صلیب نړیواله کمیټه، نادولتي نړیوالې مؤسسې **سیمه ییزې او څو اړخیزه ټولنې**
**د پراختیا او سیمه ییزې همکارۍ** ادارې لکه CIDA, DFID, DGDC, JICA, NORAD, SIDA, USAID, WRA... ADA, AusAid, AFD, BMZ, **د هغو هیوادونو د بهرنیو چارو وزارتونه** چې نړیوالو همکاریو او مرستو ته ژمن دي.

### د نړیوالې همکارۍ او مرستو په برخه کې عامې ننګونې کومې دي؟

- **نړیوالو همکاریو ته لومړیتوب ورکول هله ستونزمن کیږي چې د مدرکونو پر بنسټ ولاړې کم شمیر څیړنې شتون ولري** ، کومې چې د قربانیانو اړتیاوې او وړتیاوې، شته خدمتونه او سرچینې او د تشو د ډکولو ملي هڅې څیړي.
- **تر اوسه هم ګڼ شمیر ستونزې شته چې د پراختیا او پراختیایي مرستو په ټولو برخو کې د معلولیت لرونکو وګړو د ګډون مخه نیسي؛ او په دې باب د ډاډ ترلاسه کولو کې ستونزې،** چې له قربانیانو سره د مرستو هڅې **د معلولیت لرونکو وګړو د ګډون پر هڅو ولاړې وي** او یا لږ تر لږه ورسره اړیکه ولري، تر اوسه هم په خپل حال پاتې دي.
- **کیدای شي هغه هیوادونه چې نړیوالو همکاریو ته ژمن دي بل ډول لومړیتوبونه ولري.**
- **له قربانیانو سره د نړیوالو مرستو په باب د بیلابیلو هیوادونو منل شوې کړنې تر اوسه ثبت** شوې ندي چې له همدې امله پیاوړتیا یې ستونزمنه کیږي.

## د نړیوالې همکارۍ او مرستو په برخه کې بریالۍ پروژې

**په افغانستان کې،** له ماینونو څخه د اغیزمن شویو افغانانو مؤسسه (ALSO) د همسیالانو له خوا د ملاتړ، د پوهې د کچې د لوړولو، لاسرسي، ګډون، دادغوښتنې او پیاوړتیا په برخو کې پروژې پلې کوي. دغه فعالیتونه د لاندې مراجعو د **ملاتړ له امله** ترسره کیږي: WRA د CPI او OSI له لارې او همدارنګه CIDA، د ناروې، فنلند او آسترالیا سفارتونه، او د ICBL، CMC او د هندیکپ نړیوالې مؤسسې له خوا وړیا مرستې. CPI له لاندې لارو له ماینونو څخه د اغیزمن شویو افغانانو مؤسسې د فعالیتونو په لومړیو پړاوونو کې ورسره د پام وړ همکاري وکړه: ۱. د همسیالانو له خوا د ملاتړ د لومړنۍ پروژې تمویلول؛ ۲. له ماینونو څخه د اغیزمن شویو افغانانو مؤسسې د وړتیاؤ د لوړولو او اداري لګښتونو د یوې برخې ورکړه؛ ۳. په ټول کال کې پرلپسې مرستې؛ ۴. د حسابدارۍ، مدیریت او څارنې په هکله د روزنیزو پروګرامونو د جوړولو له لارې له ماینونو څخه د اغیزمن شویو افغانانو مؤسسې د بشري سرچینو پراختیا. له ماینونو څخه د اغیزمن شویو افغانانو مؤسسه پدې توانیدلې ده چې د خپلو پروژو له لارې قرباني او معلولیت لرونکې ښځې پیاوړې کړي؛ ۱۰۰ ښوونځیو او نورو عامه ودانیو ته لاسرسی میسر شو؛ د همسیالانو له خوا ملاتړ یې په افغانستان کې د یوې نوې مفکورې په توګه معرفي کړ؛ او له ګڼ شمیر وګړو سره یې مرسته وکړه چې ښوونځي ته لاړ شي او کار ومومي. دغې مؤسسې د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسیون او د غونچه ییزو مهماتو کنوانسیون په تصویبولو کې مرسته کړې ده.(۳)

**د کانګو په دموکراتیک جمهوریت کې،** د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ چارو د همغږۍ مرکز (UNMACC) ملي ادارو او د ماین پاکولو سازمانونواو له قربانیانو سره د مرستو د فعالیتونو د همغږي کولو او پلي کولو په برخه کې مرسته کوي. د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ چارو د همغږۍ مرکز د سرچینو د سمبالولو، د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسیون د تصویبیدلو لپاره د دادغوښتنې، او د قربانیانو د معلوماتو د ثبت سیستم(دیتابیس) په ساتلو کې فعالیت کوي. تمویل کوونکي یې جاپان، د آسترالیا د نړیوالې پراختیا اداره او MONUSCO دي. له ۲۰۱۱ څخه تر ۲۰۱۳ کال پورې د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ چارو د همغږۍ مرکز له ملي نادولتي مؤسسو سره چې قربانیانو ته یې خدمتونه وړاندې کول، وړیا مرستې وکړې چې موخه یې تر ډیره بریده اقتصادي ګډون وو. همدارنګه له قربانیانو سره د مرستې یوه سروې یې ترسره کړه؛ د قربانیانو د معلوماتو د ثبت سیستم (دیتابیس) یې نوی کړ؛ د ۲۰۱۲ کال څخه تر ۲۰۱۶ کال پورې د ماین پاکۍ د ملي استراتیژیک پلان د تسوید د هڅو رهبري یې وکړه او همکارو مؤسسو سره یې د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د قربانیانو سره د مرستې د ملي استراتیژیک پلان (له ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۱۲ کال پورې) په جوړولو کې همکاري وکړه. په پایله کې یې ۱۲۴۳ قربانیان وپیژندل شول او ۲۲۸ کسان یې په عایداتي فعالیتونو کې ښکیل شول او د کورنیو عاید یې لوړ شوی دی. همدارنګه ۱۳۵ وګړو د فزیکي بیارغونې خدمتونو ته لاسرسی موندلی دی؛ له قربانیانو سره د مرستې په اړه معلومات همغږي شوي دي؛ او نوی د معلوماتو د ثبت سیستم (دیتابیس) فعاله دی. د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ چارو د همغږۍ مرکز له هغو پروژو څخه ملاتړ کوي چې هراړخیزه تګلاره لري او د فزیکي بیارغونې، رواني ملاتړ او اقتصادي ګډون له لارې د قربانیانو د ژوند په کیفیت کې تل پاتې سمون راولي.(۴)

## دولتونه کومې چارې ترسره کولی شي؟

په دې برخه کې د زیانمنو شویو هیوادونو لپاره سپارښتنې راغلې دي ترڅو هغه نړیوالې سرچینې چې له قربانیانو، معلولیت لرونکی وګړی، پراختیایي چارو او د بشر د حقوقو د لوړولو لپاره ورکول کیږي، په اغیزمنه توګه وکاروي؛ او د هغو هیوادونو لپاره چې نړیوالو همکاریو او مرستو ته ژمن دي د غونچه ییزو مهماتو د کنوانسیون او د ماینونو د مخنیوی تړون د احکامو د پلي کولو د تسهیل لپاره د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسیون د احکامو سره سم ځینې سپارښتنې وړاندې کوي. د هر سکتور په هکله د ځانګړو سپارښتنو لپاره چې له قربانیانو سره مرسته یې یوه برخه ده، او یا هم د مشترکو موضوع ګانو په باب د سپارښتنو لپاره له لومړۍ تر یوولسمې شمیرې معلوماتي پاڼو ته مراجعه وکړئ.

**د اغیزمنو شویو دولتونو لپاره سپارښتنې:**

- د مدرکونو پر بنسټ ولاړو معلوماتو راټولول، څېړنه او څېړول د موجودو سرچینو، د خدمتونو د وړاندې کوونکو او ملي هڅو په تړاو د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګـړو د اړتیـاؤ او وړتیاؤ په باب چې د غونچه ییزو مهماتو کنوانسیون، د ماینونو د مخنیوی تړون او د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسیون له احکامو سره مطابقت ولري.
- له قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو سره د مرستې لپاره د وضعیت، تشو او د ځانګړو، د اندازه کولو وړ، د ترلاسه کیدلو وړ او واقعیت پلوه او په وخت برابرو موخو د څیړنې پر بنسـټ د یوه ملي کاري پلان طرحه کول،
- د نړیوالو مرستو د غوښتنې پر مهال ددې ښودل چې څرنګه له قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو سره د مرستې په تړاو د ملي کاري پلان موخې ترلاسه کولی شي. د ټولـو هغـو ملـي او نړیوالو هڅو یادونه چې پخوا د ورته موخو د ترلاسه کولو لپاره تر سره شوي دي.
- د نادولتي مؤسسو، د معلولیت لرونکو وګړو د مؤسسو او د خدمتونو د وړاندې کوونکو په شان له اړوندو ښکیلو اړخونو سره په ګډه د نړیوالې همکارۍ او مرستو غوښتنه.
- د ماینونو د مخنیوی تړون، د غونچه ییزو مهماتو کنوانسیون او د معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو د کنوانسیون په شان د اړوندو چوکاټونو تصویبول یا ورسره ملحق کیدل ځکه چـې د مالي مرستو د جلبولو د فرصتونو د زیاتیدو لامل ګرځي چې قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي به ورڅخه برخمن شي.

**د هغو هیوادونو او سازمانونو لپاره سپارښتنې چې نړیوالو همکاریو او مرستو ته ژمن دي(۵) (۶) (۷)**

- د روغتیاپالنې، زده کړې، پیاوړي کولو او بشرپالو مرستو په څیر په پراختیایي فعالیتونو کی له قربانیانو سره د مرستو له اړخ لګولو څخه ډاډ ترلاسه کول. په ورته وخت کې، تر هغه وختـه چې له قربانیانو سره مرسته په عمومي بودجه کې شامله شوې نه وي د بودجوي خنډ د رامنځ ته کیدو د مخنیوي لپاره د ماین پاکۍ لپاره د ځانګړې شوې بودجې د یوې برخې په توګه لـه قربانیانو سره د مرستو د فعالیتونو په پرلپسې توګه تمویلول. له قربانیانو سره د مرستې د فعالیتونو تمویلول باید آن وروسته له هغې چې یو هیواد له ماینونو او غونچه ییزو مهماتو څخه پـاک اعلان شي هم تر هغې دوام ولري چې د قربانیانو د ژوند کیفیت د ټولنې د نورو وګړو د ژوند له کیفیت سره یوشان شي.
- ډاډ ترلاسه کول چې ټولې تمویل شوې پراختیایي هڅې معلولیت شموله وي. د هغو نویو او تجربه لرونکو کارکوونکو روزل چې له قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو سـره د مرسـتې د پروژو او فعالیتونو د تمویل د غوښتنلیکونو د کتنې دنده پر غاړه لري.
- په ټولو سکتورونو کې د نړیوالو همکاریو او مرستو له ترلاسه کوونکو څخه غوښتل څو معلومات ورکړي چې کوم تدابیر به ونیسي ترڅو ډاډ ورکړي چې پراختیایي مرستې به یې معلولیـت لرونکي وګړي هم راونغاړي ترڅو قربانیان او معلولیت لرونکي وګړي هم د نورو په شان ورڅخه برخمن شي.
- په اغیزمنو شویو هیوادونو کې اړتیاؤ او تشو ته ځواب ویل او د انعطاف لرل د هغو څانګو په ګډون چې لږ بودجه ترلاسه کوي لکه رواني روغتیا، د رواني ملاتړ پـروژې، د قربانیـانو او معلولیت لرونکو وګړو د مؤسسو او د ملي چارواکو د وړتیاؤ لوړول په منځ مهاله او اوږدمهاله توګه.

**نړیوالو همکاریو او مرستو ته د ژمنو هیوادونو او سازمانونو او د زیانمنو شویو هیوادونو لپاره سپارښتنې**

- د منل شویو کړنو او ترلاسه شویو تجربو ثبت او څیړول په دې اړه چې څرنګه نړیوالو همکاریو او مرستو له قربانیانو سره د مرستو د ملي هڅو ملاتړ کړی دی، البته د هغو اسـتراتیژیو پـه ګډون چې له قربانیانو سره مرستې له هغو فعالیتونو سره نښلوي چې د معلولیت، پراختیا او د بشري حقوقو د عمومي هلو ځلو د یوې برخې په توګه ترسره کیږي.
- له معلولیت لرونکو وګړو سره سلامشورې او د رهبرۍ د لیکو په ګډون په ټولو لیکو کې د هغوی په دنده ګومارل. د داسې کسانو په دنده ګومارل چې له قربانیانو او ملولیـت لرونکـو وګړو سره د مرستې په برخه کې ځانګړې مسؤولیتونه ولري. دغه کسان باید د پریکړو او د بودجې د تخصیص د تر نفوذ لاندې راوستلو د واک درلودونکي وي.
- په ټولو څیړنو، د معلوماتو راټولولو او د پراختیایي پروګرامونو په څارنه او ارزونه کې باید معلومات د جنس، معلولیت او سن په تفکیک راټول شي.
- ډاډ ترلاسه کول چې د قربانیانو اړتیاوې او وړتیاوې په رسمیت وپیژندل شي او اړوندې هڅې د راتلونکو پراختیایي او بشرپاله مرستو په ډګر کې دوام ولري.
- د منل شویو کړونو په باب د سیمه ییزو او دوه اړخیزو راکړو ورکړو لوړول د استراتیژیکو همکاریو د یوه مهم عنصر په توګه.
- د ماینونو د مخنیوی تړون او یا د غونچه ییزو مهماتو د کنوانسیون د غړیو هیوادونو لپاره، د اوومې مادې له مخې راپور ورکول په دې اړه چې څرنګه له قربانیانو سره د مرسـتې نړیـوالې همکارۍ او مرستې د معلولیت، پراختیا او بشري حقوقو د استراتیژۍ ګانو لپاره ګټورې واقع کیږي او مدغمیږي؛ او څرنګه دغه همکاري ګانې د موجودو او د لاسرسي وړ خدمتونو د یوه ټولشموله سیستم په وده او همدارنګه د قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو د ژوند د کیفیت په لوړوالي کې رول لوبوي.

## له قربانیانو سره د مرستې د نړیوالو همکاریو بیلګه

**پروژه:** هندیکپ نړیوالې مؤسسې له ۲۰۰۹ څخه تر ۲۰۱۲ کال پورې یوه څلور کلنه پروژه پلې کړه. دغې پروژې جنوب ختیځـه آسـیا، منځني ختیځ، مرکزي او ختیځې افریقا او مرکزي آسیا کې له قربانیانو سره د مرستې له **جنوب څخه جنوب ته همکارۍ پیاوړې کړې**. لـه قربانیانو سره د مرستې څلور سیمه ییز ورکشاپونه له قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو سره په پراخه توګه د مرستې په اړه د پوهې د کچې د لوړولو، په دې اړه د پوهې د زیاتولو لپاره چې څرنګه کولی شو له قربانیانو او معلولیت لرونکو وګړو سره د مرستې په باب یو ملي کـاري پلان جوړ کړو، او د منل شویو کړنو او د اغیزمنو شویو هیوادونو او تمویل کوونکو هیوادونو ترمنځ پر فرصتونو باندې د پانګونې پـه اړه د خبرو اترو د یوه فرصت د برابرولو په موخه جوړ شول. په دغو ورکشاپونو کې د سیمې **ټولو ښکیلو لورو**، یعنې له ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو څخه د زیانمنو شویو هیوادونو د وزارتونو او د ماین پاکۍ مرکزونو استازیو؛ نړیوالو همکاریو ته د ژمنو هیوادونـو استازیو، سیمه ییزو سازمانونو، د معلولیت لرونکو وګړو او قربانیانو مؤسسو، د سره صلیب نړیوالې ټولنې، د ملګرو ملتونـو ادارو، د کـار نړیوال سازمان،ITF، GICHD، ICBLاو CMC ګډون وکړ. دغه سیمه ییز ورکشاپونه په بنکاک، عمان، نایروبي، دوشنبه او وینتیان کې جوړ شول.

**نړیوالې همکارۍ:** الف. بودجه: د فرانسې له خوا د مدني ټولنې د مؤسسو د پیاوړتیا لپاره د یوې ځانګړې بودجې څخـه، او د فرانسـې د پراختیایي ادارې (AFD) له خوا؛ د ناروې له خوا د دغه هیواد د بهرنیو چارو وزارت له خوا؛ د اروپا د اتحادیې له خوا د تعلیم او تحصیل د پراختیایي بودجې څخه برابره شوه.

**د پروژې پایلې:** + په عراق کې د همسیالانو له خوا د ملاتړ پراختیا، + د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو له قربانیانو او نورو معلولیت لرونکو وګړو سره د مرستې لپاره د راتلونکي ملي استراتیژیک پلان په طرحه کولو کې د دنمارک د مهاجرت ټولنه (DRC) د مدني ټولنې پیاوړی ګډون: ۲۰۱۰ – ۲۰۱۲. + د معیشت په هکله د لاوس، ویتنام او کمبوډیا ترمنځ راتلونکې راکړې ورکړې.




© Kilian Munch

د غونچه ییزو مهماتو د کنوانسیون د
لاسلیک کولو کنفرانس، اوسلو، د ۲۰۰۸ کال د دسامبر دریيمه.


**اخځلیک:**

(1) ICBL-CMC. *Landmine and Cluster Munition Monitor.* 2012 | (2) (7) GICHD. *Assisting Landmine and other ERW Survivors in the Context of Disability, Development and Disarmament.* 2011 | (3) Emails from Firoz Alizada, of the Board of Directors of ALSO. 2013 | (4) Emails from UNMACC staff. 2013 | (5) European Disability Forum. *Policy Paper Disability and Development Cooperation.* 2002 | (6) IDDC. *A guidance paper on Inclusive Local Development Policy.* 2009; AusAID. *Development for All: Towards a disability-inclusive Australian Aid program 2009-2014.* 2008; JICA. *Thematic guidelines on disability.* 2009; Norwegian Agency for Development Cooperation. *Report on Mainstreaming Disability in Development Cooperation.* 2011; SIDA. *Human Rights for People with Disabilities: SIDA's plan for work;* World Bank. *Disability and International Cooperation and Development: A Review of Policies and Practices.*


HANDICAP INTERNATIONAL

## د مخففاتو شرحه

ADA: د آستراليا پراختيايي اداره

AFD: د فرانسې پراختيايي اداره

AusAid: د آستراليا د نړيوالې پراختيا اداره

BMZ: د آلمان د اقتصادي همکارۍ او پراختيا فدرال وزارت

CBR: ټې ټولنه  په مرسته بيارغونه

CIDA: د کانادا د نړيوالې پراختيا اداره

CCM: د غونچه ييزو مهماتو کنوانسيون

CMC: د غونچه ييزو مهماتو ائتلاف

CMVIS: د کمبوډيا د ماينونو او مهماتو د قربانيانو معلوماتي سيستم

CPI: د کليير پتهـ نړيواله مؤسسه

CRDP: د معلوليت لرونکو وګړو د حقوقو کنوانسيون

CwD: معلوليت لرونکي ماشومان

DFID: د بريتانيا د نړيوالې پراختيا اداره

DGDC: د بلجيم د پراختيايي همکاريو عمومي رياست

DPO: د معلوليت لرونکو وګړو ټولنه

ERW: له جګړې څخه پاتې چاوديدونکي توکي

GDP: کورنی ناخالص توليد

GICHD: د بشرپاله ماين پاکۍ لپاره د ژنيو نړيوال مرکز

HI: هنديکپ نړيواله مؤسسه

ICBL: د ماينونو د مخنيوی نړيوال کمپاين

ICRC: د سره صليب او سرې مياشتې نړيواله کميټه

IDDC: د معلوليت او پراختيا نړيوال کنسرسيوم

ILO: د کار نړيوال سازمان

ITF: د پيسو نړيوال صندوق

IMSMA: د ماين پاکۍ لپاره د معلوماتو د مديريت سيستم

JICA: د جاپان د نړيوالو همکاريو اداره

LDPA: د لاو د معلوليت لرونکو وګړو مؤسسه

MAA: د ماين پاکۍ اداره

MAC: د ماين پاکۍ مرکز

MBT: د ماينونو د مخنيوی تړون

MDGs: زرکلنې پراختيايي موخې

NGO: نادولتي مؤسسه

NORAD: د ناروې د پراختيايي همکاريو اداره

OECD: د اقتصادي مرستو او پراختيا اداره

OSI: د پرانيستې ټولنې انستيتوت

PwD: معلوليت لرونکی وګړی

SIDA: د سويډن د نړيوالې پراختيايي همکاريو اداره

UNESCAP: د آسيا او اقيانوسيه سيمې لپاره د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنيز کميسيون

UNDP: د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام

UNESCO: د ملګرو ملتونو تعليمي، علمي او فرهنګي سازمان

UNMACC: د ملګرو ملتونو د ماين پاکۍ چارو د همغږۍ مرکز

USAID: د امريکا د متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيا اداره

VA: له قربانيانو سره مرسته

WHO: نړيوال روغتيايي سازمان

WRA: د ماين پاکولو او د وسلو د کمښت دفتر

هنديكپ نړيوال فدراسيون

14 avenue Berthelot
69361 Lyon Cedex 07
Tél. : +33 (0) 4 78 69 79 79
Fax : +33 (0) 4 78 69 79 94
www.handicap-international.org

فرانسه – ليون

16 rue Etienne Rognon
69363 Lyon Cedex 07
Tél. : +33 (0) 4 72 72 08 08
Fax : +33 (0) 4 26 68 75 25
info@handicap-international.fr
www.handicap-international.fr

آلمان

Ganghofer str. 19
80339 München
Tél. : +49 (0) 89 54 76 06 00
Fax : +49 (0) 89 54 76 06 20
kontakt@handicap-international.de
www.handicap-international.de

فرانسه – پاريس

(Representative Office)

104-106 rue Oberkampf
75011 Paris
Tél. : +33 (0) 1 43 14 87 00
Fax : +33 (0) 1 43 14 87 07

بلجيم

67 rue de Spa
1000 Bruxelles
Tél. : +32 (0) 2 280 16 01
Fax : +32 (0) 2 230 60 30
info@handicap.be
www.handicap-international.be

لوګزامبورګ

140 rue Adolphe Fischer
1521 Luxembourg
Tél. : +352 42 80 60 - 1
Fax : +352 26 43 10 60
contact@handicap-international.lu
www.handicap-international.lu

کاناډا

1819 boulevard René-Lévesque Ouest
Bureau 401
Montréal (Québec) H3H 2P5
Tél. : +1 514 908 2813
Fax : +1 514 937 6685
info@handicap-international.ca
www.handicap-international.ca

بريټانيا

27 Broadwall
London SE1 9PL
Tél. : +44 (0) 870 774 3737
Fax : +44 (0) 870 774 3738
info@hi-uk.org
www.handicap-international.org.uk

د امريكا متحده ايالتونه

Suite 240 - 6930 Carroll Avenue
Takoma Park, MD 20912
Tél. : +1 301 891 2138
Fax : +1 301 891 9193
info@handicap-international.us
www.handicap-international.us

سويس

Avenue de la Paix 11
1202 Genève
Tél. : +41 (0) 22 788 70 33
Fax : +41 (0) 22 788 70 35
contact@handicap-international.ch
www.handicap-international.ch


HANDICAP INTERNATIONAL

NORWEGIAN MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS


دغه معلوماتي پاڼې د ناروې هيواد د بهرنيو چارو وزارت په مالي مرسته جوړې شوې دي. د دغو معلوماتي پاڼو د منځپانګې مسؤوليت يوازې او يوازې د هنديكپ نړيوالې مؤسسې پر غـاړه دی او پـه هيڅ صورت د ناروې هيواد د بهرنيو چارو وزارت د موقف ښكارندويه نده.